# د کنټرول او نفوذ درک کول:

## د کوکنارو کښت او مالیات مورته د افغانستان د دولت د واکمنۍ په اړه څه وايي؟

ډیویډ منسفیلد

زمری ۱۳۹۲

څیړنې د ښه افغانستان لپاره
AREU

۱۵ کاله
باکیفیته څیړنه

EUROPEAN UNION









د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد

څېړنپاڼه

# د کنټرول او نفوذ درک کول:

# د کوکنارو کښت او مالیات موږ ته د افغانستان د دولت د واکمنۍ په اړه څه وايي؟

ډیوید منسفیلد

زمری ۱۳۹۲

هغه نظریات چې په دغه څېړنه کې وړاندې شوي په لیکوال پورې اړه لري او د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د نظریاتو منعکس کوونکې ندي.


| | |
|---|---|
| ISBN: | ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۲۸-۹۰-۸ |
| د خپرونې کوډ | P ۱۷۲۴ |
| ژباړه | داکتر نظام الدین کتوازی |



© ۱۳۹۵ د خپراوي حقونه د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې (AREU)

یوازې د سوداګریزو موخو لپاره په نورو لیکنو کې د دغې خپرونې نکل او یادونه کېدای شي یا له سره تولیدېدای شي او په دې شرط چې د خپرونې د لیکوالانو او سرچینې نومونه په کې یاد شي. په دې خپرونه کې څرګند شوي نظرونه د لیکوالانو دي او حتمي نه ده چې د AREU د نظرونو استازیتوب وکړي. ځینې حقونه یې خوندي دي. کومو ځایو کې چې دغه خپرونه بیا وړاندې کېږي، ساتل کېږي یا په الیکترونیکي ډول لېږدول کېږي نو هلته باید د www.areu.org.af (AREU) وېبپاڼه لینک ورکړل شي. له دغو اجازو پرته د خپرونې بل هر ډول کارولو لپاره باید په لیکلې بڼه له مرستیالو خپرونکو، افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره AREU څخه اجازه واخیستل شي. اجازه د دغه ایمیل: areu@areu.org.af یا دې شمېرې ۹۳۰۲۰۲۲۱۲۴۱۵+ له لارې لاسته راوړلی شئ.

# د لیکوونکي په اړه:

ډیویډ منسفیلد د لندن د اقتصاد د کالج د مدیره هییت یو جګپوړی غړی دی. ده په افغانستان کې د ۲۰ پرله پسې کلونو لپاره د کلیوالي معشیت او د کوکنارو د کښت په اړه، د کښت په موسمونو کې څېړنې کړې دي. دی په لندن کې د افریقایي او اسیایي مطالعاتو له پوهنځي څخه د پرمختګ په چارو کې PhD لري او د په شګو ولاړ یو دولت: تریاکو افغانستان څنګه کمزوری کړ د کتاب لیکوونکی دی. ډیویډ له ۲۰۰۵ څخه راهیسې د AREU لپاره کار کړی دی.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري (AREU) په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په کابل کې د څېړنې یو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲م کال په افغانستان کې د نړیوالی ټولنې له خوا جوړ شو. د افغانستان د څیړنی او ارزونی واحد موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کیفیت او په پالیسی پوری اړوند څیړنی برابرول او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پایلو نشرول او همداسی د شواهدو پر بنسټ د څېړنې او زده کړې د کلتور خپرول دی. د پنسیلوانیا دپوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په افغانستان کی د یوو څیړنیز بنسټ په توګه دلوړ مقام لرونکی دی او په منځنی آسیا کی د څیړنیزو بنسټونو په منځ کی په شپږم کچه کی ځای لری. د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد د خپلې موخې دلاسته راوړلو لپاره د پالیسیو جوړونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد له څېړنو او کتابتونه کار واخلي او د څېړنې په برخه کی خپله وړتیا لوړه کړي او د نظریاتو د څرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د څیړنی او ارزونی واحد د مشرانو د بورډ لخوا چی د مرستندویه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، ځینی نوروسازمانونو، مدنی ټولنی او دخپلواکو کارپوهانو استازی په کی شامل دی، اداره کیږی.

**تمویلونکی:**

د دی اداری تمویلونکی د سویډن نړیواله انکشافی اداره (SIDA) او لاندی نور نړیواله بنسټونه دی:

The European Commission (EC), United States Institute of Peace (USIP), Norwegian Institute of International Affairs (NUPI), Overseas Development Institute (ODI-UK), Promundo (US), Sustainable Development Policy Institute (SDPI), Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC), Institute of Development Studies (IDS) and Swiss Agency for Development and Cooperation(SDC), School of Oriental and African Studies (SOAS), Economic and Social Research Council United Kingdom (ESRC-UK) and South Asian Association for Regional Cooperation (SAARC).

همدا راز دا اداره د لاندی نړیوالو بنسټونو غړیتوب هم لری:

Resolve Network,Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), Global Challenges research Fund (GCRF), A Conflict Sensitive Unpacking of The EU Comprehensive Approach to Conflict and Crisis Mechanism (EUNPACK)

# سریزه

د افغانستان د څیړنې او ارزونې واحد د یوه خپلواک، بې پلوه او څېړنیز سازمان په څېر په دې زور اچوي چې ټولې راغونډ شوې او تحلیل شوی موندنې باید د کیفیت د کنټرول دقیق معیارونه پوره کړي، مخکې له دې چې هغه بېلا بېلو لوستونکو او مینه والو ته ولېږل شي. موږ هڅه کوو دغه معلومات او ارقام په سیده او ښکاره توګه ولېږدوو څو لوستونکی وکولای شي په خپله پایلو ته ورسیږي. په دغه راپور کې برخه اخستنه د AREU لپاره په ځانګړي ډول ځکه په زړه پورې و چې لیکنه یوه بې سارې امتحاني څېړنه رانغاړي.

دغه څېړنه په افغانستان کې د تر ټولو ننګوونکو سیمو په **۳۲** ساحو کې له کلیوالو مرکه ورکوونکو سره په ژورو راغونډ شویو څېړنو او همدارنګه د فضایي تصویرونو په کره تحلیل تکیه کوي.

د دغو دوو میتودونو یو ځای کول په دې هکله ډېرې په زړه پورې معلومات برابری کړي چې د دولتي او نادولتي فعالینو د نفوذ په منځ کې د پېچلتیاوې تشخیص کړای شي. موږ هیله من یو چې دغه لیکنه به نورې مباحثې وپاروي، ډیالوګ به پیل کړي او داسې مباحثې به وهڅوي چې په پالیسي کې د اصلاحاتو سبب وګرزي او د ټولو لپاره یو ښه افغانستان تضمین کړي.

په درناوې



**ډاکټر اورځلا نعمت**

د افغانستان د څیړنې او ارزونې واحد ریسه

# د موضوعاتو ليکلړ


سريزه.......... ج

مننه.......... و

د ليکنې لنډيز.......... ۱

۱. کنټرول او نفوذ: د دې معنی څه شی ده او څنګه اندازه کېدای شي؟.......... ۴

۱.۱ د تعريفونو او معيارونو نقد:.......... ۵

۲. د ترياکو کښت: دغه کښت موږ ته د دولت د نفوذ په هکله څه وايي؟.......... ۷

۲.۱ په ختيځ کې د يوې خوا ته پانګې او بلې خوا ته پرانګ: ننګرهار.......... ۸

۲.۲ په شمال لويديځ کې د کښت پراختيا: بادغيس.......... ۱۴

۲.۳ په شمال کې د کوکنارو د کښت زياتوالی: بلخ.......... ۲۳

۲.۴ په جنوب او جنوب غرب کې يو موقتي سکوت: هلمند او فراه.......... ۲۷

۳. ماليات: ماليات د ياغيانو د نفوذ په اړه موږ ته څه وايي؟.......... ۳۴

۳.۱ ياغيان، مخدره توکي او ماليات.......... ۳۴

۳.۲ بې نظمي او ګډوډي.......... ۳۶

۳.۳ له ترياکو څخه پرته نور ماليات.......... ۳۷

۳.۴ پرداختن پول به اساس ماليه در حال توسعه است.......... ۴۰

۴. په افغانستان کې د نفوذ د تخمينولو نبې طريقې.......... ۴۵

۵. پايله:.......... ۴۹

اخځليکونه:.......... ۵۱


# جدولونه


۱ جدول: په مارجه او نادعلي ولسواليو کې د طالبانو له خوا راټول شوي عوايد ، هلمند.......... ۴۰

۲ جدول: د بکواه په ولسوالی، فراه کې د طالبانو له خوا راټول شوي عوايد ، ۲۰۱۷.......... ۴۲


# بکسونه


بکس۱: ميتودولوژيکی توپيرونه.......... ۱۲

# ګرافونه

۱ شکل: د نفوذ او کنټرول اندازې، منبع: په افغانستان کې د امریکا پوځي ځواکونه "د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی مفتش: د امریکا د متحده ایالاتو کانګرس ته درې میاشتنی راپور: جولای "۸۸ ...... ۲
۲ شکل: په افغانستان کې د کوکنارو کښت، ۱۹۹۹ تر ۲۰۱۷ (هکتار) ...... ۷
۳ شکل: په ننګرهار کې د تریاکو کښت، ۱۹۹۹-۲۰۱۷ (هکتار) ...... ۸
۴ شکل: د خوګیانیی د اولسوالي له مرکز څخه په جنوب کې د تریاکو کښت، ننګرهار ، ۲۰۱۳-۲۰۱۷ ...... ۱۰
۵ شکل: په خوګیانیو کې د کوکنارو حاصلات، ننګرهار، اپریل ۲۰۱۷ ...... ۱۳
۶ شکل: په بادغیس کې د کوکنارو کښت ۱۹۹۹-۲۰۱۷ (هکتار) ...... ۱۵
۷ شکل: پ فاریاب کې د کوکنارو کښت ، ۱۹۹۹-۲۰۱۷( هکتار) ...... ۱۵
۸ شکل: په جوزجان کې د کوکنارو کښت ۱۹۹۹-۲۰۱۷ (هکتار) ...... ۱۵
شکل ۹: کشت کوکنار در سرپل، ۱۹۹۹- ۲۰۱۷ ...... ۱۵
۱۰ شکل: په بادغیس کې د کرنیزې ځمکې په اندازه کې بدلون، ۲۰۰۷-۲۰۱۷ ...... ۲۱
۱۱ شکل: د بادغیس ولایت بالامرغاب اولسوالي کې د کوکنارو کښت تصویر ...... ۲۲
۱۲ شکل: په بلخ کې د کوکنارو کښت ...... ۲۴
۱۳ شکل: د بلخ ولایت، چمتال اولسوالی کې د کوکنارو په کښت کې بدلونونه، ۲۰۱۳-۲۰۱۷ ...... ۲۲
۱۴ شکل: د بلخ اولسوالی، بلخ ولایت کې د کوکنارو په کښت کې بدلونونه، ۲۰۱۵-۲۰۱۷ ...... ۲۷
۱۵ شکل: د بلخ ولایت چمتال په اولسوالی کې د ملي پولیس اډې ته نژدې د کوکنارو کښت، اپریل ۲۰۱۷ ...... ۲۸
۱۶ شکل: په هلمند کې د کوکنارو کښت، ۱۹۹۹-۲۰۱۷ (هکتار) ...... ۲۹
۱۷ شکل: په کندهار کې د کوکنارو کښت، ۱۹۹۹-۲۰۱۷ ...... ۲۹
۱۸شکل: په فراه کې د کوکنارو کښت ۱۹۹۹-۲۰۱۷ ...... ۲۹
۱۹ شکل: په اوروزګان کې د کوکنارو کښتې ۱۹۹۹-۲۰۱۷ ...... ۲۹
۲۰ شکل: د بولان او لشکرګاه په اولسوالیو کې د کښت په ډولونو کې بدلونونه، هلمند ، ۲۰۰۸ -۲۰۱۷ ...... ۳۲
۲۱ شکل: په شنه جامه، ناد علي اولسوالي کې د کښت په ډولونو کې بدلونونه، هلنمد ، ۲۰۰۸-۲۰۱۷. ...... ۳۳
۲۲ شکل: ساحه و نفوس تحت سطوح مختلف نفوذ حکومت در ننگرهار در ماه اپریل ...... ۴۷
۲۳ شکل: ساحه تحت سطوح نفوذ حکومت در ولسوالی اچین، ننگرهار، اپریل، ۲۰۱۷ ...... ۴۸
۲۴ شکل: ساحه تحت سطوح نفوذ حکومت در ولسوالی سرخرود، ننگرهار، اپریل، ۲۰۱۷ ...... ۴۹

## مننه:

د دوامداره پرمختګ او څېړنې د سازمان (OSDR) له همکارانو او د Alcis له شرکت څخه مننه کوو چې د دې راپور په لیکنه کې یې ارزښتناکې مرستې کړې دي.OSDR د افغانستان په ځینو ستونزمنو کلیوالي سیمو کې اوس هم داسې څېړنې برابروي چې د کیفیت له مخې ډېرې لوړې دي. زه نور داسې څېړونکې نه پېژنم چې په دې کچه ژور او باکیفیته څېړنې په ډېرو سختو شرایطو کې وړاندې کړي لکه OSDR چې یې کوي. د تصویرونو د تحلیل او د جغرافیایي ساحې د ارقامو ارزښت چې په Alcis شرکت کې د مارټ هنګلر، ټیم بکلي، لیزه مورن او د دوی د ټیم له خوا تهیه شوي هم بې مثاله دي. د دغو دوو سازمانونو سره په همکارۍ کې ممکنه ده چې د لوړ کیفیت تصویرونه له ژورو څېړنو سره یو ځای کړو او د افغانستان په کلیوالي سیمو کې د پېچلو کارونو په اړه د اثبات وړ ارقام او ژورې پېژندنې تهیه کړو.

دغه راز مهمه ده چې له جانګ کالینز، پول فشتاین، جانه تان ګوډ هینډ، ګران هیواد، اورځلا نیامت ، غلام رسول او مات روبین څخه مننه وکړو چې د دغه راپور لومړنیو مسودو لپاره یې خپلې تبصرې ورکړې دي. دوی دغه لیکنه بیا کتلې ده او خپلې ارزښتناکې تبصرې یې ورکړې دي چې موږ یې ډېر مننددوی یو. زه د هرې نیمګړتیا لپاره چې په دې راپور کې شته بخښنه غواړم. دا یوازې زما مسوؤلیت دی.

# مخففات او لنډ نومونه

| | |
|---|---|
| ANDSF | افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونه |
| ATFC | د افغانستان د تهديدونو مالي سلول |
| ENTCOM | مركزي قومانده |
| CIA | د اطلاعاتو مرکزي اداره |
| CN | د مخدره توکو ضد |
| DoD | د دفاع وزارت |
| FTE | د ټول وخت برابر |
| GDP | ناخالص داخلي توليد |
| GIRoA | د افغانستان د اسلامي جمهوريت حکومت |
| GIS | د جغرافيا معلوماتي سيستم |
| GLE | د حکومت په مشرتابه محوه کول |
| IED | ځای پر ځای شوي چاودېدونکي توکي |
| INL | بين المللي مخدره توکي او حقوقی چارې |
| MCN | د مخدره توکو سره د مبارزې وزارت |
| MOAB | د قوي مهماتو چاودنه ( د ټولو بمونو مور) |
| NATO | د شمالي اتلانتيک د پيمان سازمان |
| NUG | د ملي وحدت حکومت |
| OSDR | د پايدار پرمختګ او د څېړنې د سازمان اداره |
| PDPA | د افغانستان د خلکو ديموکراتيک ګوند |
| RPG | د ټانک ضد راکټ |
| SRAP | د افغانستان او پاکستان لپاره ځانګړی استازی |
| UNDCP | د ملګرو ملتونو د مخدره توکو د کنټرول پروګرام |
| UNODC | د مخدره توکو او جرمونو سره د مقابلې لپاره د ملګرو ملتونو د سازمان دفتر |
| USAID | د بين المللي پرمختګ لپاره د امريکا د متحده ايالاتو اداره |
| USFOR-A | په افغانستان کې د امريکا د متحده ايالاتو ځواکونه |
| USG | د امريکا د متحده ايالاتو حکومت |

## ډکشنري:

| | |
|---|---|
| جريب | د اندازې يو معيار دی چې د يو هکتار له ۵/۱سره برابر دی. |
| کاريز | د ځمکې لاندې کانال |
| خيرات | له غريبانو سره مرسته |
| کومک | مرسته |
| ليکه | د ځمکې د مالکيت يو سيستم دی په خاص ډول د جنوب په دښتي سيمو کې رواج لري. |
| ملک | يو رسمي لقب دی چې د حکومت له خوا يوه فرد ته ورکول کيږي ځوک چې د افغانستان د دولت او محلي ټولنو تر منځ د استازي په ډول فعاليت کوی. |
| رشوت | رشوت |
| عشر | يوه اسلامي وجيبه ده چې د کرنيزو توليداتو لسمه برخه جوړوي. |
| زهر | زهر |

# د ليکنې لنډيز

يو شمېر سازمانونو هڅه کړې ده چې په افغانستان کې د حکومت د کنټرول ساحې وپېژني.[۱] څرنګه چې دغه مسأله په رسنيو او رسمي راپورونو کې ډېر ځله ذکر شوې ده، دغه ليکنه هغې طريقې ته يوه انتقادي کتنه کوي چې د شمالي اتلانتيک د معاهدې سازمان (ناتو) او په افغانستان کې د امريکا د متحده آيالاتو ځواکونه (USFORA) يې په افغانستان کې د حکومت د کنټرول او نفوذ د سنجش کولو لپاره په کاروي. دغه ليکنه د اوسني روش حدود په هغه چوکاټ کې دننه توضيح کوي چې تر اوسه د ميتودولوجۍ په هکله پېژندل شوی دی. راپور ښيي چې په خلکو يا يوې ساحې باندې د دولت يا ياغيانو د "کنټرول" مفهوم نه يوازې په افغانستان کې د دولت له تاريخي مفهوم سره تصادم کوي بلکې د هيواد په لويو برخو کې له اوسنيو حوادثو سره هم په ټکر کې دی. راپور څرګندوي چې په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو له خوا د "د دولت نفوذ"، "د ياغيانو نفوذ" او "متنازعي" منل شوې کټګورۍ يو بل نه نفي کوي او استدلال کوي چې د ولسواليو په کچه ارزونې په کافي ډول تفصيلات نه وړاندې کوي څو توضيح کړي چې ياغي قوتونه په يوه ساحه څنګه نفوذ غورځوي، په کليوالي ټولنو کې خپل موقف تقويه کوي مخکې له دې چې خپل موقف تقويه او د ولسوالی يا ولايتي مرکز محاصره کړي. راپور د ترياکو او کوکنارو په کښت کې د بدلو طريقو او د ياغيانو له خوا د مالياتو په اخيستلو کې د بدلونونو په اړه له واقعي ارقامو څخه کار اخيستی چې د افغانستان په ډېرو کليوالي برخو کې د حکومت کمزورې ولکه څرګنده کړي. راپور دغه راز د عوايدو په باب هغه درک ننګوي چې د ترياکو د کښت له توليد څخه د طالبانو لاس ته ورځي. راپور په خلکو او خاوره باندې د دولت او غير دولتي برخه والو د نفوذ د ارزونې او پېژندنې لپاره د يوې بديلې ميتودولوجي په معرفي کولو سره ختميږي: دغه ميتودولوجۍ په ښکاره تعريف شويو ځايي شاخصونو چې د سټيلايټ د تصويرونو په ذريعه په ښکاره د پېژندنې وړ دي يا کېدای شي چې په يوه پراخه جغرافيايي ساحه کې په اساني سره راغونډ شي، ولاړه ده. دغه روش په دې ډول راپور په ډېرو برخو وېشي. د ولسوالی په سطحه د ټوليزي ارزونې ترک کول چې په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو له خوا کارول کيږي ضروري ده که چېرې غواړو په مختلفو کچو د حکومت تر ولکې لاندې د خاورې او نفوس دقيقه ارزونه وکړو. دغه روش له دې پلوه هم مهم دی که غواړو د تشخيص وسيله ولرو چې کومې ساحې د حکومت له ولکې څخه د وتلو لپاره تر ټولو زياتې اسيب پزيره دي. اوس مهال د ناتو د بيانونو له مخې د افغانستان دولت په اکثريت خلکو باندې نفوذ لري. د دغه کال په مارچ کې دوی راپور ورکړی چې د افغانستان د اسلامي جمهوريت حکومت د ټولو څلوردېرش ولايتونو ولايتي مرکزونه او **۴۰۷** د ولسواليو مرکزونه تر ولکې لاندې لري چې له دې جملې **۱۱** د ولسواليو مرکزونه د حکومت له کنټرول څخه بهر دي.[۲] د دې ارزونې له مخې د افغانستان اسلامي جمهوريت حکومت په **۵۹،۷** سلنه نفوس باندې "کنټرول" يا "نفوذ" لري. د دې په مقايسه شورشيانو يوازې **۱۱** فيصده نفوس تر خپل "کنټرول" يا "نفوذ" لاندې درلودل.[۳] د افغانستان د اسلامي جمهوريت د ځواکونو او د ياغيانو په منځ کې "بن بست"[۴] چې جنرال نيکلسن، د ناتو او په افغانستان کې د امريکا د ځواکونو قومندان ناهيلی کوي، په هغه ساحه کې ښودل شوی چې په افغانستان کې د امريکا ځواکونه يې "متنازعې" ساحې تعريفوي- د خاورې **۲۱** سلنه چېرې چې **۲۵٪**د ټول نفوس ژوند کوي- او چېرې چې نه طالبان نه حکومت برلاسه دي.[۵] د جنرال نيکلسن له خوا د افغانستان د اسلامي جمهوريت د حکومت لپاره ډېر لوړ ټاکل شوې هدف دا دی چې په ځينو ساحو کې خپل موجوديت پراخ کړي او له **۲۰۱۹** کال څخه د مخه د افغانستان دومره ساحه تر خپلې ولکې لاندې راولي چې ۸۰٪ خلک پکې ژوند کوي.[۶]

---

۱ په دې کې د جګړو او طالبانو د څېړنې انستيتوت شامليږي. وګورئ د جګړو د څېړنې انستيتوت. "د افغانستان د تهديدونو ارزونه، نوومبر ۲۲، ۲۰۱۲." http://www.understandingwar.org/sites/default/files/ISW%20Threat%20Partial%20Afghanistan%20November%20 Assessment_1_0.pdf. 22 November 2012 (accessed 19 August 2017). او د اوږدې جګړې ژورنال. "دافغانی طالبانو له خوا لست، "د مجاهدينو تر کنټرول لاندې د هيواد د خاورې فيصدي. http://www.longwarjournal.org/archives/2017/03/afghan-taliban-lists-percent-of-country-under-the-control-of-mujahideen.php. 28 March 2017 (accessed 19 August 2017).

۲ سيګار، "د افغانستان د بيا ودانونې لپآره ځانګړی پلټونکی: د امريکا د متحده ايالاتو د کانګرس لپاره درې مياشتی راپور." https://www.sigar.mil/pdf/quarterlyreports/2017-07-30qr.pdf. 30 July 2017 (accessed 19 August 2017), 88.

۳ سيګار، "د افغانستان د بيا ودانونې لپآره ځانګړی پلټونکی: د امريکا د متحده ايالاتو د کانګرس لپاره درې مياشتی راپور:"

۴ ګوردون ميشايل، "امريکايي جنرال په افغانستان کې د څو زرو نورو سرتېرو لپاره په لټه کې دی." https://www.nytimes.com/2017/02/09/us/politics/us-afghanistan-troops.html. 9 February 2017 (accessed 19 August 2017).

۵ سيګار، د امريکا د متحده ايالاتو د کانګرس لپاره درې مياشتنی راپور.

۶ د امريکا د متحده ايالاتو د دفاع وزارت، "په افغانستان کې د امنيت او ثبات ټينګښت." https://www.defense.gov/Portals/1/Documents/pubs/June_2017_1225_Report_to_Congress.pdf. 1 June 2017 (accessed 19 August 2017), 2.

څرنگه چې دغه ارزونې ډېر ځله په رسنيو او رسمي راپورونو کې ذکر شوې دي،[۷] نور شاخيصونه په افغانستان کې د ځواکونو د پراختيا يو خوشبينانه بيان ورکوي، په خاص ډول په هغو ساحو کې چېرې چې د حکومت ولکه ډېره کمه ده. هغو ساحو ته د ترياکو راگرځېدل چېرې چې يو ځلې په قطعي ډول منع شوي و څرگندوي چې د افغانستان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو (ANDSF) جبري قوه څومره محدوده شوې ده. د لويو لارو په اوږدو او د ولسواليو په مرکزونو کې او په ښکاره ډول د پوځي اډو په څو متري کې د ترياکو د کښت پراختيا د ملي، ولايتي او ځايي چارواکو يو تصوير وړاندې کوي څوک چې نور د دې توان نه لري چې خلک د ترياکو له کښت څخه منع کړي لکه څنگه چې يو وخت په دې قادر و. په ډېرو قضيو کې حتی دوی د دې توان هم نه لري چې له ځايي ټولنو سره مذاکرې وکړي او د تهديد او کومکونو د ژمنو په ميتود سره هغوی د ترياکو د کښت د کمولو لپاره وهڅوي. دغه روش د ناتو د مرستو د غوښ ملاتړ ماموريت (RS) [۸] څخه د مخه په کار لوېدلی و. په اوسنيو شرايطو کې د ترياکو د کښت تخريب يوه ظاهري بڼه لري. دا د چارواکو، د ځايي نخبه گانو او د کروند گرو تر منځ موافقه چې په نتيجه کې يې د څو جريبونو[۹] په ويجاړه کرونده کې د بې خونده کرل شويو ترياکو تخريب د ملي او بين المللي حمايت گرانو د "سياسي ارادې" سمبول دی. دغه تخريب په عيني وخت کې د ځايي خلکو لپاره "د ويديويي ښوونې" په څېر برابرېږي. د ولسوالي د مرکز په شاو خوا کې په کليوالي سيمو کې چېرې چې د افغانستان د اسلامي جمهوريت د حکومت ځواکونه پراته دي د ترياکو د کښت زياتېدل د رسمي احصايو او عيني واقعيتونو په منځ کې د توپير په اړه ډېر څه وايي. چېرې چې په افغانستان کې امريکايي ځواکونه ښايي يوه ولسوالي داسې ارزيابي کړي چې گويا د حکومت تر "کنټرول" يا "نفوذ" لاندې ده او ټول نفوس (په زرهاوو ) او ساحه ( په کلو متر مربع) سره سم طبقه بندي کوي، ځايي خلک هلته حکومت د ولسوالي د مرکز او د ولسوالي په انگړ کې د ننه محصور گڼي. په افغانستان کې د طالبانو په ذريعه د عوايدو راټولول – يا ماليات- د ترياکو کښت ته ورته يو تصوير وړاندې کوي. په دې حالت کې د افغانستان دولت په زياتېدونکې ډول په کليوالي سيمو کې خپله ولکه له لاسه ورکوي. د تادياتو د ډول او د راغونډولو د ميکانيزم په منځ کې توپيرونه د ياغيانو د مداخلې د اندازې په اړه يوه وسيله ده. دغه توپيرونه يوه نقشه ده چې له مخې يې د افغانستان په لېرې پرتو سيمو کې د ياغيانو د ځواک ټينگېدل څرگندېږي. د مداخلې په شروع کې ياغيان ډېرځله د "خيرات" او "خير"[۱۰] په نوم له هغو انفرادي کسانو څخه په زوره پيسې اخلي چې شتمن دي او له حکومت سره اړيکې لري. دغه راز، د موټرونو د تلاشي په پوستو کې له لمر وېده څخه وروسته د پيسو راټولول او همدارنگه د لوی اختر څخه وروسته په ټيټه بيه د اجناسو د رانيولو له لارې ټولونې هم په دې عوايدو کې شامليږي. دغو فعاليتونو ته "جبري ناڅاپي ماليات" ويلای شو چې په ساحه کې همېشني حضور ته اړتيا نه وي. له دغو عوايدو پرته د همېشتنيو تلاشي پوستو په ذريعه په لويو لارو کې او په ښکاره ډول نور عايدات را ټولوي او په دې ډول د ساحې او هلته د مېشتو خلکو په اړه زياته پوهه تر لاسه کوي. د کليو له خلکو څخه هم د مالي مرستو غوښتنه کيږي، په معمول ډول دغه ونډې د کرنيزو محصولاتو په شکل د عشر په نوم راټولوي . کله چې ياغي عناصر په يوه ساحه کې خپل موقف ټينگ کړي بيا په ځمکو باندې خپل ماليات ولگوي. دغه ماليات يا په مستقيم ډول د ځمکو په خاوندانو د ځمکو د اندازې په برابر يا په غير مستقيم ډول د اوبه کولو په وسايلو د مالياتو له لارې راټوليږي. په هره ولسوالي کې دغه ماليات د ځمکو او ترياکو په محصولاتو له مالياتو سره يو ځای راغونډيږي. په عين وخت کې مسجدونه او سوداگر هم د هرې ولسوالي په مرکز کې د صدقې په نوم باج ورکوي. دغه کارونه د يوه اداري واحد په د ننه کې د ياغيانو د مختلفو کچو نفوذ څرگندوي. دغه فعاليتونه او حوادث د کنټرول او نفوذ د تخمين په اوسنيو وسيلو کې نه دي شاملې چې ولسوالی د شننې د يوه واحد په څېر انتخابوي. دغه راپور په جنوبي او جنوب لويديځ افغانستان کې د څېړنې په **۳۲** ساحو کې د کليوالي - اوسيدونکو سره په ژوره څېړنه او په ننگرهار کې په ساحوی کار[۱۱] باندې ولاړ دی چې د **۲۰۱۷** کال د اپريل /می په مياشت کې تر سره شوې.[۱۲] راپور دغه څېړنې له هغو معلوماتو سره چې

۷ سيگار، د افغانستان د بيا ودانونې لپاره د امريکا ځانگړی پلټونکی: د امريکا د متحده ايالاتو د کانگرس لپاره راپور. ۸۸؛ کاميله شيک او مشعل ، مجيب " له طالبانو سره نوساني جگړه په نيول شويو اولسواليو کې ډېر تلفات لري." world/asia//۰۷/۰۸/۲۰۱۷/https://www.nytimes.com afghanistan-taliban-taiwara.html. ۷ August ۲۰۱۷ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷).District.

۸ د غوښ ملاتړ ماموريت د ايساف ځای ناستی دی چې د **۲۰۰۱** په ډسمبر کې پيل شوی و او د **۲۰۱۴** تر ډسمبر پورې يې دوام درلود. د غوښ ملاتړ ماموريت د ناتو د سازمان له خوا رهبري شوی، " روزنې او مرستې ماموريت" دی چې د **۲۰۱۵** په جنوري کې طرح شوی څو د افغان امنيتي ځواکونو سره مرسته وکړي.

۹ جريب د ځمکې د اندازه کولو لپاره يو معيار دی چې د يوه هکتار يو پر پنځمه برخه جوړوي.

۱۰ تاديات يوازې په نغدو نه اجزا کيږي. کالي، خوراکي توکي او وچې ميوې هم طالبانو ته لېږل کيږي.

۱۱ په دې څېړه کې په کورنيو کې له **۳۰۰** مرکه ور کوونکو سره مرکې شاملې دي چې د هلمند ولايت په **۲۰** څېړنيزو ساحو کې د بغرا کانال په شمال او جنوبي برخو کې تر سره شوې. په دې برسېره، د فراه ولايت په بکوا کې له **۸۰** کورنيو سره مرکې شوې دي. نورې مرکې د هرزه بوټو د وژونکو دارو، ډيزلو او د لمريزي انرژي له سوداگرو او هغوکسانو سره وشوې چې دلارام، لشکرگاه، فراه، گرشک او نادعلي په بازارونو کې يې د ژورو څاگانو د کيندلو سامانونه خرڅول.

۱۲ د **۲۰۱۷** په پسرلي کې له مهمو مرکه ورکوونکو سره چې د ننگرهار ولايت د هرې اولسوالی په اړه يې بشپړ معلومات درلودل څېړنه تر سره شوه.

د هلمند [۱۳]، ننگرهار[۱۴]، فراه[۱۵] او بلخ[۱۲] په ولایتونو کې راټول شوي وو یو ځای کوي. څېړنې دغه راز د دغو ولایتونو او د بادغیس[۱۷] ولایت له جیولوژیکی نقشې او شننې سره تړاو لري. دغه راپور د هغو راپورونو له لړ څخه یو دی چې د اروپایي اتحادیې " د تریاکو، اوبو او ځاروېو " د پروژې له خوا تمویلیږي. دغه پروژه د دې لپاره طرح شوې ده چې د افغانستان د حکومت د دونرانو د ټولنې او فعالینو لپاره د پالیسي جوړونې په برخه کې د وسیلې کار ورکړي څو د طبیعي منابعو په درېو بنسټیزو عرصو کې د مدیریت چارې ښې کړي: د ساحې پر بنسټ د تریاکو د کښت د کنټرول ستراتیژي، په ملي کچه د ځمکې لاندې اوبو مدیریت او د کوچیانو او ځایي خلکو په منځ د شخړو مخنیوی. راتلونکي راپورونه به په ۲۰۱۷ کې په مرکزي هلمند کې سیاسي، اقتصادي او اجتماعي انکشافات تر څېړنې لاندې ونیسي او څرگنده به کړي چې د هلمند د خوړو زون او د ۲۰۱۱ او ۲۰۱۳ کلونو په منځ کې د پوځي ځواکونو زیاتېدلو څه اغېزې درلودې. په دویم راپور کې به د جنوب غربي افغانستان په پخوانیو دښتو کې د دایمي مېشتېدنې او د کرنیزو محصولاتو مساله تر غور لاندې راولي.

۱۳ د تاریخي معلوماتو دغه مجموعه له ۳۴۲۰ مرکو څخه جوړه وه چې د اوو کلونو په اوږدو کې هرې شپږ میاشتې وروسته تر سره کېدې او د ۲۰۱۱ کال د مې میاشتې څخه مخکې یې د څېړنې ۲۸ مشخصې ساحې احتوا کړې وې. په دې ساحو کې د بغرا د کانال شمال ته اووه ساحې شاملې وې. د څېړنو لومړۍ دوره د ۲۰۰۷ په نوومبر / ډسمبر کې (N۴۲) تر سره شوه خو یوازې ۷ ساحې یې نیولې وې. دویمه دوره د ۲۰۰۸ کال په نوومبر/ډسمبر (N۹۹) تر سره شوې چې ۱۰ ساحې یې احتوا کولې. درېیمه دوره د ۲۰۰۹ کال په نوومبر/ډسمبر کې (N۱۱۲) کې تر سره شوه او ۱۱ ساحې یې رانغاړلې. څلورمه دوره د ۲۰۱۰ کال په اپریل/ مې کې پیل او (N۷۸) او ۱۱ ساحې یې نیولې وې.۵ دوره د ۲۰۱۰ په نوومبر/ډسمبر کې (N۳۲۰) کې پیل او ۲۳ ساحې یې نیولې وې. له شپږمې دورې د ۲۰۱۱ په اپریل/مې کې (N۴۴۷) د ۲۰۱۳ تر نوومبر/ ډسمبر پورې ۲۸ ساحې تر پوښښ لاندې راغلې وې. اوومه دوره د ۲۰۱۱ په نوومبر/ډسمبر (N۳۷۳) کې وه. ۸ دوره د ۲۰۱۲ په اپریل/مې کې وه (۴۲۲). نهمه دوره د ۲۰۱۲ په نوومبر/ډسمبر (N۴۰۴) کې وه. لسمه هغه د ۲۰۱۳ په آپریل/مې کې وه او یوولسمه دوره د ۲۰۱۳ په نوومبر کې وه (N۴۷۲). د څېړنو وروستۍ دوره له ۱۴۰ ژورو مرکو څهخه جوړه وه چې د ۲۰۱۵ په مې کې یې لس ساحې احتوا کړې وې.

۱۴ د ننگرهار لپاره د تاریخي ارقامو مجموعه له ۷۵ کورنیو سره له ۲۰۱۱ مرکو څخه جوړه شوې وه چې د ۲۰۰۵ تر ۲۰۰۸ پورې بیا له د هر کال په اپریل کې د AREU لپاره تر سره شوې. د معلوماتو وروستۍ دوره د AREU لپاره د ۲۰۱۵ په ډسمبر/۲۰۱۲ په جنوري په ننگرهار کې وشوه. هره دوره د اچین، بټي کوټ، خوگیاڼي، کامې، سرخرود او شینواری اولسوالیو په عین کلیو کې تر سره شوه. د معلوماتو بله مجموعه څېړنې وې چې د برطانیې حکومت لپاره په همدغو اولسوالیو او کلیو کې د ۲۰۰۳ او ۲۰۱۳ کلونو تر منځ د نوومبر/ډسمبر په میاشتو کې تر سره شوې دي. د معلوماتو وروستي مجموعه د DAI لپآره په ولایت کې د دې موسسې د کلیوالي پرمختیا د پروگرام د بیا کتنې د یوې برخې په څېر تر سره شوې او له ۷۵ کورنیو سره مرکې په کې شاملې دي چې په ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کې په همدغو ځایونو کې تر سره شوې او دغه راز نورې ۳۰۰ مرکې له کورنیو په ۲۰ ساحو کې د ۲۰۱۴ په پسرلي او اوړي کې تر سره شوې دي.

۱۵ تاریخي معلومات له ۱۷۰ مرکو څخه جوړه ده چې د ۲۰۱۳ په سپټمبر/ اکتوبر کې په بکوا کې په ۱۲ ساحو کې له بزگرانو سره شوې دي.

۱۲ AREU د ۲۰۰۲-۲۰۰۹، ۲۰۱۱-۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ کې د هر کال په اپریل کې په بلخ کې مرکې کړې دي. دغه مرکې د چاربولک، فراه، چمتال او شولگره اولسوالیو کې شوې دي. دغه راز، د برطانیې حکومت له ۲۰۰۳-۲۰۱۳ پورې په هر نوومبر/ډسمبر کې د کښت موسم کې له څېړنې کړې دي.

۱۷ GIS د Alics د شرکت له خوا تر سره شوه. accessed ) ./https://www.alcis.org ۱۹ August ۲۰۱۷).

# ۱. کنټرول او نفوذ: د دې معنی څه شی ده او څنګه اندازه کېدای شي؟

له ۲۰۰۲ څخه راهیسې د افغانستان د دولت جوړونې د پروژې بریاوې او ناکامي د یو لړ مختلفو شاخصونو په ذریعه شنجول شوې دي. د شاخصونو انتخاب د وخت په تېرېدو سره بدلون موندلی . بدلونونه د تمویلوونکو ملتونو ګټې او اندېښنې، په افغانستان کې د ماموریت د پراختیا او ژوروالي په باب د دوی فهم او دغه راز د شاخصونو د اندازې او تګلارې په باب د دوی ارزونه منعکسوي. د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۲ کلونو په منځ کې د افغانستان د دولت جوړونې د پروژې په فعاله کلونو کې کله چې د ناټو سازمان په دې هیواد کې نه یوازې په امنیتي بخش کې، بلکې ټولنیز- اقتصادي سکتورونو ته خپله بوختیا وغځوله، د اجرااتو په شاخصونو کې هم د اندازه ګیرې د مختلفو ډولونو یو ترکیب راڅرګند شو لکه: په ښوونځیو کې د داخلې شمېر، د نجونو د حاضرۍ شمېر، د ټاکنو په وخت تر سره کول او د هغو پایلې[18] او اقتصادي شاخصونه لکه په داخلی ملي ناخالصو محصولاتو (GDP) او د افغانستان د اسلامي جمهوریت د حکومت په عوایدو کې زیاتوالی[19] راپورونه لکه د افغانستان د خلکو سروې چې د ایشیا فونډېشن له خوا هر کال خپرېږي[20] د اجرااتو په ښوونو کې ډېر څرګند نه دي. د راپورونو له مخې دغه سروې د افغانستان د دولت جوړونې د پروژې په اړه د افغانانو د درک یوه ډېره قوي احصایه څرګندوي او ډېر ځله د دونرانو او رسنیو له خوا په افغانستان کې د مداخلو د بریاوو یا ناکامیو د سنجش لپاره د یو معیار په حیث کارول شوې. [21]

د ۲۰۰۴ او ۲۰۱۰ کلونو د تریاکو د کښت اندازې په ځایي، ولایتي او ملي کچو د اجرااتو د شاخصونو په څېر یادې شوې دي. دغه شاخصونه نه یوازې د افغانستان د حکومت او د دولت جوړونې هڅو ته منسوبې شوې نه وې بلکې د هغو انفرادي دونرانو اجراات یې ښوول لکه د ولایتي بیا جوړونې ټیمونه (PRT ) چې په هغه وخت کې موجود و او هغه چارواکې چې دغه پروسه یې رهبري کوله.[22] دغه قضاوت له هغه عمومي باور څخه سرچینه اخیستله چې یو قوي دولت د غیر قانوني نشه ای توکو موادو پراخ کښت نلري. له دې امله، هغه کسان چې د تریاکو د کښت په کمولو کې بوخت و– د ولایت والي، د لویدیځو پوځي ځواکونو قومندان یا جګ پوړې ملي چارواکی- ښه مشرتابه او "کنټرول" لرلای شي. [23]

له ۲۰۱۴ کال وروسته له محدود ماموریت سره، ناټو د غوڅ ملاتړ ماموریت لاندې د حکومت له خوا د "کنټرول" یا "نفوذ" معیارونو ته راوګرځېد چې د اجرااتو د شاخصونو په څېر ورڅخه استفاده وکړي. د مثال په ډول د ۲۰۱۲ کال په اګست کې په افغانستان کې امریکایي پوځونو راپور ورکړ چې د افغانستان د ټول نفوس ۲۳ سلنه د حکومت تر کنټرول یا نفوذ لاندې وو.[24] دغه احصایه له ۸٪ خلکو سره چې د یاغیانو تر کنټرول یا نفوذ لاندې و او د پاتې ۲۹ سلنه خلک چې په متنازعو ساحو کې اوسېدل چېرې چې نه حکومت او نه یاغیانو ځواک درلود، مقایسه کېدله.[25] د ۲۰۱۷ کال د می له میاشتې څخه مخکې په افغانستان کې امریکایي ځواکونو ادعا وکړه چې د افغانستان د

---

۱۸ نړیوال بانک، "افغانستان: د دولت جوړونې او پرمختیا تقویه کول."

http://siteresources.worldbank.org/IDA/Resources/IDA-Afghanistan.pdf. July ۲۰۰۹ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷). ډی ویجر، فروکي، "د هارواړډ د CID لیکنې: په افغانستان کې یو وړ حکومت، بې له اساسه جوړونه؟ "

https://bsc.cid.harvard.edu/files/bsc/files/۵۹_May.pdf.weijer ۲۰۱۳ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷).

۱۹ بیرد، ویلیم او پاینده، خالد، د USIP د سولې په باب خبرونه: په اقغانستان کې عایدات زیاتیږي خو راتلونکي ناڅرګنده. https://www.usip.org/sites/default/files/۲۰۱۷-۰۲/PB۲۱۹-Revenue-Growth-in-Afghanistan-Continues-Strong-but-Future-Uncertain.pdf. February ۲۰۱۷ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷).;

بیرد ویلیم او پاینده خالد، د USIP د سولې خبرونه: په ۲۰۱۵ کې د افغانستان په عوایدو کې پرمختګ https://www.usip.org/sites/default/files/ PB۲۰۱-In-Turnaround_Revenue_Afghanistans_۲۰۱۵.February.pdf ۲۰۱۷ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷).

۲۰ اسیا فونډېشن. "افغانستان په ۲۰۱۲ کې د افغانستان د خلکو سروې." http://asiafoundation.org/publication/afghanistan-۲۰۱۲-survey-afghan-people. ۷ December ۲۰۱۲ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷).

۲۱ د بي بي سي خبرونه. "اشیا فونډېشن د افغانانو سروې زیاته بدبیني وښودله."

http://www.bbc.com/news/world-asia-۱۵۷۳۳۳۲۰. ۱۵ November ۲۰۱۱ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷)

۲۲ مینزفیلد، دیوید: په شګو ولاړ دولت: افغانستان څنګه د تریاکو په ذریعه وران شو. اکسفورډ، د اکسفورډ د پوهنتون چاپ ۲۰۱۲.

۲۳ په شګو ولاړ ولایت

۲۴ سیګار "د افغانستان د بیا ودانونې لپاره د امریکا ځانګړی پلټونکی: د امریکا د متحده ایالاتو د کانګرس لپاره درې میاشتنی راپور اپریل ۲۰۱۷ " https://www.sigar.mil/pdf/quarterlyreports/۲۰۱۷-۰۴-۳۰qr.pdf. ۳۰ April ۲۰۱۷ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷)

۲۵ سیګار "د افغانستان د بیا ودانونې لپاره د امریکا ځانګړی پلټونکی: د امریکا د متحده ایالاتو د کانګرس لپاره درې میاشتنی راپور اپریل

اسلامي جمهوریت د حکومت ولکه د دې هیواد د ټول نفوس په ۲۵،۲ سلنه باندې ټینګه شوې په داسې حال کې چې ۹،۲ سلنه نفوس د یاغیانو تر کنټرول یا نفوذ لاندې و او یو مخ پرزیاتېدونکې شمېر د خلکو په متنازعو ساحو کې اوسېدل –۲۵،۲ سلنه.[26] په افغانستان کې امریکایي ځواکونو او د ناټو سازمان په خپل وروستي ماموریت "روزنه او مرسته" کې د ځان لپاره وظیفه وټاکله چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د حکومت سره کومک وکړي څو تر ۲۰۱۹ کال پورې د نفوسو د ۸۰ سلنې د اوسېدنې ساحې ته خپل کنټرول او نفوذ وغځوي.[27]

## ۱.۱ د تعریفونو او معیارونو نقد:

د "کنټرول" او "نفوذ" د کلمو تعریفونه په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو له خوا په اوس مهال کې ناڅرګند دي ځکه چې دغه تعریفونه هغو کسانو ته چې د ناټو د سازمان امنیتي جواز ونه لري، میسر نه دي. له دې امله، هغه میتودولوجي چې کنټرول او نفوذ د افغانستان په ولسوالیو کې ارزوي او بیا له ارزونې وروسته څنګه په کتګوریو وېشل کیږي په پراخ ډول نه شریکي کیږي. څه شی چې له یوې ناڅرګندې میتودولوجي څخه لاس ته راځي د مختلفو شاخصونو یوه لړۍ ده. دغه شاخصونه چې د ثبات، حکومتولي، امنیت، زیربنا، اقتصاد او اطلاعاتو د ارزونې لپآره کارول کیږي، تشخیصوي چې یوه ولسوالي د حکومت او که د یاغیانو ترنفوذ یا کنټرول لاندې راځي.[28] هغه ولسوالي ګانې چې نه د حکومت او نه د یاغیانو تر کنټرول یا نفوذ لاندې پېژندل شوې دي د "متنازعو" هغو په څېر په ګوته شوې دي- یوه ولسوالي چېرې چې یوه خوا هم برلاسې نه برېښي.

د ډیرو تحلیل ګرانو په باور د ناټو د سازمان له خوا د کنټرول او نفوذ دغه ارزونې مغشوشي دي. په ځانګړي ډول، کله چې انفرادي ولسوالي ګانې داسې تشخیص شوې (او په دقت ترتیب شوې) چې په یوه یا بله کتګوري پورې تعلق لري ګرانه ده چې وپېژندل شي کنټرول او نفوذ څنګه د یوه مجموعي واحد په ډول د ملي کچې په یوه راپور کې ځای شي. کنټرول او نفوذ دوه مشخص اصطلاحات دي چې بېلا بېلې معناوې لري. "کنټرول" د یوې واحدې ادارې له خوا د تسلط یا تسلط ته د نژدې واکمنې معنا ورکوي. "نفوذ" داسې برېښي لکه د یوې سلسلې په یو سر کې د کنټرول او په بل سر کې د ناتوانۍ په منځ کې یو منځګړی حد وي. د دې لپاره چې دغه دواړه کټګورۍ سره یو ځای شي او بیا یو هدف په ګوته شي – لکه څنګه چې ناټو یې د افغانستان د حکومت تر کنټرول یا نفوذ لاندې د نفوسو د ۸۰ سلنې راوستل هدف ټاکلی - باید دوه ډېر بېلا بېل حالتونه سره یو ځای شي- یو حالت چې په احتمالي ډول د لاس رسي وړ دی یعنې د نفوذ حالت- مګر په افغانستان کې د ناټو د سازمان او د افغانستان د حکومت د عمومي هدفونو په چوکاټ کې ډېر ضروري نه ګڼل کیږي. په دې برسېره، د افغانستان په شرایطو کې "کنټرول" یوه اصطلاح ده چې د خلکو او حکومت په منځ کې پېچلې او انعطاف منونکې اړیکې اکثره وخت ډېرې ساده ګڼي خصوصآ په کلیوالي سیمو کې. کنټرول د ځواک د مرکزي کولو او هغه ظرفیت ته ویل کیږي چې د هغه په ذریعه خلک په جبري ډول د ځان تابع کړي. په تاریخي لحاظ د افغانستان دولت په دې نه دی توانېدلی چې د خپلې خاورې په لویو برخو باندې خپله اراده ټینګه کړي. د مثال په ډول، امیر عبدالرحمن خان (۱۸۸۰-۱۹۰۱)، "سختګیر امیر" د خپلو خلکو څخه له یو لکو څخه زیات کسان وژلي دي[29] د دې لپاره چې د افغانستان په خاوره خپل کنټرول وساتي. د امیر عبدالرحمن خان واکمني د ده د سلطې او مرګ په پای کې کمزورې شوه او وروسته په ۱۹۲۹ کال کې د ده د لمسي، د امان الله خان د حکومت په سقوط تمامه شوه. د دې په عوض سیاسي، ځواک په افغانستان کې غیر مرکزي و او د منځګړیتوب له لارې ټینګ شوی دی. په دې ترڅ کې حکومت په خپلو خلکو باندې په مختلفو کچو نفوذ درلود چې د دوی له موقعیت، منابعو، ټولنیزو جوړښتونو او تاریخ سره یې تړاو درلود.

یوه بله ستونزه دا ده چې د حکومت او د یاغیانو نفوذ په متقابل ډول د نفي کوونکي ځواک په څېر طبقه بندي کیږي- لکه څنګه چې د ناټو د سازمان په اوسني ارزونو کې ښکاري. په حقیقت کې په وروستیو کلونو کې د افغانستان کلیوالو اوسېدونکو د یو لړ مختلفو سیاسي نظامي ډلو سره بلدیت پیدا کړ چې هرې یوې یې په خلکو او جغرافیایي ساحو باندې د نفوذ ساتلو هڅې کړې دي. په دې محیط کې ایتلافونه بدلیږي، سیالي او جګړې دوام لري چېرې چې یوه واحده برلاسې قوه په لویه ساحه او اوسېدونکو باندې د ډېر وخت لپاره ځواک نلري.

---

۲۶ سیګار "د افغانستان د بیا ودانونې لپاره د امریکا ځانګړی پلټونکی: د امریکا د متحده ایالاتو د کانګرس لپاره درې میاشتنی راپور جولای۸۸


۲۷ د امریکا د متحده ایالاتو د دفاع وزارت. "په افغانستان کې د امنیت او ثبات ټینګښت."۸۸

۲۸ سیګار "د افغانستان د بیا ودانونې لپاره د امریکا ځانګړی پلټونکی: د امریکا د متحده ایالاتو د کانګرس لپاره درې میاشتنی راپور اپریل ۸۸.؛ سیګار درې میاشتنی راپور جنوري ۳۱، ۲۰۱۷، ۸۹

۲۹ مینز فیلد، ډیوید. په شګو ولاړ دولت: افغانستان څنګه د ترياکو په ذریعه وران شو. اکسفورډ، د اکسفورډ د پوهنتون چاپ، ۲۰۱۲، ۱۷۴

سرببره په دې، د دې شرایطو په نتیجه کې د نفوسو ځینې عناصرو د دې مهارت پیدا کړې چې د مختلفو سیاسي نظامي ډلو سره او د دوی په منځ کې فعاله واوسي. د کلیو اوسېدونکي نه دولت او نه د یاغیانو متابعت کوي او په فعالانه ډول په سیاست کې برخه لري او هغه چاپېریال ته شکل ورکوي چې دوی پکې اوسي.[۳۰] دارنګه دا درسته ده که تصور وکړو چې حکومت او یاغیان له خپلو ټولنو څخه بېل او بهرني خلک دي. ډېري کورنۍ په ځانګړي ډول په یوه ټولنه کې ځینې معتبرې کورنۍ د ځواک له یو لړ مختلفو مرکزونو سره اړیکې ساتي: یو زوی د افغانستان په ملي اردو کې، ورور په ځایي دولتي ښوونځي کې ښوونکی او په عین وخت کې له یاغیانو سره د نغدو یا د جنس په شکل کې مرستې کوي. په دې ډول حکومت او یاغیان ډېر ځله په یوه عیني ساحه او په عیني وخت کې نفوذ لري او څرګنده نه ده چې څنګه دغه ساحې له هغو ساحو څخه په کیفي ډول بېلې دي چې د ناتو سازمان متنازع ګڼلې دي. که چېرې مونږ دغه نقد ومنو او د "حکومت نفوذ" د "یاغیانو نفوذ" او "متنازع" کټګورۍ یو بل نه نفي کوونکې وګڼو نو بیا په افغانستان کې د امریکا د پوځي ځواکونو ارزونې ښیي چې د **۲۰۱۷** کال له اګست څخه راهیسې د افغانستان د اسلامي جمهوریت حکومت په دې هیواد کې له **۲۵**٪ څخه کمې ولسوالۍ تر کنټرول لاندې درلودې او په همدې ټوله موده کې نژدې **۷۵** سلنه د ولسوالیو یا د یاغیانو تر کنټرول لاندې وې یا په متنازعو ساحو کې شمېرل کېږي ( وګورئ لومړی شکل ).[۳۱]

۱ شکل: د نفوذ او کنټرول اندازې، منبع: په افغانستان کې د امریکا پوځي ځواکونه "د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی مفتش: د امریکا د متحده ایالاتو کانګرس ته درې میاشتنی راپور: جولای "۸۸.




په پای کې د کلیوالي افغانانو او ورځنی تجربې په دې ډول کم رنګه ښوول کېږي چې په افغانستان کې د امریکا د پوځي ځواکونو ارزونه د ولسوالۍ په کچه ښوول کېږي او داسې هڅې نه لیدل کېږي چې د ولسوالۍ څخه په ټیټه کچه د کنټرول او نفوذ په اړه زیات توضیحات وړاندې کړي. ولسوالۍ کېدای شي چې خود سره سرحدات ولري او د قبیلوي یا کورنیو اړیکو او شبکو څخه ورها خوا اوړي یا په مشترکو منابعو سره ګډېږي لکه د اوبو منابع. په داسې حال کې چې ولسوالۍ د دولت اداري سرحدات جوړوي خو په عیني وخت کې د هغو د اوسېدونکو په اړه، د دوی د خپلوییو، تجربو او له حکومت سره د اړیکو په اړه ډېر څه نه وایي. په ولسوالیو کې د ننه د حکومت د نفوذ مختلفې درجې شته چې تاریخي او اوسني حوادث د هغو په ایجادولو کې نقش لري. په معمول ډول، د دولت نفوذ د ولسوالۍ او ولایتي مرکز ته نژدې محسوس کېدای شي چېرې چې د افغانستان دولت هلته شتون لري او خدمات وړاندې کېږي او غوښتل کېږي.

په نورو ځایونو کې یا په ځینو حالاتو کې د ولسوالي مرکز یا د حکومت امنیتي تاسیساتو ته نژدې، څو داسې شاخصونه لېدل کېږي چې خلک د دولت د کنټرول یا نفوذ لاندې دي. د تریاکو کښت او د هغو په سر مالیات دوه داسې معیارونه دي چې په خلکو او خاوره باندې د حکومت د کنټرول او نفوذ ډېره کمه اندازه څرګندوي د هغه معیار په نسبت چې په افغانستان کې د امریکا د پوځي ځواکونو ارزونه یې په ګوته کوي. دغه خبره به په لاندې دوو برخو کې توضیح شي.

۳۰ منز فیلډ ډیوېډ. په شګو ولاړ یو دولت


۳۱ سیګار، "د افغانستان د بیا ودانونې لپاره د امریکا ځانګړی پلټونکی: د امریکا د متحده ایالاتو د کانګرس لپاره دری میاشتنی راپور، اپریل" ۸۸؛

# ۲. د ترياکو کښت: دغه کښت موږ ته د دولت د نفوذ په هکله څه وايي؟

له مخدره توکو او جرمونو سره د مقابلې لپاره د ملګرو ملتونو د سازمان د دفتر (UNODC) د ترياکو د کښت د کلني سروې په خپرېدلو سره په عموم ډول خبري رسنۍ ډېرې فعالې شي. د مثال په ډول، دغه خبر چې د ترياکو کښت په افغانستان کې د **۲۰۱۵** او **۲۰۱۲** کلونو په منځ کې **۴۳** سلنه زياتوالی پيدا کړ د خبري رسنيو سرټکي جوړول.[۳۲]

د حاصلاتو ارقام- په ځانګړي ډول په ملي کچه –تر زياتې اندازې يو غولونکی عدد و. د محصولاتو مقدار په حقيقت کې د معشيت د انتخاب په اړه د کليوالو د قضاوت او د دولت د جبري قوې په باب د دوی د درک اندازه نه څرګندوي، بلکې محصولات تر ډېره بريده په اقليمي عواملو پورې تړلي وي. بزګران په دې عقيده دي چې محصولات " د خدای کار دی" د (UNODC) له خوا تر ټولو مهمه احصايه دا وه چې په **۲۰۱۲** کال کې يې د ترياکو د کښت کلنۍ ساحه په هکتار اندازه کړې ده. دغه اندازه ۲۰۱۰۰۰ هکتارو ته وختله چې په **۲۰۱۵** کې دغه اندازه ۱۸۳۰۰۰ وه. دغه احصايه د هغه تخمين سره برابره وه چې د USG له خوا ورکړل شوې وه او په **۲۰۱۵** کې له **۱۹۸۰۰۰** هکتار څخه **۲۰۳۰۰۰** هکتارو ته په **۲۰۱۲** کې وختله ( وګورئ دويم شکل).[۳۳] په داسې حال کې چې د UNODC تخمين په **۲۰۱۲** کال کې له **۱۹۹۴** څخه راهيسې کله چې سروې پيل شوه تر ټولو لوړه کچه ښيي، ډېری خلکو ښايي د دې کښت د ډېرې جګې اندازې توقع درلوده. په ټوله کې، د امنيت نشتوالی، د ترياکو نسبي لوړ قيمتونه او د افغانستان د حکومت ناتواني چې پرمختيايي مرستې ورسوي او مخ په زياتېدونکو کليوالي سيمو کې اقتصادي وده تقويه کړي- هر عامل په **۲۰۱۲** کال کې ښکاره و- ډېر څله د دې سبب ګرزيدلي چې د ترياکو کښت وهڅوي.

**۲ شکل: په افغانستان کې د کوکنارو کښت، ۱۹۹۹ تر ۲۰۱۲ (هکتار)**




ځيني خلک شايد په **۲۰۱۲** کال کې په مجموعي ډول د دې کښت د نسبي زياتوالي له امله د ارامي احساس کړې وي او په دې باور وو چې هيواد د کوکنارو د تهيې وروستي حد ته رسېدلی. مګر د ملي ارقامو تر شاه د ولايت او ولسوالي په کچه د کوکنارو په کښت کې په بشپړ ډول مخالف تمايلات لېدل شوي او څرګندوي چې د نورو زياتو محصولاتو امکان شته- شايد په راتلونکو کلونو کې دغه اندازه په ډراماټيک ډول لوړه شي. په **۲۰۱۲** کې د UNODC له خوا د خپرو شويو ارقامو نژدې کتنه څرګندوي چې په شمال او شرق کې– په خاص ډول په ننګرهار، بادغيس، بلخ او بدخشان ولايتونو کې- د کوکنارو په کښت کې ډراماټيک زياتوالی په جنوب او جنوب غرب کې د دې کښت په کموالي موازنه ساتلې ده. دا حقيقت څرګندوي چې په **۲۰۱۲** کې په کښت کې زياتوالی ښايي د راتلونکو کلونو لپاره يو پيغام وي چې

۳۲ اګرهورن، هاريت، "په افغانستان کې د ترياکو کښت پرمختګ کوي ځکه د مخدره توکو د توليد په ضد مبارزه کمزوري کيږي." http://www.independent.co.uk/news/world/middle-East/opium-production-soaring-afghanistan-un-reveals-heroin-drug-narcotic-poppy-fields-a۷۳۷۲۲۲۲.html. ۲۳ October ۲۰۱۲ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷)

۳۳ UNODC، په افغانستان کې د ترياکو سروې ۲۰۱۲: کښت او توليد

https://www.unodc.org/documents/cropmonitoring/Afghanistan/Afghanistan_opium_survey_۲۰۱۲_cultivation_production.pdf. December ۲۰۱۲ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷).


تمه يې کيږي په خاص ډول د سياسي مخ په زياتېدونکې ناڅرګنده اوضاع له وجې ، د ملي يووالي په حکومت (NUG) کې د رزونه، خرابه اقتصادي وضعه او د ولسمشر ټرمپ د مشري لاندې د امريکا د اداري له خوا د ستراتيژيکې روښانتيا نشتوالي هغه ته اشاره کوي. په داسې شرايطو کې ترياک نه يوازې د سياسي او ټولنيزو اقتصادي انګېزو يو محصول وي بلکې د دغو شرايطو يو شاخص هم شمېرل کيږي.

دغه برخه په ۲۰۱۲ او ۲۰۱۷ کلونو کې د کښت په کچو کې بدلونونه، په ساحه کې د معلوماتو په ټولونه کې او د UNODC د ارقامو او د روښانه تصويرونو يو تحليل وړاندې کوي. په دې ډول دغه برخه په ۲۰۱۲ او ۲۰۱۷ کلونو کې د ترياکو د کښت پراختيا د افغانستان په کليوالي سيمو کې په خلکو باندې د افغانستان د حکومت له کمېدونکې نفوذ سره په مستقيم ډول تړي. دغه سيکشن د ترياکو د کښت د ساحو د معلومولو رول د افغانستان د دولت د واکمنې په ترسيمولو کې په هغو برخو کې څرګندوي چې د ترياکو د کښت پخوانی سابقه لري.

## ۲.۱ په ختيځ کې د يوې خوا ته پاڼ او بلې خوا ته پرانګ: ننګرهار

د ننګرهار ولايت د ترياکو پراخ کښت يوه سابقه لري چې په هر کال کې د کښت اندازه له ۱۵۰۰۰ هکتاره څمکو څخه اوښته ( دريم شکل). ۱۹۹۵ کال د ترياکو په کښت کې يوه ارامه دوره وه چې د شرقي شورا د پخواني مشر حاجي قدير له خوا تحميل شوې وه او همدارنګه په ۲۰۰۱ کې د طالبانو له خوا په ټول ملک کې د ترياکو کښت منع شوې و. له هغه وروسته د کرزي د حکومت د مخدره موادو ضد هڅې – د بين المللي ټولنې په مرسته- په دې تمامې شوې چې په ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ کلونو کې د والي حاجي دين محمد او په ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ کلونو کې د والي ګل آغا شيرزي له خوا د ترياکو د توليد مخنيوی وشو. د ګل اغا شيرزي له خوا تحميل شوی ممانعت چې د امريکايي پوځيانو له خوا يې مرسته وشوه د ترياکو د کښت په تاريخ کې د سکوت يوه اوږده موده وه او له دې امله ننګرهار د UNODC له خوا په ۲۰۰۸ کې "له کوکنارو څخه ازاد " ولايت اعلان شو.[۳۴] د ترياکو کښت هلته په ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلونو کې په نسبي ډول په ټيټه کچه کې پاتې شو.

۳ شکل: په ننګرهار کې د ترياکو کښت، ۱۹۹۹-۲۰۱۷ (هکتار)





له ۲۰۱۱ څخه را په دې خوا د افغانستان د حکومت د واکمنې له کمزورېدو سره په ننګرهار کې د ترياکو کښت بيا لوړ شو او يو شمېر ساحې د افغانستان د حکومت او د ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو له ولکې څخه ووتې. په شروع کې، دغه زياتوالی په نسبي ډول ورو و چې په ۲۰۱۱ کې له ۲۷۰۰ هکتاره ځمکې څخه په ۲۰۱۲ کې تر ۳۱۵۱ هکتاره پورې ورسېدې. سره د دې، له ۲۰۱۴ څخه مخکې– کله چې د ياغيانو مخ په زياتېدونکې حضور، د امريکايي پوځونوله را ايستلو او اقتصادي رکود سره يو ځای شول- د ترياکو د کښت اندازه په تخميني ډول ۱۸۲۲۷ هکتارو ته و رسېده. ډېرو خلکو دا توقع درلوده چې دغه کښت به په ۲۰۱۲ کې نورهم زيات شي. خرابېدونکې امنيتي وضعې– د جنوبي ولسواليو کښته وادي ګانو ته د طالبانو له ننوتلو سره- او له دې سره په کاري فرصتونو کې کموالي او د انکشافي پروژو کمښت داسې شرايط برابر کړل چې د ترياکو کښت خپل اوج ته وخوت. د ۲۰۱۵ کال په منې کې د کښت له موسم څخه د مخه د ترياکو د توليد داسې

۳۴ تر ۱۰۰ هکتاره کم تعريف شوی (۴۹) وګورئ UNODC "په افغانستان کې د ترياکو سروې ۲۰۰۷"

۱۹ accessed) ۲۰۰۷ pdf. October.۲۰۰۷-https://www.unodc.org/documents/crop-monitoring/Afghanistan-Opium-Survey hectares of opium poppy in Nangarhar, in contrast to UNODC's ۲۲۵ the USG estimated there were ۲۰۰۸ In .۱۱ ,(۲۰۱۷ August .“declaration of the province as “poppy free

نشانې ولېدل شوې چې له شمال خوا څخه يې جنوبي واديگانو ته سرايت کاوه چېرې چې د ډېرو کلونو له لپاره هلته نه وه لېدل شوی. د مثال په ډول د خوگيانی د ولسوالی په کښته برخو کې د ولسوالی د مرکز په شاه خوا کې ( ځلورم شکل) او په چپرها ، روت او بټي کوټ کې په **۲۰۱۲** کې د ترياکو کښت په زياته اندازه لېدل شوی. دغه راز د ترياکو کښت د سرخرود کښته برخو ته د تور غره لمنو ته وغځېده. دغه ځايونه له جلال اباد يعنې د ولايت له مرکز څخه لیږ فاصله لري او داسې ځايونه وو چې حکومت هلته پخوا پکې واکمن و. کله چې د **۲۰۱۲** کال په مني کې د UNODC له خوا د ترياکو سروې خپره شوه، دې سازمان په داسې ولسواليو کې لکه چپرهار ( هکتاره**۲۴۷۲** ) او رودات ( **۱۴۲۲** هکتاره ) د ترياکو د کښت پخلی کړی دی. دغه اندازه تر **۲۰۰۷** کال پورې نه وه لېدل شوې. دا هغه کال وه چې د ترياکو د کښت اندازه **۱۸۷۳۹**هکتاره تخمين شوې وه او له پنځو ولسواليو څخه پرته د ننگرهار په ټولو **۲۲** ولسواليو کې لېدل شوې وه.

۴ شکل: د خوګیاڼي د اولسوالۍ له مرکز څخه په جنوب کې د تریاکو کښت، ننګرهار ، ۲۰۱۳-۲۰۱۷



سره د دي، په ۲۰۱۲ کې د ترياکو د کښت هغه اندازه څرګنده نه شوه چې وړاندوېينه يې شوې وه. د دې پرمختګ دليل په خاوره د کنټرول لپاره د افغانستان د حکومت فعاليتونه نه و او نه يې د دې معنا درلوده بلکې لامل يې دا و چې په دې وخت کې داعش ( اسلامي دولت) د سپين غره د لمنې لوړې برخې ونيولې. د ۲۰۱۵ کال په جولای کې داعش د مومند درې چې د اچين د ولسوالی په لوړه برخه کې پرته ده له نيولو سم لاسي وروسته د مخدره توکو په کښت باندې بنديز ولګاوه. په لومړي سر کې د اوړي د موسم د چرسو کښت منع شو او له کروندګرو څخه يې وغوښتل چې د بنګو ټول کښت چې دوی کرلی و ويجاړ کړي. د ۲۰۱۵ کال په مني کې د چرسو د کښت په بنديز برسېره د ترياکو په توليد باندې هم بنديز ولېګېده. د مخدره توکو په وړاندې له دغو عملياتو سره يو ځای داسې راپورونه هم و چې د داعش له خوا د مخدره توکو د سوداګري مخنيوی شوی دی. د شدال په بازار کې چې د ترياکو د سوداګري يو لوی مرکز و او همدارنګه په عبدالخيلو کې هټۍ والو ته ويل شوي و چې د دې توکو سوداګري د نه کوي او هغو کسانو چې سوداګري ته يې ادامه ورکړې وه سزا يې ولېده. ډېرو سوداګرو دغه ساحه پرېښوده او ۲۰۱۲ کال له فبروري څخه مخکې د شدال بازار خالي شو.

که چېرې د اچين او کوټ ولسواليو کې د ترياکو کښت هغه حد ته رسېدلای وای او لکه د پخوا په شان يې په شدت ادامه پيدا کړې وای، د UNODC له خوا په ننګرهار کې د ترياکو د کښت تخمين به له ۱۸۰۰۰ هکتاره څخه اوښتی وای. په هر حال په دغو ساحو کې د ترياکو د کښت نشتوالی موږ ته د ننګرهار ولايت په جګو وادي ګانو کې د داعش د ولکې د ماهيت په اړه او همدارنګه د دوی د مالي منابعو په اړه ډېر څه وايي. په داسې حال کې چې ډېر خلک په مخدره توکو د داعش له خوا بندښت ته د دې ډلې له اسلامي اصولو سره تړاو ورکوي- د هغې قضيې سره ورته والی لري چې د طالبانو له خوا په ۲۰۰۰/۲۰۰۱ کلونو کې د ترياکو د کښت مخنيوی شوی و- په دې منځ کې يو ډېر مهم توپير شته. د اچين په پوره برخو کې د داعش له خوا بندښت د ۲۰۱۵ کال د اوړي او مني په موسمونو کې د خلکو له لېږد سره يو ځای و ځکه چې کروندګر له جګړو څخه چې وروسته پېښې شوې د خلاصون په لټه کې وو. طالبانو په خپلو هڅو سره چې په ۲۰۱۵ کال کې د داعش له خوا نيول شوې خاوره بېرته لاس ته راوړي او د ځايي خلکو له خوا يې ملاتړ وشو د داعش له جنګياليو څخه يې په ظالمانه ډول غچ واخيست. لکه څنګه چې د AREU يوې مخکينۍ ليکنې راپور ورکړی "په نتيجه کې ډېر زيات شمېر کورنۍ بېرته په هغو ځايونو کې مېشت شولی چې د طالبانو يا د حکومت لاندې سيمو کې د خپلو خپلوانو په کورونو کې له نسبي امنيت څخه برخمنې وې" د دوی په عوض کې، اورکزي او باجوړي کورنۍ خپلو کورونو ته وګرځېدل - تر ټولو معتبرې هغې يې د اورکزي له لوړو قوماندانانو سره يو ځای شوې.[۳۵]

دا يو ساده حقيقت دی، په هغو ځايونو کې د ترياکو د کښت بندښت اسان کار دی چېرې چې ځايي خلک وسله وال نه وي او د خپل معشيت لپآره د کوکنارو په کښت متکي وي. ځکه هغه کسان چې دغه ساحې تر خپل کنټرول لاندې راولي اړتيا نه لري چې د ځايي خلکو د هوساينې په اړه يا په دې باب اندېښنه وکړي چې بزګران او د دوی کورنۍ به د ترياکو د کښت په نشتوالي کې څه کوي. پخوا وختونو کې هغه کسان چې د ترياکو په توليد کې په دغو ساحو باندې يې د بندښت لګولو هڅه کړې ده په يو ډول مذاکرو کې ښکېل وو حتی که دغه مذاکرات تر زياته حده د جبر او زور په فضا کې ترسره شوي وي. طالبانو د پرمختيايي کومکونو ژمنې وکړې او په پورته اچين کې يې د شينوارو قبيلو ته د دې وړانديز وکړ چې د ۲۰۰۱ کال په پسرلي کې د بين المللي دونرانو هيت ته يو بې مثاله لاس رسی ولري. دې هيت غوښتل چې په ترياکو باندې د بندښت اغېزې بررسي کړي او په هيت کې د امريکا د متحده ايالاتو، برطانيې، هالينډ او د ملګرو ملتونو چارواکې شامل وو.[۳۶] والي ګل اغا شيرزي د طالبانو له خوا له بندښت څخه سبق زده کړ: د کابل په مرسته، والي د شينوارو مشران او ځايي رهبران، ملک نيازی او ملک عثمان دې ته واړول چې د بندښت ملاتړ وکړي کوم چې والي د ۲۰۰۷ کال په پای کې تحميل کړې و او ژمنه يې وکړه چې په راتلونکې کې به دوی ته د پراختيا لپاره ډېرې پيسې ورکړي. د ۲۰۰۷ کال په پای کې په دې ولايت کې د امريکا د پوځيانو د شمېر له زياتېدو سره، په خاص ډول د ننګرهار په جنوبي ولسواليو کې لکه د کامي ولسوالي د مرکز په شاه خوا کليو کې د دوی حضورد حکومت لپاره د جبر يوه وسيله تياره کړه څو ځايي خلک په دې قانع کړي چې د کوکنارو له کښت څخه لاس واخلي- که څه هم د يو څو موسمونو لپاره.

۳۵ مينزفيلد، ډيويد "مشکل په جزيياتو کې: ياغيانو ته د ننګرهار پر لپسې سقوط "

https://areu.org.af/wp-content/uploads/۲۰۱۲/۰۲/-۱۲۰۲E-The-Devil-is-in-the-Details-Nangarhar-continued-decline-into insurgency.pdf. February ۲۰۱۲ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷), ۱۲.

۳۶ مينزفليد، ډيويد، "په افغانستان کې د کوکنارو په کښت باندې د طالبانو د موقف اغېزې."

http://www.davidmansfield.org/home/docs/field/۵.pdf. ۲۵ May ۲۰۰۱ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷).

د پورته اچین خلکو په تاریخي لحاظ په ډېرو مواقعو کې د تریاکو د کښت د محدودولو په وړاندې مقاومت ښکاره کړی دی. دغو خلکو په ۲۰۰۰ کال کې په منې کې د طالبانو له خوا د ډیرو په خرېیلو او د موسیقي په اورېدلو د بندښت په وړاندې مقاومت وکړ، په ۱۱/۲۰۱۰ کې یې د تریاکو کښت ته زور ورکړ چې لامل یې د ځمکو پرسر شخړې او خرابه اقتصادي وضعه وه او بیا یې په ۱۰/۲۰۰۸ کلونو کې د ګل اغا شیرزي له خوا د تریاکو د بندښت په وړاندې مقاومت وکړ. دغه تاریخي حادثې په لوړو وادي ګانو کې ډېر ژر په وسله وال شورش بدلې شوې.[۳۷] د نفوسو ډېر والي، د زراعتي ځمکې کموالي او له کرنییزو عایداتو څخه پرته د نورو فرصتونو کموالی د دې سبب شول، چې بزګران د خپل معشیت لپاره د تریاکو په کښت ډېر متکي شي. کله چې دغه وسله وال خلک مجبور شول چې د تریاکو کښت پرېږدي دوی ډېر ژر دا ظرفیت وښود چې نه ایل کیږي، شورش کوي او یا د نظامي مرستو لپاره نورو ته مراجعه کوي څو هغو کسانو ته ماتې ورکړي چې هڅه کوي دوی د خپل معشیت له وسایلو یعنې د تریاکو له تولید څخه محروم کړي. په پای کې طالبان او ګل اغا شیرزی دواړه ونه توانېدل چې د تریاکو کښت منع کړي او د اقتصادي بدیلونو په فقدان کې د ځایي پراخو مخالفتونو په وړاندې خپله واکمني ټینګه کړي. سره د دې، ډېرامکان لري چې د اسلامي اساساتو پالنه وشي او په هغو ځایونو کې د تریاکو کښت منع کړي چېرې چې د ځایي خلکو له خوا د خوړو، مالیاتو او جنګیالیو په شکل کې د مرستو جذبولو ته ضرورت نشته. په لویه پیمانه د ځایي خلکو لیږد هم شاید له داعش سره مرسته کړې وي چې خپلې هڅې بهرنیو دښمنانو ته متوجې کړي- د افغانستان ملي او دفاعي ځواکونه، د امریکا د متحده ایالاتو ځواکونه ځایي ملېشې او طالبان- د دې پر ځای چې له داخلي مخالفینو او شورشیانو سره په جګړه کې ښکېل شي. په همدې وخت کې د کوکنارو د کښت منع کول او په پورته وادي ګانو کې د غنمو د کښت رواجول د داعش د تمویل په اړه څه معنا لري؟ د ډېرو خلکو په نشتوالي کې هلته نه د کوکنارو کښت کېدای شي نه د میګنیزم اسیدو معدنونه وي چې زورواکي له هغو څخه مالیات واخلي او په هغو ژوند وکړي. د عایداتو د دغو منابعو څخه پرته او چېرې چې یوازې غنم او په لیږه اندازه د باغداري حاصلات د جنګیالیو او د دوی د کورنیو لپاره موجودې وي، پوښتنې راولاړیږي چې د خوړو او د وسلې لپاره پیسې له کومه ځای راځي.

د ۲۰۱۷ کال حاصلات څنګه دي؟ راپورونه وایي چې ۲۰۱۷ کې د تریاکو کښت د ننګرهار د جنوبي ولسوالي کښته برخو ته غځېدلی او دا هغه سیمې دي چېرې چې په ۲۰۱۲ کې د افغانستان حکومت او د افغانستان ملي او دفاعي ځواکونو نفوذ درلود. د ۲۰۱۲ کال په منې کې داسې راپورونه راغلي چې د بتي کوټ په ولسوالي کې په حکومتي ځمکو تریاک کرل شوي دي او کروندګر طالبانو او حکومت دواړو ته د اجارې پیسې ورکوي.[۳۸] د ۲۰۱۷ کال په پسرلي کې د افغانستان حکومت ادعا وکړه چې د بتي کوټ، شینواري، سرخرود، رودات او حتی په دره نور ولسوالیو کې یې د تریاکو په سل ها وو هکتاره کښت ویجاړ کړی.[۳۹] دا هغه ولسوالی وې چې په ۲۰۱۲ کې هلته د تریاکو کښت د پام وړ نه و.[۴۰] په ځایي کچه داسې راپورونه وو چې د شینوارو او بتي کوټ د ولسوالیو په ښکته برخو کې د تریاکو کښت شوی دی. دغه برخې د تورخم او جلال اباد سرک ته نژدې پرتې دي. داسې راپورونه هم شته چې حکومت د سرخرود ولسوالی په پورته برخو کې یعنې د ولسوالی د مرکز سلطان پور څخه ها خوا کوکنار کرل شوي دي. دغه برخې لویې لارې ته نژدې دي چې له جلال اباد څخه د ۳۰ منټو د موټر لار ده. داسې ادعاوې هم شته چې د مذاکراتو په نتیجه کې کښتونه محوه شوي دي. دغه کښتونه په هغو ساحو کې وو چېرې چې حکومت تر یوه حده نفوذ درلود او حتی په هغه ځای کې داسې موافقې شوې وې چې بزګرانو د هغو ګاونډیانو د خسارې د جبران ژمنې کړې وې چې خپل حاصلات یې له لاسه ورکړي وو.

---

۳۷ مینزفلید، ډیوید، په شګو ولاړ دولت.

۳۸ طاریهی، یوسف، "په بتي کوټ اولسوالی کې طالبان د حکومت د اجارې له ځمکې څخه اجاره راټولوي."

batikot-District-taliban-collect-govt-land-rents?utm_/۲۰/۱۰/۲۰۱۲/https://www.pajhwok.com/en .(۲۰۱۷ August ۱۹ accessed) ۲۰۱۲ October ۲۰ .source=twitterfeed&utm_medium=twitter

۳۹ د موسم په پای کې راپورونه وایي چې په ننګرهار کې ۷۳۱ هکتار د کوکنارو کښت ویجاړ شوی دی. UNODC: "افغانستان د کوکنارو لاندې ځمکه پراختیا پیدا کوي، په هیواد کې د پالیښت لرونکی پرمختګ مخنیوی کوي."

May/afghanistan_-total-area-under-opium-poppy-cultivatio/۲۰۱۷/http://www.unodc.org/unodc/en/frontpage ۱۳,(۲۰۱۷ August ۱۹ accessed) ۲۰۱۷ May ۱۹ expanding--threatening-sustainable-development-in-the-country.html

۴۰ خاماپرس، "په ننګرهار کې د افغان ځواکونو له خوا ۳۳۵ هکتاره ځمکه د کوکنارو له کښت څخه خلاصه شوه."

April ۱۸ .۰۲۵۹۲-acres-of-land-cleared-of-opium-poppy-by-afghan-forces-in-nangarhar-۳۳۵/https://www.khaama.com .(۲۰۱۷ August ۱۹ accessed) ۲۰۱۷

د جنوبي ولسواليو په لوړو برخو کې چې د داعش له نفوذ څخه وتلې وې د کوکنارو کښت په ۲۰۱۱ کې پراختيا موندله ( وګورئ **۵ شکل**). په خوګيانيو کې بزګرانو راپور ورکړی چې د کوکنارو کښت د زراعتي ځمکې ډېره برخه نيولې او يوازې څو پټي يې په شوتلې او غنمو نيولي دي. د غنمو نشتوالی او د ولسوالی د چارواکو کمزورتيا دومره وه چې يوه بزګر وويل "د ولسوالي د انګړ په د ننه کې غنم نشته ". د شينوارو او اچين د ولسواليو په پورته برخه کې کوکنار يو عمده کښت و او په ځينو ځايونو لکه پاخېل کې دغه کښت د کرنييزې ځمکې ۹۰ سلنه نيولې وه.

**۵ شکل**: په خوګيانيو کې د کوکنارو حاصلات، ننګرهار، اپريل ۲۰۱۷.



د ننګرهار ولايت په ډېرو برخو کې د حکومت د نفوذ په کمېدو او د کابل د سند ښکته واديو ته نژدې د کوکنارو د کښت له پراخيتا سره څرګنده نه ده چې ايا په ۲۰۱۷ کې په دې ولايت کې د کوکنارو او ترياکو د کښت اندازه به په مجموعي ډول زياته شي او که څنګه. ډېر څه په هغه پورې تړلي چې د داعش تر ولکې لاندې برخو کې څه پېښيږي. د ۲۰۱۲ کال د مني د کښت په وخت کې داعش تر هغه وخته هلته ولکه درلوده او د کوکنارو کښت منع و. په ۲۰۱۷ کال په پسرلي کې د اختلافاتو د حل نخشه هغه ادعاګانې تاييدوي چې په دغه سيمه کې د غنمو کښت پريمانه و او د ترياکو د کښت اندازه د پام وړ نه و. دوه اونۍ وروسته له هغه کله چې د ۲۰۱۷ کال د اپريل په ۱۳ د اسيد خيلو په کلي د بمونو مور ولوېده، مومند درې ته تلليو ژورناليستانو راپور ورکړ چې په ټوله دره کې د غنمو کښتونه موجود و. د حيرانتيا خبره دا ده که هدف دا و چې داعش تسليم شي او ځايي خلک خپلو کورونو ته راوګرځي– لکه څنګه چې دوی زيات د دې خواهشمند وو- په دې حالت کې ډېر احتمال شته چې د ۲۰۱۷ کال په مني کې به د کوکنارو کښت نور هم زيات شي او په ننګرهار کې به د ۱۸/۲۰۱۷ د کښت په موسم کې د کوکنارو کښت ډېره پراختيا پيدا کړي. په نتيجه کې ويلای شو چې په ۲۰۱۲ او ۲۰۱۷ کلونو کې په ننګرهار کې د کوکنارو د کښت پراختيا – لويې لارې ته نژدې ښکته وادي ګانو ته د دې کښت غځېدل- په دې ولايت کې د افغانستان د دولت کمزورې کېدونکې واکمني څرګندوي. کله چې په ۲۰۰۸ کې دولت کولای شوای د ولسوالي په ډېرو لېرو برخو کې د ترياکو په کښت ممانعت ولګوي، هلته اوس د ولسوالی د مرکز او د نظامي اډو په شاه خوا کې د کوکنارو کښت لېدل کيږي. د دغو ولسواليو خاوره او هلته اوسېدونکی نفوس د حکومت تر کنټرول يا نفوذ د لاندې ګڼل، لکه څنګه چې اوسنۍ ارزونې يې په ځينو قضيو کې څرګندوي، هېڅ مفهوم نلري.

## ۲.۲ په شمال لويديځ کې د کېنت پراختيا: بادغيس

لکه څنګه چې په ننګرهار کې ، په شمال غربي ولايتونو لکه بادغيس، فارياب، جوزجان او سرپل کې د کوکنارو د کښت بدلېدونکې شرايط هم څرګندوي چې حکومت په کليوالي سيمو باندې پوره ولکه نلري. که څه هم په دغو ولايتونو کې د ترياکو او کوکنارو د کښت د اندازې او د دې کښت د زياتوالي په سر اختلافونه شته، خو دا خبره څرګنده ده چې دغه حاصلات په ډراماتيک ډول ډېر شوي دي. په اوسني حالت کې موږ نه پوهېږو چې په شمال غرب کې په تېرو ۵ کلونو کې د ترياکو کښت ولې دومره لوړ حد ته ورسېد او ولې دا سې معلومېږي چې په بادغيس کې دغه اندازه په ډراماتيک ډول لوړه شوې ده. البته څو دا سې خود سره توضيحات شته چې د کوکنارو د کښت زياتوالی د شورشيانو د زياتېدونکې حضور سره تړي، خو د بادغيس په اړه زيات موجوده علمي راپورونه کښت او سوداګرې په حکومت کې له موجودو کسانو سره تړي تر دې چې هغه د حکومت مخالفو کسانو ته منسوب کړي.

د مثال په ډول، په ۲۰۰۲ او ۲۰۰۷ کې راپورونه وايي چې د ولايت او ولسوالي په کچه چارواکي د ترياکو په سوداګرۍ کې بوخت وو- د " بالامرغاب له مافيا "[۴۱] سره په ټينګو اړيکو کې دغه راز راپورونه ادعا کوي چې د مرغاب د ښار په شاوخوا ښېرازه ساحه کې "په ډېر مقدار کوکنار کرل شوي" .[۴۲]

د والي په مشرتابه د ترياکو د تخريب د کلنۍ کمپاين په اړه هم چې د ۲۰۰۲ څخه تر ۲۰۱۳ پورې جاري و ، ادعاوې شته چې په زياته پيمانه فساد [۴۳] شتون درلود او د کوکنارو د کښت د تخريب په هکله ډېر مبالغه اميزه راپورونه خپاره شوي.[۴۴] يو ډول سلوک چې د حکومت او د چارواکو د چلند په ضد يو احساس راپاروي. د GIS شننې څرګندوي چې د تخريب ځينې دغه کمپاينونه څومره خود سره وو چې په لويو فاصلو کې يو ډېر کم مقدار کوکنار تخريب شوي. دا سې معلومېږي چې دغه هڅې په هيڅ وخت کې اغېزناکې نه وې. په دې برسېره، له ۲۰۱۰ څخه د مخه طالبان د غور ماچ او بالا مرغاب ولسواليو ته ننوتي وو چېرې چې د کوکنارو کښت ډېر زيات و. [۴۵] په دې ډول پوښتنه را ولاړيږي چې ولي له ۵ تر ۲ کلونو پورې نور وخت تېر شو چې د کوکنارو کښت په ډراماتيک ډول لوړ حد ته ورسېد.

---

۴۱ د اطلاعاتو په مرکز کې د ثبات لپآره عمليات، "د مرغاب اولسوالی ، بادغيس اولسوالی ارزونه"

https://info.publicintelligence.net/SOICMurghabAssessment.pdf. ۵ May ۲۰۱۰ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷).

۴۲ وکيليکس، "د قلعه نو پی ار تی: د بادغيس والی قصد لري چې د ترياکو له کښت څخه ګټه پورته کړي".

https://wikileaks.org/plusd/cables/۰۷KABUL۱۵۷۱_a.html. ۹ May ۲۰۰۷ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷).


۴۳ وکيليکس، "د قلعه نو پی ار تی: د بادغيس والی قصد لري چې د ترياکو له کښت څخه ګټه پورته کړي".؛ وکيليکس، "د قلعه نو پی ار تی:د بادغيس د ولايت امنيتي وضعې ته يوه کتنه؛ https://wikileaks.org/plusd/cables/۰۶KABUL۲۰۹۳_a.html. ۱۰ May ۲۰۰۶ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷). Wikileaks. "PRT/Qal I Now: Badghis Province Security Overview."

۴۴ "پی ار تی ، قلعه نو: د بادغيس ولايت امنيتي وضعه: وکيليکس؛ " پی ار تي، قلعه نو: د بادغيس والی قصد لري چې د ترياکو له ښه کښت څخه ګټه پورته کړي.


۴۵ برنابی، مونيکا. "د افغاني تحليل ګرانو شبکه: نوي سرتيرى، د بادغيس لپاره ډېر ناوخته؟" مخ ۳۲ د اطلاعاتو مرکز د ثبات لپآره عمليات. "د مرغاب او بادغيس اولسواليو ارزونه"

https://www.afghanistan-analysts.org/new-troops-too-late-for-badghis/. ۷ March ۲۰۱۰ (accessed ۲۰ August ۲۰۱۷).; Stability Operations Information Center. "Murghab District, Badghis District Narrative Assessment."


**۶ شکل: په بادغیس کې د کوکنارو کښت ۱۹۹۹-۲۰۱۲ (هکتار)**





**۷ شکل: پ فاریاب کې د کوکنارو کښت ، ۱۹۹۹-۲۰۱۲ (هکتار)**




**۸ شکل: په جوزجان کې د کوکنارو کښت ۱۹۹۹-۲۰۱۲ (هکتار)**




**شکل ۹: کشت کوکنار در سرپل، ۱۹۹۹- ۲۰۱۲**



## بکس۱: میتودولوژیکی توپیرونه

ښکاره خبره ده چې له ۲۰۱۰ څخه راهیسې په شمال غرب کې د کوکنارو د کښت او تولید کچه په بې سارې ډول لوړه شوې. د UNODC او USG راپورونو دغه خبره تایید کړې او په تېره بیا په ۲۰۱۲ کې په بادغیس ولایت کې دغه اندازه ډېره جګه وه. سره د دې، د زیاتوالي د سرعت او دا چې په کښت کې تر ټولو زیاته دغه اندازه په کوم وخت کې څرګنده شوې، اختلاف موجود دی. د مثال په ډول، UNODC په بادغیس ولایت کې د کوکنارو د کښت زیاتوالی د ۲۰۱۵ او ۲۰۱۲ کلونو په منځ کې ښیي، چې له ۱۲۳۹۱ څخه ۳۵۲۳۴ هکتاره ته وخوت. له بلې خوا USG په خپل راپور کې په همدې موده کې د کوکنارو په کښت کې ډراماتیک زیاتوالی نه ښیي او وايي چې د ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ کلونو په منځ کې دغه کښت بې سارې حد ته ورسېد چې له ۹۳۰۰ هکتاره څخه ۲۱۰۰۰ هکتاره ته وخوت. دغه راز، د شمال غرب د نورو ولایتونو په باب لکه فاریاب، جوزجان او سرپل هم د UNODC او USGد راپورونو په منځ کې توپیرونه شته. USG په سیستماتیک ډول راپور ورکړی چې د کوکنارو د کښت کچه له ۲۰۰۸ څخه راهیسې په هر کال کې لوړه شوې خو د UNODC راپورونه دغه زیاتوالی ته اشاره نه ده کړې ( وګورئ ۸، ۲، ۷او ۹ شکلونه). په راپورونو کې د کچو د توپیر یو لامل ښایي په هغه میتودولوژي کې نغښتی وي چې UNODC په افغانستانت کې د کوکنارو د کښت د تخمین په غرض طرح کړې دی. د USG میتود ثابت پاتې شوی او د ډېرو کلونو لپاره په دې متکي و چې له لېرې څخه یې تعقیب کړي او د نورو په شان له بود جوي محدودیتونو سره مخ نه و. د UNODC د کوکنارو د کلني سروې میتودولوژي له هغه وخته راهیسې چې په ۱۹۹۴ کې افغانستان کې پیل شوې په ډراماتیک ډول بدله شوې. بې ځایه که نه وي که د هغې ځینې عملي مثالونه راواخلو څو وپوهیږو چې د وخت په تېرېدو سره د کښت د کچو په تخمین کې ولې توپیرونه راپیدا کیږي او دغه راز د دې لاملونه کوم دي چې د کښت د تخمین مختلفې اندازې ښکاره کیږي کومې چې د عیني شرایطو کې بدلونه یا هغه بدلونونه نه منعکسوي چې په نورو سروې ګانو کې راغلي وي– دغه میتود اوس هم په ځینو ولایتونو کې په کارول کیږي او "د کلیو د سروې" په نامه یادیږي ( ۷). دغه سروې په معمول ډول د افغانانو له خوا تر سره شوې چې ډېر ځله یې په خپل ولسوالیو کې کار کړی څو معلومه کړي چې د کوکنارو حاصلات څومره وو. په ۲۰۰۲ کې UNODC خپل روش ته بدلون ورکړ. او هغه تکنالوژي یې وکاروله چې وروسته بیا له لېرې څخه د معلوماتو د لاسته راوړلو د ټیټې بیې تکنالوژي وخته. UNODC دغه میتودولوژي په هغو ولایتونو پورې محدوده کړه چې د راپورونو له مخې د کوکنارو د کښت کچه پکې لوړه وه. څرنګه چې UNODC د GIS له ظرفیت څخه برخمنه شوه، او د تجارتي موډلونو بیې ټیټې شوې، د ولایتونو په شمېر کې چې د لیرې څخه تعقیب کېدل، زیاتوالی راغی. دغه شمېر دومره لوړ شو چې UNODC په ۲۰۰۸ کې راپور ورکړ چې ۲۴ ولایتونه یې تر پوښښ لاندې نیولې دغه شمېر په ۲۰۰۲ کې ۷ ولایتونو ته رسېده. لس نور ولایتونه چېرې چې د کوکنارو کښت هیڅ نه و یا د پام وړ نه و- د کلیو د سروې په ذریعه تر پوښښ لاندې راغلي. په ۲۰۰۹ کې UNODC خپله میتودولوژي نوره هم اصلاع کړه ځکه په دې باور وه چې په یوه لویه ساحه کې چېرې چې د کوکنارو د معلوماتو لاس ته راوړل ستونزمن کار و او په دې هم پوهېدل چې د افغانستان په جنوب او جنوب غربي برخو کې د تریاکو کښت په زیاتیدونکي ډول تمرکز پیدا کړی و. په دې وخت کې UNODC د هغو ولایتونو په منځ کې چې د لیرې تعقیب په ځای یې د مشخصو اړتیاوو د پوره کولو روش کاراوه " چېرې چې د ولایت یوازې ځینې ساحې د سټلایټ د تصویرونو په ذریعه تر پوښښ لاندې وې او هغو چې له "نمونه یي روش" څخه یې کار اخیستی. "دا هغه ولایتونه وو چې د کوکنارو کښت پکې ډېره پراختیا موندلې وه. " په ۲۰۱۵ کې میتودولوژي بیا بدله شوه. دغه بدلون په هغو ولایتونو کې تطبیق شو چې له وروستي روش څخه یې کار اخیستی و، څو "نوې او د سټلایټ ښه تکنالوژي په کار واچوي " چې زیات شمېر کوچني تصویرونه عرضه کوي او داسې ارقام ارایه کوي چې د ساحې استازیتوب وکړي. د UNODC له دې لنډ تاریخ څخه کوم شی چې د زده کولو وړ دی هغه یوه مختلطه میتودولوژي ده چې مختلف ولایتونه سروې کوي او بېلا بېل روشونه (د تغیر وړ وي) په څو پرله پسې کلونو کې کاروي. په حقیقت کې د میتودونو دغه ترکیب په ولایتونو کې دننه او ولایتونو تر منځ د شمال غرب له نمونې څخه ښه څرګندیږي ( وګورئ جدول ۱ الف). د مثال په ډول، کله چې کښت د پام وړ نه وي د کلي پر بنسټ سروې تر سره کیږي. په دې سروې کې د سروې کوونکو په تخمین باندې تکیه کیږي او له لېرې څخه د تخمین کولو روش پکې نه کارول کیږي. تر ۲۰۱۴ کال پورې په سرې پل او جوزجان ولایتونو کې د تخمین لپاره دغه روش کارول شوی دی. څومره چې په کښت کې زیاتوالی راځي، UNODC له لېرې څخه یو معین روش په کاروي او معنا یې دا ده چې "د یوه ولایت ځینې برخې په بشپړ ډول تر پوښښ لاندې دي" مګر "د ساحې تخمین باید د حد اقل په ډول وګڼل شي" ځکه ځینې ځایونه چېرې چې کوکنار کرل کیږي ښایي حذف شي. په ۲۰۱۲ کې په فاریاب، جوزجان او سرې پل ولایتونو کې د کښت د کچې د تخمین لپآره دغه روش کارول شوی و. په پای کې کله چې کښت ډېر مهم وګڼل شي هلته نمونه یي روش کارول کیږي دغه روش په ۲۰۱۲ کې د تریاکو د کښت د اندازې د تخمین لپاره په ۱۱ ولایتونو کې، د بادغیس په شمول کارول شوی. په روش کې د بدلونونو نتیجې دا وې چې د کښت د تخمین لپاره په یو شمېر ولایتونو کې په شمال غرب کې UNODC له ۱۹۹۴ څخه راهیسې د سروې درې مختلف میتودونه کارولي دي. حتی په بادغیس کې چېرې چې د کوکنارو د تخمین لپاره یوازې دوه میتودونه کارول شوي و، د کلي سروې د ۲۰۰۰ او ۲۰۰۵ تر منځ او له لیرې څخه د تخمین نمونه د ۲۰۰۲ او ۲۰۱۲ تر منځ. د دغو روشونو په میتودولوژي کې یو شمېر بدلونونه لېدل شوي لکه په ۲۰۱۵ کې د کوچنیو تصویرونو یو لوی شمېر ته اوښتون. دغو ټولو شرایطو د ولایتي ارقامو په منځ کې مقایسه ډېره ستونزمنه کړې او لکه څنګه چې UNODC اعتراف کوي چې " یوازې د ولسوالۍ په کچه تخمینونه د وضعې څرګندویي کوي". د تصویرونو د وخت په اړه ستونزې چې کېدای شي د تصویرونو په تعبیر کې ستونزې راپیدا کړي– په خاص ډول په داسې ولایت کې لکه بادغیس چېرې چې د کښت دوه موسمونه شته- هره دغه شمېره باید په احتیاط سره بیا وکتل شي، په خاص ډول مخکې له دې چې په یوه معین کال کې د تریاکو زیاتوالی یوې خاصې حادثې ته منسوب کړو او هغه په راپورونو کې درج کړو.

**جدول ۱ الف: د افغانستان په شمال غربي ولایتونو کې د UNODC له خوا د کوکنارو د تخمین لپاره مختلف کارول شوي میتودونه، ۲۰۰۷-۲۰۱۲۲۰۱۲.**

| | ۲۰۰۷ | ۲۰۰۸ | ۲۰۰۹ | ۲۰۱۰ | ۲۰۱۱ | ۲۰۱۲ | ۲۰۱۳ | ۲۰۱۴ | ۲۰۱۵ | ۲۰۱۷ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| بادغیس | S | S | S | S | S | S | S | S | S | S |
| جوزجان | S | S | V | V | V | V | V | T | T | T |
| سرپل | S | S | V | V | V | V | V | T | T | T |
| فاریاب | S | S | V | T | T | T | T | T | T | T |

څه شي چې روښانه ده هغه د UNODC د راپور له مخې د زیاتوالي هغه ډول دی چې په کال کې د حاصلاتو زیاتوالی نژدې ۲۳۰۰۰ هکتاره ځمکه ښیي او په ۲ کلونو کې دغه اندازه ۳۰۰۰۰ هکتاره ښیي. که دغه اندازه دقیقه وي نو ډېره د پام وړ ده، په خاص ډول په یو ولایت کې چې په ۲۰۰۲ کې د کوکنارو د کښت هیڅ راپور نه دی ورکړل شوی او چېرې چې یوازې ۴۰۰ هکتاره د کوکنارو د کښت په ۲۰۰۵ کې لېدل شوي. د دې ډول ډراماتیک زیاتوالي سره لازمه ده چې د تریاکو او کوکنارو د کښت د ارزښت په باب فکر وکړو او پوښتنه مطرح کړو چې هغه پوهه، مهارتونه او مختلفې ذریعې چې د دې پراختیا لپاره لازمې وې له کومه ځایه راغلې.

د کښت د پوهې او مهارتونو په اړه البته په معمول ډول داسې اوازې شته چې د شاګردي او "روزنې" [46] له لارې لاس ته راځي او "طالبان" او "سوداګر" د دغه کښت توخمونه برابروي. په افغانستان کې د دغو ادعاګانو پراخه سابقه موجوده ده.[47] دا اکثر د "زورواکونو کیسې" دي هغه وړې کسې چې ځایي زورواکانو او د ځمکې د خاوندانو په باره کې دي چې په خپله د کښت کولو تجربې نه لري او اکثره وخت د حاضرینو لپاره دغه کیسې په ډېر شوق او تفصیل سره بیانوي. دا په معمول ډول هغه منبع ده چې د بزګرانو هغه شکایتونه خپروي چې ګویا دوی د وسله والو کسانو "جنګ سالارانو یا طالبانو" له خوا په جبري ډول د کوکنارو کښت ته مجبوره شوي.[48] په دې کیسو کې د اصلاح شویو توخمونو راپورونه هم شامل دي چې له مختلفو هیوادونو څخه راځي لکه هند، اټالیا، برما او د امریکا متحده ایالات[49] او په وروستیو وختونو کې چین[50] هم یاد شوی. د چین په اړه ادعا کیږي چې توخمونه هلته په جنیټیکي ډول بدل شوي دي.[51] په ځینو وختونو کې پوهان او د پالیسي تحلیل ګران هم کېدای شي د دغو ادعاګانو په ذریعه وغولېږي شي او د فورستن برګ په قول "د ځایي اساطیرو په غیر انتقادي منلو" کې ښکېل شي.[52]

---

۴۲ بیجلیکا، جیلینا، "د افغاني تحلیل ګرانو شبکه: د یوه کال نتایج یو میلان نه جوړوي: په ۲۰۱۵ کې د کوکنارو په کښت کې کموالی." https://www.afghanistan-analysts.org/one-years-result-is-not-a-trend-the-opium-cultivation-decrease-۲۰۱۵/. ۱۸ November ۲۰۱۵ (accessed ۲۰ August ۲۰۱۷)

۴۷ د مثال په ډول، فیلباب براون (۲۰۰۲) ادعا کوي چې په ۹۰۰ لسیزه کې طالبانو د کوکنارو د کښت لپاره رسمي جوازونه ورکړي وو، چې موډل فارمونه جوړ شي، بزګرانو ته روزنه ورکړي چې په اغېزناک ډول د کوکنارو کښت کولای شي او د کوکنارو د کښت لپاره کیمیاوي سروې ووېشل شي (۱۳۷ مخ). د دې ډول ادعا یوه وروستۍ بېلګه کولای شي د جګړو او سولې د راپورونو د انستیتوت په یوه مقاله کې ولولو، "نوې هڅې به په افغانستان کې د کوکنارو کښت ته پراختیا ورکړي؟"، ۱۲ مارچ ۲۰۱۷. https://iwpr.net/global-voices/could-new- poppy-strain-be-boosting. Fieldwork by the author in Afghanistan over a two decades' period has not revealed any supporting evidence for such claims د دې لیکونکی څېړنې، چې په افغانستان کې یې دوه لسیزې کار کړی دی، دغه ادعا نه شي تقویه کولای.

۴۸ د مثال په ډول، ډېر ځله داسې راپورونه ورکړل شوي چې نسیم محمد اخوندرزاده په هلمند کې په ۱۹۸۰ کلونو کې په مرکزي هلمند کې د کوکنارو کښت معرفي کړ او بیا یې بزګرانو ته ددې کښت لاري چارې وښودلې. (میکلوی، ۱۹۹۱: ۴۵۸؛ روبین، ۲۲۲، ۱۹۹۵: هاوین شتین ۲۰۰۷: ۱۲۹؛ فیلباب براون ۲۰۱۰، ۱۱۲؛ پیټرز ۲۰۰۹: ۳۴ ګریفین ۲۰۰۱ : ۱۴۸؛ جانسن ۲۰۱۲، ۲۹۱؛ چاندراسکیران ۲۰۱۲: ۴۰-۴۱). دغه راپور استدلال کوي چې بزګران مجبور و د خپلې ځمکې ۵۰ سلنه د کوکنارو کښت ته وقف کړي؛ که په دې کې بېرته پاتې راغلي واي، د راپورونو له مخې جزایي لیدلې شکنجه شوي او وژل شوي دي. دغه ادعا په ادبیاتو کې ډېر ځله تکرار شوې ده او د نورو فعالینو لپاره لکه طالبان هم تکرار شوې ده. په دوو لسیزو کې ژورو څېړنو یو داسې بزګرونه موند چې دغه ادعا د تقویه کړي. کله چې پوښتنه شوې چې ایا دوی د کوکنارو کرلو ته مجبور شوي. دی، بزګرانو خندلي، دغه ادعایې رده کړی او ویلي یې دي چې دوی به ولې دې ته مجبوره کېدل، په داسې حال کې چې د دغه کښت ګټې ټولوته ښکاره دي. دا خبره د انکار وړ نه ده، په نسبي ډول ښې بیې، قرضې او ځمکې ته لاس رسی، مارکیټ تضمین شوی، او اخیستونکی کروندې ته راځي. پوهانو چې په هلمند کې یې ډېر وخت تېر کړی دی، دغه عامه ادعاګانې نه مني چې د اخوند نسیم یا طالبانو په اړه موجودي دي. د مثال په ډول، مارتین (۲۰۱۵) په خپلو خبرو کې د هلمند په باب وایي: " [نسیم] د شمالي هلمند والي نه و په دې مفهوم چې لویدیځ مشاهده کوونکی هغه ته ګوري- هغه په هغه خاوره چې د ده خپله وه کنټرول نه درلود. د مثال په ډول، ځینې ساحې لکه بغران، ده هیڅکله ونه شو کولای تر خپل نفوذ لاندې یې راولي او نورې ساحې وې چې ده د خپلو کسانو په ذریعه هغه تر خپل کنټرول لاندې ساتلې وې. (مارتین ۳، ۱: ۱۰۲-۱۰۵)"

۴۹ د واردو شویو تخمونو د پخوانیو خبرو لپاره وګورئ د UNODC د کوکنارو د ښت کلنی سروې ۱۹۹۹ ضمیمه (ه) مخ ۴۹-۳۲. په دغو راپورونو کې له امریکا؛ ایټالیا، برما او هند څخه د تخمونو د راوړلو کیسې شته. دغه راپور دې نتیجې ته رسېدلی چې بزګران د تخمونو ډولونه یادوي خو د تخم هغه مدارک یې ایسته کړی وي له کومه ځایه چې تخم راغلی دی- دغه روش د مارکیټ د پیدا کولو لپاره یوه طریقه هم وه چې تخمونه "مخصوص" او "غیر محلي" وښیي- په تېره لسیزه یا له هغه پخوا مې دلته د ورته تخمونو د واردولو په اړه له رسنیو او اطلاعاتي سرچینو څخه اورېدلي و. ډېرې ځلې د تریاکو د مختلفو قسمونو خصوصیات له حاصیلاتو سره سمون نلري چې له کښت څخه لاس ته راځي. د مثال په ډول، له برما څخه د واردو شویو تخمونو په اړه ادعا کېده چې د افغاني تخمونو په پرتله ښه حاصیلات ورکوي، خو دغه تخم ډېرو اوبو او کیمیاوي سروې ته ضرورت لري – دغه ادعا بشپړه توګه د هغه څه په خلاف ده چې په برما کې لیدل کیږي.

۵۰ د ۲۰۱۵ په پسرلي کې په لومړی ځل په رسنیو کې چین هم د یوې منبع په توګه یاد شوی. د جګړو او سولې د راپورونو د انستیتوت په ذریعه په دې اړه نور معلومات په یوه مقاله کې لیدل کیږي: "ایا نوې هڅې به په افغانستان کې د کوکنارو کښت ته پراختیا ورکړي؟"

https://iwpr.net/global-voices/could-new-poppy-strain-be-boosting.

۵۱ څرګنده نه ده چې مرکه ورکوونکی، ژورنالستان او تحلیل ګران څنګه دې پایلې ته رسېدلي دي چې ګویا تخمونه په جینیټیکي ډول بدل شوي دي.

۵۲ د "ځایي افسانو" یوه تر ټولو ښه نمونه د "د کندز د تریاکو خربوزې" په باره کې راپورونه دي. دغه کیسه د نومړی ځل لپاره د UNODC (بیا UNODC) د سروې کوونکو له خوا په ۱۹۹۸ کې په هغه وخت کې یاده شوه کله چې دوی په شمال شرق کې د کوکنارو د کښت په اړه له څېړنو څخه وروسته راوګرزېدل دوی له ځان سره د کندز د بزګرانو کیسې راوړې چې هندوانې او کوکنارې کرلې دي. دوی ویل چې حاصیلات داسې ښکاري لکه هندوانه خو کله چې مېوه ماته شي له مابین څخه یې تریاک راوزي. کله چې د دې کیسې د درستوالي په اړه پوښتنه راپیدا شوه، سروې کوونکو خپلې خبرې په دې ډول توجیه کولې چې د کندز بزګران ډېرې ښې تجربې لري دي حقیقت ته په اشارې سره چې ګویا دې بزګرانو داسې بوبوټۍ کرلی چې د رومي بادنجانو شکل لري او مېوه یې د ځمکې په سروې خو په رېشه کې کچالو وي. همدغه کیسه د "کندز د تریاکو جربوزې" د دې راپور لیکونکي ته هم د کرنې د یوه افسر له خوا چې په ۲۰۰۳ کې په بدخشان کې د اغا خان د فونډېشن لپاره کار کاوه، تکرار شوه.

په هر حال، په تېرو ۲ لسیزو کې د کلیوالي سیمو د کورنیو د معشیت په باب ژورو څېړنو یو بېل تصویر وړاندې کړی دی. دغو څېړنو ښودلې ده چې د کوکنارو د کښت پراختیا د نورو کسانو کار نه و بلکې په خپله د بزګرانو په اراده شوې دې. د دغو څېړنو یوه مشترکه نقطه په افغانستان کې د مختلفو منطقو په منځ کې د کورنیو او قبیلو اړیکې او د موسمي او دایمي مهاجرتونو طریقې دي په خاص ډول د اقتصادي، سیاسي او یا محیطي نارامیو په دوران کې. د ۱۹۹۰ لسیزې په وروستیو وختونو کې د UNODC څېړنو د اتو ولایتونو په ۱۳ ولسوالیو کې د کوکنارو د کښت پراختیا بررسي کړې ده. دغو څېړنو څرګنده کړه چې د تریاکو او کوکنارو د کښت د درې په څلورمه برخه کارګرانو په هغو ساحو کې کوکنار کرلي چې کوکنار هلته معرفي شوي وو. دوی د دې کښت تجربه درلوده مخکې له دې چې هغه په خپلو ځمکو وکري. د دوی اکثریت د تریاکو د تولید په نورو ولسوالیو کې د کښت یا حاصل اخیستلو په موسمونو کې کار کوي.[۵۳] پاتې ۲۵ سلنو، چا چې په خپلو ځمکو له کرلو څخه مخکې د کوکنارو د کښت تجربه نه درلوده ویلي دي چې د دې کښت په باره کې له خپلو خپلوانو او ګاونډیانو څخه – نه له سوداګرو یا طالبانو - ډېر څه زده کړي دي.

د مثال په ډول، په ۱۹۹۸ کال کې د لوګر په ازره ولسوالی کې د هغو بزګرانو اکثریت چې د کوکنارو په کښت کې بوخت وو، د ننګرهار په مختلفو برخو کې د کوکنارو په موسم کې د موسمي کارګرانو په ډول کار کړی و، په خاص ډول د حصارک په ولسوالی کې چېرې چې دوی کورنې او قبیلوي اړیکې درلودې.[۵۴] د لغمان ولایت په قرغي او مهترلام ولسوالیو کې بزګرانو په نورو ولسوالیو کې د کار کولو په ذریعه د کوکنارو په اړه معلومات تر لاسه کړې. په دغو ولسوالیو کې د احمدزیو قوم مېشت دی. بزګرانو دغه راز د خوګیاڼیو له اجاره دارانو څخه هم معلومات تر لاسه کړې ځوک چې لغمان ولایت ته د کوکنارو د کښت لپآره راتلل ځکه چې په خپلو کلیو کې یې په کافي اندازه ځمکې نه درلودې.[۵۵] د کونړ ولایت اسعد اباد، مروره او شیګل ولسوالیو کې بزګرانو پخوا د پاکستان د قبایلي منطقې له باجوړ سره په ګاونډیو سیمو کې د کوکنار په کرلو کې بوخت وو. دغه بزګران هلته د مهاجرینو په ډول اوسېدل وروسته له هغه چې دوی د ۱۹۸۰ لسییزه کې له جګړو څخه هلته تښتېدلي وو.[۵۶] د خوځښت دغې نمونې په یوویشتمې پېړۍ کې هم ادامه پیدا کړه. له کامې څخه بزګران د مومندو اجینسي ته تلل چې د کوکنارو د حاصلاتو په موسم کې کار وکړي کله چې په ننګرهار کې د کوکنارو کښت په لومړي سر کې منع شوی و.[۵۷] په ۱۹۹۹ کې په هلمند کې څېړنو وښوده چې د غور د ولایت له پساوند، تیواره، چخچران او شارق ولسوالیو څخه مهاجرینو پر شمالي او مرکزي هلمند کې د تریاکو او کوکنارو په کښت کې څومره نقش درلود.[۵۸] د ۱۹۹۹ لسییزې په منځ او پای کې د دغو سیمو بزګرانو چې ډېری یې تایمني وو، د کوکنارو د کرلو او حاصلاتو په موسم کې د کار لپآره لېدل شوي. د دغو بزګرانو ځینو هلته ځمکې په اجاره اخیستې وې.[۵۹] وروسته د ۲۰۰۵ او ۲۰۰۸ کلونو تر منځ په غور کې څېړنو وښودله چې د هلمند او غور بزګرانو څنګه د یوویشتمې پېړۍ په لومړیو وختونو کې د غور په ولایت کې د تریاکو کښت معرفي کړ او پراختیا یې ورکړه.[۶۰] دغه بزګران په ۲۰۰۱/۲۰۰۰ کلونو کې د کښت په موسم کې په کوکنارو د طالبانو له خوا د بندښت له امله غور ته تښتېدلي وو. همدارنګه د بلخ او ننګرهار په ولایتونو کې څېړنو د چاربولګ او چمتال د ولسوالیو په منځ کې د کورنۍ او قبیلوي اړیکې څرګندې کړې او ښوولې ده چې څنګه په ننګرهار کې د سرخرود او شینوارو له ولسوالیو څخه زیات شمېر بزګرانو د موسم پر بنسټ هلته ځمکې لټولې او یا یې د حاصلاتو په موسم کې کارونه کړي دي. دغه بزګران په ۲۰۰۵ کال کې وروسته له هغه بلخ ته تللي چې حاجي دین محمد په ننګرهار کې د کوکنارو په کښت بندښت ولګاوه.[۶۱] د کار د مارکیټونو

۵۳ UNODC: "د UNDCP ستراتیژیکه څېړنه ۵#: په افغانستان کې نویو اولسوالیو ته د کوکنارو د کښت د پراختیا د پروسې یو تحلیل". نوومبر ۱۹۹۹ اولسوالی ۱۷-۱۸

۵۴ UNODC " UNDCP ستراتیژیکي څېړنه ۵# ولسوالی ۱۷-۱۸"

۵۵ UNODC " UNDCP ستراتیژیکي څېړنه ۵# ولسوالی ۱۷-۱۸"

۵۶ UNODC " UNDCP ستراتیژیکي څېړنه ۵# ولسوالی ۱۷-۱۸"

۵۷ مینزفلید، ډیوید، پستي یا غریبی؟ په ننګرهار کې د ۲۰۰۵/۲۰۰۴ په موسم کې د تریاکو په کښت باندې بندیز او په کلیوالي ساحو کې د معشیت په ستراتیژیو د هغه اغېزې

۵۸ UNODC "د UNDCP ستراتیژیکه څېړنه ۴# کار ته لاس رسی: د هلمند په ولایت کې د سیارو کار ګرو د معشیت په ستراتیژې د کوکنارو نقش جون ۱۹۹۹"

۵۹ UNODC " UNDCP: ستراتیژیکه څېړنه ۴#، ۹"

۶۰ مینز فلید، ډیوید "په غور او ننګرهار کې د کوکنارو د کښت"

https://areu.org.af/archives/publication/۷۳۲. December ۲۰۰۷, (accessed ۲۰ August ۲۰۱۷), ۳۱-۳۲

۶۱ پین، ادم. "په کندز او بلخ کې د کوکنارو کښت."

https://areu.org.af/wp-content/uploads/۲۰۱۵/۱۲/June.pdf ۷۱۸E-Opium-Cultivation-in-Kunduz-in-Balkh-CS-print ۲۰۰۷ (accessed ۲۰ August ۲۰۱۷), ۱۹.

په اړه چې په يو بل متکي دي د قومي او کورنيو اړيکو په باب همد ا ډول راپورونه په بادغيس کې هم اورېدل شوي. د بادغيس ولايت په بالا مرغاب او غورماچ په ولسواليو کې ويل کيږي چې د اڅکزيو، بارکزيو او نورزيو قبيلو د ۱۹۹۰ لسييزو په وروستيو کې د وچکالي په موسم کې هلمند او اورزگان ته کوچ کړی دی. دوی له هغو منطقو څخه وو چېرې چې د دوی نيکونه د ۱۹ پېړۍ په پای کې د امير عبدالرحن خان له خوا بيا مېشت شوي وو. دا هغه بزګران او د دوی وارثين وو چې د ناکراريو په وخت کې يې د خپلو خپلوانو په لورې سفر کړی و لکه د ۲۰۰۸ کال د وچکالۍ په موسم کې. دوی خپلو کليو ته په بالا مرغاب او غورماچ[22] کې د ترياکو د کښت تخم او کاري فرصتونو په اړه له ځان سره پوهه راوړه. لکه څنګه چې له غور څخه د ترياکو د کښت پوهه ولېږديده په همدې ډول دغه پوهه له جنوبي ولايت څخه بادغيس ته انتقال شوه. دغه پوهه د حاصلاتو د اخيستلو له ورته وسايلو او سبک څخه څرګنديږي لکه نشتر او ماله چې په هلمند کې پيدا کيږي. کله چې يو ځل په دغو ولسواليو کې وکرل شول، د ترياکو د کښت پوهه ډېر ژر بيا د بادغيس د ولايت د ولسواليو په منځ کې د کورنيو او ګاونډيانو د ارتباط له لارې او د موجوده ترانسپورتي او تجارتي لارو څخه خپره شوه- لکه څنګه چې په نورو ولايتونو کې دغه کښت معرفي شوی و. هر چا چې د افغانستان په کليو کې ژوند کړی وي پوهېږي چې نوی کښت يا پرمختللې تيکنالوژۍ څنګه د عابرينو توجه ځان ته جلبوي او بزګران په مکرر ډول د هغو په هکله له پوښتنو سره مخامخ کيږي.

دغه روش د بزګرانو له خوا کارول شوی چې په ډېرو انکشافي پروګرامونو کې ليدل کيږي لکه د USAID د کره نيېز ، سيمه ييز انکشافي پروګرامونه (RADPs ). دغه راز د ولسواليو په منځ کې مهاجرتونو – د مثال په ډول له غورماچ څخه بالا مرغاب ته ځکه چې کورنۍ له جګړو څخه په تيښته کې وې او د جګړو تر پايه له خپلو خپلوانو سره پاتې شوې- هم د ترياکو د کښت په اړه خبرونه رسولي او اړونده پوهه يې خپره کړې.

که څه هم په بادغيس کې د ترياکو د کښت په اړه مهارتونه او پوهه په جنوب کې قبيلوي او کورنيو اړيکو ته منسوبيږي او له هغه وروسته کله چې په ولايت کې دغه کښت معرفي شو هلته يې رواج وموند خو په کافي اندازه ځمکه او د کار قوه هلته نه وه موجوده چې دغه کښت ته په ډراماټيک ډول پراختيا ورکړي. هغه ادعاګانې چې د غنمو ځای کوکنارو نيولی و چې له هغه سره د بادغيس له خلکو سره د خوړو د مصوؤنيت په اړه يې اندېښنې راپيدا کړې،[23] په هغه باور ولاړې وې چې تر کښت لاندې د ځمکې اندازه ثابته پاتې شوې.[24] دغه راز، دغه ادعاګانې د دې حقيقت څخه په ناپوهي کې راپيدا شوې چې غذايي مصوؤنيت د غذايي حاصلاتو د توليد او د اخيستلو په ذريعه تضمين کېدای شي. په بادغيس کې ډېر بزګران په دې باور دي چې دوی د ترياکو د کښت له لارې غذايي مصوؤنيت تر لاسه کولای شي.دغه راز دوی په دې باور دي چې د ترياکو د خرڅلاو په ذريعه دومره مقدار غنم رانيولای شي چې دوی يې له خپلو ځمکو څخه د کښت له لارې لاس ته نشوای راوړای. **په دې برسېره، داسې ډېر کم شواهد په بادغيس کې شته چې بزګرانو د غنمو ځای** د کوکنارو په کښت نيولی وي، که څه هم له ۲۰۱۰ څخه راهيسې د کوکنارو کښت په ډراماټيک ډول زيات شوی دی. د GIS يا د جغرافيا د معلوماتو د سيستم تحليل د ټولې کرنيزې ځمکې زياتوالی له **۴۲۴۲۴۱** هکتاره څخه په ۲۰۱۰ کې **۲۷۱۱۵۳** هکتاره په ۲۰۱۲ ښيي. دغه اندازه **۲۰۲۵۱۲** هکتاره زياتوالی دی. په دې ډول د کوکنارو او د غنمو په کښت کې د زياتوالی سبب شوې ( وګورئ ۱۰ شکل). د دغې نوې ځمکې زياته برخه له باران څخه اوبه کيږي چې غنم ، کوکنار او اوربشې پکې کرل کيږي. په بادغيس کې د کرنيزې ځمکې زياتوالی د دې معنی لري چې يوازې **۵** سلنه يې د کوکنارو کښت ته وقف شوې او بزګرانو ته دا فرصت ميسر و چې د خپلو کورنيو او څارويو د خوړو لپاره د غنمو کښت او کار ته ادامه ورکړي.( وګورئ ۱۱ شکل).


۲۲ ويکيليکس " پی ار ټی/ قلعه نو: د بادغيس ولايت امنيتي وضعه ."

۲۳ بيجيليکا ، جيليندا ، " د افغاني تحليل ګرانو شبکه:" د يوه کال نتيجه ميلان نه دی. په ۲۰۱۵ کې د کوکنارو په کښت کې کموالی


۱۸ ./opium-cultivation-decrease-۲۰۱۵-https://www.afghanistan-analysts.org/one-years-result-is-not-a-trend-the
.(۲۰۱۷ August ۲۰ accessed) ۲۰۱۵ November

۲۴ د مثال په ډول، بيجيليکا ، جيلينا. " د افغاني تحليل ګرانو شبکه " د يوه کال حاصيلات ميلان نه دی. د ۲۰۰۸- د وچکالی کال – ارقامو او د UNODC د کوکنارو ارقام راوړي چې د ولايت يو پر دريېمه برخه ځمکه په ۲۰۱۲ کې د کوکنارو تر کښت لاندې وه. په ۲۰۱۲ کې **۲۷۱،۱۵۳** هکتار کرنيزه ځمکه د کوکنارو په کښت ۲۰۱۱ کې نيول شوې وه. د دې معنی دا وه چې په ۲۰۱۲ کې د کرنيزې ځمکې يوازې **۵** سلنه د کوکنارو تر کښت لاندې و. بيجليکا ، جيلينا. "د افغاني تحليل ګرانو شبکه: ليرې والی او غفلت څنګه د ياغيانو او کوکنارو د کښت له پراخېدو سره مرسته وکړه : بادغيس کيسه. "

https://www.afghanistan-analysts.org/how-neglect-and-remoteness-bred-insurgency-and-a-poppy-boom-the-
./story-of-badghis ۲۲ February ۲۰۱۷ (accessed ۲۰ August ۲۰۱۷), ۸.




۱۰شکل: په بادغیس کې د کرنیزې ځمکې په اندازه کې بدلون، ۲۰۰۷-۲۰۱۶




۱۱ شکل: د بادغیس ولایت بالامرغاب او لسوالۍ کې د کوکنارو کښت تصویر

کرنیزو عایداتو  ته په کتو سره په بادغیس کې لویه پوښتنه ښایي دا نه وي چې څومره نوې ځمکه زیاته شوې په وروستیو کلونو کې کرنیزې ځمکې  په عموم ډول پراختیا موندلې، مگر مهمه پوښتنه دا ده چې د کوکنارو د کښت لپاره ضروري شمېر کار گران له کومې خوا راغلي دي. دا خبره باید یاده شي چې د کوکنارو کښت ډېرو کارگرانو ته اړتیا لري چې په یوه هکتار کې **۳۲۰** مرد  کار ورځو ته ضرورت لري. د غنمو  کښت یوازې په یوه هکتار کې **۵۴** مرد کار ورځې غواړي. په داسې حال کې چې په ځینو ځایونو لکه بالامرغاب کې د نفوسو د ډېروالي او د نویو مېشتېدنو علایم شته، خو په غور ماچ ولسوالي کې چې د څو کلونو لپاره د عبدالرشید دوستم او طالبانو په منځ کې د جگړو یوه مرکزي نقطه وه، خلک د جگړو له وېرې په تېښته کې وو. داسې راپورونه نه دي راغلي چې له نورو ولایتونو څخه بادغیس ته د خلکو په لوی شمېر کې ډېروالی څرگند کړي.

بیا هم، کله چې د کوکنارو د کښت د پراختیا لپاره د نورو کارگرانو ضرورت یادېږي، باید وگورو چې د بادغیس د خلکو په اړه زموږ د معلوماتو پر بنسټ څه شی د امکان وړ دي. د ترياکو په اندازه کې زیاتوالی چې د UNODC په قول په **۲۰۱۵** او **۲۰۱۶** کې رامنځ ته شوی **۸،۲** میلیونه مرد کار ورځو ته اړتیا لري. د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۲ کلونو په منځ کې تخمیني زیاتوالی ( **۳۲۲۷۲** ) هکتاره **۱۱،۲** میلیونه مرد کار ورځې غواړي او په **۲۰۱۲** کې د کوکنارو کښت **۱۲،۷** میلیونه مرد کار ورځو ته په عموم ډول اړتیا لري. بادغیس د کوکنارو د کښت دوه موسمونه لري، چې کارگرانو ته تقاضا ډېر وي، د ۲۰۱۰ او **۲۰۱۲** کلونو په منځ کې د کښت پراختیا د **۵۸۰۹۷** په برابر د بشپړې ورځې کارونو ته اړتیا پیدا کوي د **۲۰۱۲** کال محصولات **۲۳۴۲۱** دغه ډول کاري ورځو ته ضرورت لري. ایا دغه اندازه امکان لري چې عملي شی؟

د نفوسو ارقام – په خاص ډول که بزگران د خپلو کورنیو غړي، د ماشومانو او ښځو په گډون په کار واچوي یو عام تاکتیک څرگندوي چې هدف یې د کار د مزد کمول دي. دغه کار په ځانگړي ډول په شمال کې ممکن دی ځکه هلته د اجاره داري له لارې د ارزانې بیې کاري قواوو ته لاس رسی ډېر عام نه دی. د مثال په ډول، د افغانستان حکومت په **۲۰۱۲** کې د بادغیس نفوس ( **۲۱۰۰۰۰** ) کسان تخمین کړی و او د کاري ځواک فیصدي **۵۲** تخمین شوې وه. که فرض کړو چې له هغه راهیسې نفوس ډېر نه وی زیات شوی، د کوکنارو کښت په **۲۰۱۲** کې باید په بادغیس کې **۱۸،۵** سلنه د نفوسو په کار گمارلي وای.[۲۵] دغه اندازه باید په بالامرغاب او غور ماچ ولسوالیو کې ډېر زیات وای ځکه د کوکنارو کښت هلته ډېر تمرکز درلود.  یوه ډېره کره اندازه- د ډېرو دقیقو تصویرونو څخه لاس ته راغلې چې په هیواد کې له هرې کورنۍ څخه اخیستل شوی، د بادغیس په شمال-څرگندوي چې د **۲۰۱۲** کال حاصلاتو ښایي **۸،۵** سلنه د کاري ځواک جذب کړې وي. [۲۶] دغه حالت په راتلونکې کې حتی په هغو ساحو کې چې اوس تمرکز وربانديې شوی د زیاتوالی امکان څرگندوي،  په شمال غرب کې د کوکنارو د کښت د زیاتوالي یوه دقیقه شننه څرگندوي هغه څه چې په بادغیس ولایت کې پېښ شول ښایي په دومره زیاته پیمانه نه و لکه څنگه چې ویل کیږي. لومړی دا چې څرگنده نه ده چې له **۲۰۱۵** څخه راهیسې د زیاتوالی اندازه دومره وه لکه څنگه چې له د UNODC  په راپورونو کې راغلي. UNODC کال په کال د کوکنارو د کښت د ارزونې روش بدل کړی او په  دې ډول یې مقایسوي کتنه گرانه کړې ده. په دې برسېره، د کښت د اندازې نور قوي تخمینونه هم شته. دغه تخمینونه څرگندوي چې په زیاته پیمانه وده شوې ده خو د UNODC د قول په خلاف دغه وده ډېره اوږده وه. دویم، هغه طریقه چې کوکنار په بادغیس ولایت کې معرفي شول او بیا په دې ولایت کې یې پراختیا پیدا کړه، د هغې نمونې د افغانستان په نورو ولایتونو کې هم لیدل شوې دي. دغه روش د کورنیو او قبیلوي اړیکو سره تړاو لري او د موسمي دایمي مهاجرتونو دودیزې نمونې دي چې په خاصو بحراني او د گډوډیو په وختونو او داسې حالتونو کې رامنځ ته کیږي چې بزگران له هغه د مخه په نورو ولایتونو کې د کوکنارو له کښت سره بوخت وو.

**۲۵**  د افغانستان حکومت په **۲۰۱۲** کې د بادغیس نفوس د مرکزي دفتر د کلیو د نمونو څخه اخیستل شوی دی نه د یوې احصایې څخه چې په افغانستان کې ټولې موجودې کورنۍ  شمېر پکې وي. د افغانستان د اسلامي جمهوریت حکومت. "ملي زیانمنتوب او د خطرونو ارزونه ۲۰۱۱-۲۰۱۲."

http://www.af.undp.org/content/dam/afghanistan/docs/MDGs/NRVA%۲۰REPORT-rev-۵%۲۰۲۰۱۳.May ۲۰۱۳ pdf. (accessed ۲۰ August ۲۰۱۷), ۱۷۹.


**۲۶**  شرکت له دقیقو تصویرونو څخه استفاده کړې چې په افغانستان هره موجوده Alics دکورنۍ په دقیق ډول تشخیص کړې. په **۲۰۱۴** کې د ټولو کورنیو شمېر **۱۳۲۲۲۲** و. که د کورنیو د غړیو شمېر د **۲** او لسو تر منځ توپیر کوي په دې صورت کې د نفوسو شمېر د **۷۹۳۵۷۲** او **۱۳۲۲۲۲** تر منځ دی. که **۵۲** سلنه د دې شمېر کاري قوه وگڼو **۴۴۰۴۰۰** او **۷۴۰۲۲۷** تنه کارگران لري. که د کوکنارو کښت لاندې ځمکه **۳۵۲۳۴** هکتاره تخمین کړو، چې **۳۲۰** ورځې په هر هکتار ځمکه کې کار غواړي، د کوکنارو کښت به په **۲۰۱۲** کې **۱۲۲۲۴۲۴۰** کاري ورځې وغواړي. که دغه عدد د بشپړې ورځې کار سره برابر په کال کې د **۲۰۰** کاري ورځو باندې واړوو په **۲۰۱۲** کې به د کوکنارو کښت **۲۳۴۲۱** کارونو ته ضرورت ولري چې بشپړ شي. دغه شمېر د کاری نفوس د **۸،۵** او **۱۸،۵** سلنه جوړوي.

درېیم د کوکنارو کښت په دې ولایت کې د کرنیزې ځمکې د اندازې له زیاتوالي سره سم پراختیا موندلې. د افغانستان د تحلیل گرانو د شبکې د قول په خلاف چې ادعا کوي چې د کوکنارو کښت په ولایتونو کې د کرنیزې ځمکې یو په درېیمه برخه نیولې ده درسته نه ده. دغه کښت په حقیقت کې یوازې پنځه فیصده ځمکه رانغاړي او له ۲۰۱۰ څخه راهیسې ۲۰۰۰۰ هکتاره زیاته کرنیزه ځمکه د بزگرانو لپاره دا امکان برابروي چې د خپلو کورنیو او خپلو څاریو لپاره زیاته اندازه غنم او اوربشې وکري. دغه امکان د ځینو کسانو د خبرو په خلاف یو معشیت برابروي چې ورځني مهم خوراکي توکي، په نسبي ډول د لوړې نغدې بیې حاصلات چې د پلورلو ښه بازار ولري او له دې سره څاروي او له هغو څخه حاصلات رانغاړي. په دې ډول، امکان لري چې په دغو ساحو کې د غذایي مصوؤنیت سره مرسته وشي او د وچکالي او د کار د اجرې له ټیټوالي له خطرونو سره مقابله وشي. په پای کې د نفوسو ارقام څرگندوي چې د کوکنارو په کښت کې نه یوازې زیاتوالی امکان لري د ترياکو د بیې د نسبي لوړوالي، د حاصلاتو د زیاتوالي او په ۲۰۱۷ کې د قانوني اقتصاد د تجریدي کمزورتیا له امله به په راتلونکی کلونو کې د آفینو په کښت کې نور هم زیاتوالی پیدا شي.

## ۲.۳ په شمال کې د کوکنارو د کښت زیاتوالی: بلخ

د بلخ ولایت او د والي عطا واکمني د ډېرو کلونو لپاره تجلیل شوې څکه چې د کوکنارو د کښت په محوه کولو کې پرمختگ لیدل شوی. UNODC په ۲۰۰۵ کال کې تخمین کړی و چې د کوکنارو کښت په دې ولایت کې له ۱۰۰۰۰هکتاره ځمکې څخه زیات و ( وگورئ ۱۲ شکل). په ۲۰۰۷ کې دغه ولایت د کوکنارو له کښت څخه خلاص ولایت اعلان شو او د والي عطا هڅې په ملي او بین المللي کچه د کوکنارو د کښت د کموالی لپاره وستایل شوې. د نورو ولایتونو په خلاف چېرې چې د کوکنارو کښت د یوه کال لپاره په ډراماټیک ډول را ټیټ شو خو د څو کلونو وروسته بېرته لوړ حد ته ورسېد، په بلخ ولایت کې د کوکنارو کښت د څلورو نورو کلونو لپاره تر ۲۰۱۲ پورې په ډېره ټیټه کچه کې پاتې شو.[۲۷] له هغه وروسته د کوکنارو په کښت کې یوازې ۴۱۰ هکتاره زیاتوالی لیدل شوی او والي عطا ډېر ژر د کښت او د هغو کسانو په وړاندې ودرېده چې د چمتال او چاربولک په ولسوالیو کې کوکنار کرل. د والي عطا دغه هڅې د دې لپاره وې چې په دې ولایت خپله سلطه ټینگه کړي. [۲۸]

۱۲ شکل: په بلخ کې د کوکنارو کښت




۲۷ فیشتشتاین، پاول. "پراخېدونکی ځمکه: د بدخشان او بلخ په ولایتونو کې د کوکنارو کښت په ۲۰۱۳ کې."

Poppy-Cultivation-in-Balkh-Badakhshan-Case-Study.pdf. February/۰۲/۲۰۱۷/https://areu.org.af/wp-content/uploads ۲۰۱۴ (accessed ۲۰ August ۲۰۱۷).

۲۸ مینزفلید، ډیویډ. په شمال کې زموږ دوست: د بدخشان او بلخ ولایتونو کې د څواک او کوکنارو مقایسوي تصویرونه

http://www.davidmansfield.org/home/docs/field/۵۸.pdf. ۸ April ۲۰۱۴ (accessed ۲۰ August ۲۰۱۷).

په هر حال، د **۲۰۱۲** کال د مخه په بلخ کې اوضاع ډېره بدله وه. د **۲۰۱۲** کال په منې کې UNODC د کوکنارو په کښت کې **۲۰۸۵** هکتاره زیاتوالی تخمین کړی دی. USG دغه زیاتوالی دوه برابره ښودلی.[۶۹] دغه زیاتوالی په **۲۰۱۴** او **۲۰۱۵** کې د کوکنارو د کښت له ټيټې کچې څخه چې والي عطا ساتلې وه واوښت. دغه حالت د بلخ ولایت په ځینو برخو په خاص ډول په چمتال او چاربولک اولسوالیو د والي عطا او ولایتي چارواکو د کمزورې سلطې ښکارندوي کوي.[۷۰]

د **۲۰۱۷** کال له پسرلي څخه د مخه داسې معلومېده چې د کوکنارو کښت له اختیار څخه وتلی و. داسې راپورونه شته چې زیات شمېر سیار کارګران ښيي چې د **۲۰۱۷** کال په پسرلي کې هلته د کوکنارو په کښت کې د کار کولو لپاره رسېدلي وو.[۷۱] تصویرونه او د GIS هم په چمتال، چاربولک او د بلخ په ولسوالی کې لوی لارې ته نژدې د کوکنارو ډېر کښتونه ښيي ( وګورئ **۱۳** او **۱۴** شکلونه). تصویرونه حتی ښيي چې د افغان ملي پولیس اډې ته ډېر نژدې کوکنار کرل شوي. دغې پيښې د افغانستان د دولت تردد "یا ناتواني" وښودله چې د بلخ په ولایت کې مداخله وکړي (وګورئ **۱۵** شکل).[۷۲]

د کوکنارو په کښت کې دا ډول زیاتوالی د ولایت له مرکز مزار شریف څخه تر **۲۰** کلو مترو پورې په کمه فاصله کې د کوکنارو کښت او د بزګرانو له خوا په ازادانه ډول هلته په کښت کې کار کول وښودله چې د کوکنارو د کښت موسمونه له **۲۰۰۷** څخه تر **۲۰۱۱** کال له وخت سره د مقایسې وړ نه ده. په وروستیو یاد شویو کلونو کې والي د مخدره توکو په ضد فعالیتونو لپاره د UNODC، د امریکا او د برطانیه د حکومتونو له خوا د یوه " قوي والي په څېر" تقدیر شوی وو.[۷۳] لکه څنګه چې په ننګرهار او بادغیس کې وښول، په بلخ ولایت کې د کوکنارو د کښت زیاتوالي د دغه ولایت د والي ناتواني یا د ارادې نشتوالی ښيي چې د دې زیاتوالي په مقابل کې ودرېږي. دغه حالت په کلیوالي سیمو کې د حکومت د نفوذ د کموالي ثبوت دی.

۶۹ UNODC. "د افغانستان د کوکنارو سروې ۲۰۱۲: کښت او تولید."

۷۰ فیششناین، پاول. په بلخ ولایت کې د ځېړنې معرفی، می **۲۰۱۵**: د کوکنارو کښت او په کلیو کې معشیت.

۲۰٪۲۰Balkh٪۲۰in٪۲۰note٪۲۰Briefing٪http://www.baag.org.uk/sites/www.baag.org.uk/files/resources/attachments/AREU ۷ ,(۲۰۱۷ August ۲۰ accessed on) **۲۰۱۵** ۲۰livelihoods.pdf. October٪۲۰rural٪۲۰the٪۲۰and٪۲۰Opium٪-Province

۷۱ balkh-sparks--۹۹٪۸۰٪۹۸poppy-harvesters٪E۲٪۸۰٪http://www.tolonews.com/afghanistan/mass-arrival-٪E۲ .concern


۷۲ د سیمه ییز کرنیز پرمختګ پروګرام ګټې- شمال او Alics شرکت د GIS تحلیل او فوتوګرافي د بلخ ولایت د تحلیل او فوتوګرافي لپاره.

۷۳ مفصلې شننې لپاره وګورئ موخو پآدیای: د یپالی. جنګ سالاران، زورواکی والی او دولت په افغانستان کې نیویارک: د کامبریج پوهنتون چاپ، **۲۰۱۴**.

۱۳شکل: د بلخ ولایت، چمتال اولسوالی کې د کوکنارو په کښت کې بدلونونه، ۲۰۱۳-۲۰۱۷.



۱۴ شکل: د بلخ اولسوالی، بلخ ولایت کې د کوکنارو په کښت کې بدلونونه، ۲۰۱۵-۲۰۱۷



**۱۵ شکل: د بلخ ولايت چمتال په اولسوالی کې د ملي پوليس اډې ته نژدې د کوکنارو کښت، اپريل ۲۰۱۷**



## ۲.۴ په جنوب او جنوب غرب کې يو موقتي سکوت: هلمند او فراه


په شرق، شمال او شمال غرب کې د کوکنارو د کښت د زياتوالی د راپورونو په خلاف، په جنوب او جنوب غرب کې د کوکنارو کښت د **۲۰۱۵** او **۲۰۱۲** کلونو په منځ کې تر ډېره بريده ثابت پاتې شو. په دې ډول په ملي کچه د کوکنارو د کښت اندازه محدوده پآتې شوه. د جنوب او جنوب غرب په ځينو برخو کې دغه کښت په ډراماتيک ډول ټيټې کچې ته راولوېد. د مثال په ډول، د UNODC د راپور له مخې د **۲۰۱۵** او **۲۰۱۲** کلونو په منځ کې د کوکنارو کښت په فراه ولايت کې له **۲۱۱۰۲** څخه **۹۱۰۱** هکتاره ځمکې ته راټيټ شو. په **۲۰۱۴** کې د دې کښت اندازه **۲۷۵۱۳** هکتاره تخمين شوې وه.[۷۴] د فراه ولايت په بکواه ولسوالی کې د کوکنارو د کښت ځمکه **۷۵** سلنه کمه ښودل شوې چې له **۵۵۲۷** هکتار څخه په **۲۰۱۵** کې **۱۵۰۳** هکتارو ته په **۲۰۱۲** کې راټيټه شوه. دغه اندازه د **۲۰۱۴** کال تر ټولې لوړې اندازې يعنی **۱۲۲۵۱** هکتاره ځمکې څخه ډېره ټيټه وه.[۷۵] د هلمند ولايت په نادعلي او د کندهار ولايت په ميوند ولسواليو کې په دې کښت کې نور زيات والی هم ليدل شوی. د دې کموالي په نتيجه کې د ځمکو پراخې برخې له کښت څخه خالي وې په داسې حال کې چې په دغو ځمکو په **۲۰۱۴** او **۲۰۱۵** کلونو کې د کوکنارو کښت کرل شوی و. همدارنگه په جنوب غرب ولايتونو، هلمند او کندهار کې د کوکنارو کښت راټيټ شوی و. په هلمند کې دغه کښت له **۸۲۴۴۳** هکتاره په **۲۰۱۵** کې **۸۰۲۲۳** هکتار ته په **۲۰۱۲** کې راټيټ شو چې په **۲۰۱۴** کې تر ټولو له لوړې اندازې يعنې **۱۰۳۲۴۰** هکتار څخه ډېر د لاندې و. په کندهار کې دغه کمښت دومره زيات نه و خو سره د دې هم، د کښت اندازه له **۲۱۰۲۰** څخه **۲۰۴۷۵** هکتار ته راټيټ شوی و (وگورئ **۱۸**، **۱۷**، **۱۲** او **۱۹** شکلونه).[۷۲]

۷۴ UNODC. "د افغانستان د ترياکو سروې ۲۰۱۲: کښت او توليد."


۷۵ UNODC. "د افغانستان د ترياکو سروې ۲۰۱۲: کښت او توليد."

۷۲ UNODC. "د افغانستان د ترياکو سروې ۲۰۱۲: کښت او توليد."


۱۶ شکل: په هلمند کې د کوکنارو کښت، ۱۹۹۹-۲۰۱۲ (هکتار)





۱۷ شکل: په کندهار کې د کوکنارو کښت، ۱۹۹۹-۲۰۱۲




۱۸شکل: په فراه کې د کوکنارو کښت ۱۹۹۹-۲۰۱۲




۱۹ شکل: په اوروزګان کې د کوکنارو کښت ۱۹۹۹-۲۰۱۲




په دغو ولسواليو او ولايتونو کې ويجاړېدونکي امنيتي وضعې ته په کتو سره ګرانه ده چې ووايو په کښت کې دغه کمښت د حکومت د "ژمنتيا" او د حاصلاتو د تخريب په نتيجه کې دی لکه څنګه چې د مخدره توکو د کنترول سازمانونه يې د کوکنارو د توليد د کموالي لپاره دليل راوړي.[۷۷] د مثال په ډول، ۲۰۱۵ کال په ډسمبر کې د مارجه ولسوالی مرکز د حکومت ضد عناصرو له خوا محاصره شو. په نادعلي ولسوالي کې "د ترياکو د توليد بله ولسوالی" هم د ياغيانو حضور ليدل شوی و چې د ANDSF او حکومتي چاروکو خوځښت يې محدود کړی و. خو سره د دغو تمايلاتو د ترياکو توليد په دواړو ولسواليو کې راټيټ شو. دا هم امکان نلري چې د "مخالفو هڅو" يادونه وشي لکه څنګه چې د UNODC اوسني رئيس، يوري فيدوتوف ويلي دي. د افغانستان حکومت د جنوبي برخو په کليوالي سيمو کمزوری نفوذ لري او د ملي يووالي حکومت مخدره توکو او ناقانونه اقتصاد ته ډېره کمه توجه کړې ده.

په جنوب کې د کوکنارو د کښت د کموالي يوه قانع کوونکې توضيح دا ده چې د حاصلاتو کموالي د کښت په کچه باندې تاثير غورځولی او همدارنګه د کوکنارو په توليد کې د خلکو په مختلفو ګروپونو هم اثر درلودلی – په خاص ډول د بغرا د کانال په شمال کې په دشته کې په وروستيو مېشت شويو خلکو چې له هلمند څخه تر فراه پورې غځېږي. لکه څنګه چې د AREU په پخوانيو راپورونو کې راغلي، په جنوب او جنوب غرب سيمو کې په تېرو لسو کلونو کې د کرنيزو ځمکو په اندازه کې ډېر زياتوالی ليدل شوي چې له ۲۰۰۳ څخه تر ۲۰۱۳ پورې له ۱۵۱۹۲۲ څخه ۴۳۲۸۹۲ هکتارو ته ختلې ده.[۷۸] د نويو ځمکو چې تر کښت لاندې راغلې ډېره زياته برخه يې پخوانی دښتې وې. هغه ځمکې چې پخوا حکومتي ځمکې ګڼل کېدې او د اوبو د نشتوالي له امله د کرنيزو توليداتو لپاره مناسبې نه وې.

په پخوانيو دښتي ځمکو کې مېشتېدنه تر ډېره بريده د ناقانونه ترياکو د توليد په ذريعه تمويل شوې. د ترياکو د کښت له اضافي پيسو څخه پرته ګرانه ده چې دغه شاړې او ډبريني ځمکې د حاصلاتو لپاره مساعدې شوې وای. د دې لپاره چې ځمکه د کښت لپاره برابره شي، بايد کيمياوي سرې راوړل شي او په لومړي سر کې سطحې او بيا ژورې څاګانې وکېندل شي، پانګې ته ضرورت و څو ځمکه د حاصلاتو

۷۷ د اشنا راډيو خبرونه. "ملګري ملتونه: په افغانستان کې د ترياکو توليد ۴۸٪ راټيټ شوی."

August ۲۰ accessed) ۲۰۱۵ October ۱۴ .html.۳۰۰۵۲۴۳/https://www.voanews.com/a/un-afghan-opium-production-down .(۲۰۱۷

۷۸ منزفليد، ډيويډ او فيشتناين پاول. "۲۰۱۲ کال د زماني سره جوړښت: د کوکنارو کښت څنګه له بدليدونکي چاپيريال سره تر سره شو."

.۸ ,(۲۰۱۷ August ۲۰ accessed) ۲۰۱۲ .pdf.۷۲/http://www.davidmansfield.org/home/docs/field

لپاره مناسبه وگرځوي. په دې برسېره، مالي پانگې ته ضرورت و چې کورونه اباد شي او د ترانسپورت وسايل تهيه شي څو بازارونو او خدماتو ته په دغو لېرې پرتو سيمو کې لاس رسی پيدا شي. د ترياکو توليد د پآنگې يوازينی منبع وه او په کندهار، هلمند ، فراه او نيمروز کې يې دغه پخوانی دښتې ابادې کړې.


په هر حال، تر ٢٠١٢ کال پورې له دغو پخوانيو دښتو څخه حاصلات په ډېره ټيټه کچه کې وو. مالگينه ځمکه، په فارمونو کې د بوټو نشتوالی او يو فصله حاصلات د دې سبب شول چې په څلورو پرلپسې کلونو کې د حاصلاتو مقدار کم وو. تر ٢٠١٥ څخه د مخه د ترياکو حاصلات په ٢٠١٥ کې په يو جريب کې نيم من و ( دغه اندازه له ١١،٢٥ کلو گرامه په يو هکتار کې برابره ده ). د ترياکو اندازه په ٢٠١١ کې له ٣ څخه ۴ منو ته ټيټه شوه ( د ٢٧،۵ کلوگرامه څخه تر ٩٠ کلوگرامه په يوه هکتار کې ). حاصلات ځکه کم وو چې تر کښت لاندې د ځمکې اندازه کمه وه. په هلمند کې د بغرا د کانال په شمال کې له ۴٠٨۴۵ هکتاره په ٢٠١۵ کې ٣۴٢٠٨ هکتاره رزاعتي ځمکې ته په ٢٠١٣ کې ولوېده. دغه کمښت په دوو کلونو کې ٧٠٠٠ هکتاره ځمکه وه. په دې برسېره، په ٢٠١٢ کې د غنمو تر کښت لاندې ځمکه له ٢٠١٠ څخه را په دې خوا د لومړي ځل لپاره د ترياکو تر کښت زياته وه. دا حقيقت له دې وخت څخه په تېرو کلونو کې د ترياکو د حاصلاتو د کموالي راپورونه تقويه کوي – د بغرا په شمال کې په پخوانيو دښتي ځمکو کې د ترياکو کښت محوه شوې نه دی او نه هلته نظامي قوتونو شتون درلود. له دې امله د ترياکو په حاصلاتو کې کموالی د "حکومت ژمنتيا " يا د مخدره توکو ضد فعاليتونو ته نه منسوبېږي. هغه کسان چې کمې ځمکې يې درلودلې سخت د ترياکو د کښت له کموالي څخه زيان من شول. د مثال په ډول، اجاره دارانو چې په پخوانيو دښتي سيمو کې يې په اجاره کار کاوه دوی به د ترياکو د وروستی حاصلاتو څخه يو په څلورمه برخه تر لاسه کوله خو په ٢٠١۵ کې په يو جريب کې ٣٣۴$ تر لاسه کول. دغه اندازه د ٠،٩١$ ورځني عايد او له ٠،٠٩$عايد سره په هره ورځ کې د فاميل د هر غړي له عايد سره برابر و. په دې ډول دوی بايد ١٢،٧ جربه ترياک کرلي وای چې د ورځې ١،٢۵$ عايد پيدا کړي. دغه اندازه په بين المللي سطحه د مطلق فقر کچه گڼل کيږي. د جنوب په ډېرو برخو کې ډېر اجاره داران چې د وروستيو حاصلاتو يو په څلورمه برخه يې ترلاسه کوله دې ته مجبور شول چې په خپل حالت فکر وکړي په خاص ډول هغه کسان چې په پخوانيو دښتي سيمو کې يې کار کاوه. ځينې يې د نويو ځمکو په لټه کې شول چې په هغو ځمکو کې کوکنار وکري کومې چې له کانال څخه اوبو کېدلې او دوی تمه درلوده چې زيات حاصلات به تر لاسه کړي. ځينو نورو يې په دغو دښتو کې کښت ته ادامه ورکړه او د دې هيله يې درلودله چې په هغو ساحو کې به د زياتو حاصلاتو په اړه راپورونه رښتيا وي چې ښه حاصل يې نه درلود. ډېرى نور په هغو ځايونو کې پاتې شول چېرې چې دوی په جنوب کې د حاصلاتو د کموالي په اړه راپورونه اورېدلي وو او دا چې په نورو ځايونو کې د کم ځمکو خلکو لپاره لږ اقتصادي فرصتونه شته.

د هغو کسانو لپاره چې ځمکې د اجارې د نوي سيستم لاندې کري- ليکه - چې په جنوب کې په دښتو کې ډېر معمول وو، د حاصلاتو د کموالي له وجې له سختو اقتصادي تاوانونو سره مخامخ شول او ځمکې يې په بشپړ ډول پرېښودلې. په جنوبي سيمو کې د ځمکې د اجارې د دوديز سيستم په خلاف چېرې چې اجاره داران د ترياکو يو په څلورمه برخه اخلي د ليکه سيستم اجاره دارانو ته پنځه په شپږمه يا شپږ په اوومه برخه د وروستيو حاصلاتو ورکوي. اجاره دار د توليد د دې سخاوتمندانه برخې په بدل کې مجبور ده د توليد ټول مقرر لگښتونه په غاړه واخلي – د فارم لپاره انرژي، تخم، کيمياوي کود، ډيزل، د زهري بوټو وژونکې دوا او کارگر. هغه کسان چې د دوديز سيستم لاندې ځمکې په اجاره اخلي د دغو ځمکو د لگښتونو زياته برخه پرې کوي او په دې ډول د وروستيو حاصلاتو ډېره کمه برخه ورته رسيږي. په داسې حال کې چې ليکه سيستم د وروستيو حاصلاتو ډېره کمه برخه ورکوي د ځمکې څښتنان له دې گټه اخلي او خپلې ځمکې ابادوي بې له دې چې د کښت په شروع کې ډېر لگښت وکړي او په عين وخت کې د ځمکې په سر ماليکيت يې خوندي وي. د ځمکو پرېښودل په خاص ډول د فراه ولايت د بکوا او د دلارام په برخو کې او په نيمروز کې ډېر زيات ليدل شوې او په دغو ځايونو کې د ليکه سيستم ډېر مروج و. په دغو ځايونو کې نورزي ډېر زيات اوسېدل، په خاص ډول د جلکزي او بادورزي قبيلې. په لومړي سر کې دغه قبيلې په ١٢ هغو کليو کې اوسېدلې چې د کاريز په ذريعه اوبه کېدل. د دغو کليو په شاو خوا کې د ٢١ پېړۍ په لومړيو کلونو کې وروسته له هغه چې د ٩٠ لسيزې په وروستيو کې د وچکالي له کبله کاريزونه وچ شول، په دښتو کې کارونه پيل شول. په دې لړ کې د ځمکې لاندې د اوبو د سطحې ټيټوالی چې د څاگانو په اوبو يې تاثير وغورځاوو هم خپل اثر درلودلی. د ژورو څاگانو له تيگنالوژي سره اشنايي – او له ١٠٠ تر ١۵٠ متره د ژورو څاگانو د کېندلو ظرفيت – نورزيانو ته دا امکان ورکړ چې له دښتي ځمکو څخه استفاده وکړي.

په لومړي سر کې د دښتو ځمکې چې د هر کلي په شاو خوا کې پرتې وې د هغو کسانو په منځ کې ووېشل شوې چې په اصلي کلي کې يې ځمکې درلودې. د ځمکو دغه وېش د ټولې زراعتي ځمکې چې د کلي د کاريز په اوبو خړوبېدلې د فيصدي پر بنسټ ولاړ و. په ځينو حالاتو کې د دغه وېش له مخې د پخوانيو دښتي ځمکو ٢٠ هکتاره ځمکه نيول شوې. د ځمکو څښتنان چې غوښتل يې ځمکې وساتي خو د ځمکو د


ابادولو لپاره يې کافي پانگه نه درلوده خپلې ځمکې يې د ليکه سيستم پر بنسټ اجاره دارانو ته ورکړې. دوی دريو اجاره دارانو ته ځمکې په اجاره ورکړې چې کار پکې وکړي. څرنگه چې د حاصلاتو اندازه کمه وه په ۲۰۱۲ کې د اجارې د دغه سيستم سره علاقمندي پآتې نه شوه او په نتيجه کې د ځمکو او د کوکنارو حاصلات په ډراماټيک ډول راولوېدل.

لکه څنگه چې په ننگرهار، بادغيس او بلخ کې وشول، په جنوب او جنوب غرب کې هم په ۲۰۱۷ کې حاصلات ډېر زيات شول حتی په پخوانيو دښتي سيمو کې. څرنگه چې د افغنستان د حکومت موجوديت د بکوا او هلمند په پخوانيو دښتي سيمو کې هيڅ وخت کې قوي نه و، د مرکزي هلمند د کانال لاندې برخو کې هم د حکومت نفوذ له خطر سره مخامخ شو. په حقيقت کې د ۲۰۱۷ کال په اپريل کې څېړنو په مرکزي هلمند کې د کښت موجوديت په هره تر څېړنې لاندې ساحه کې حتې په بولان او قلعه بوست کې – دغه له لشکرگاه يعنی ولايتي مرکز څخه ډېرې لېرې نه دي او چېرې چې له ۲۰۰۸ څخه راهيسې د کوکنارو کښت نه و لېدل شوې څرگند کړي ( وگورئ ۲۰ شکل). د کوکنارو کښت په کانال لاندې سيمو کې په مارجه، نادعلي، لشکرگاه او نهرالسراج په ولسواليو کې لېدل شوې چې په ځينو ځايونو کې يې د کرنيز ځمکې ۲۵ سلنه نيولې وه. په ډېرو برخو کې د کوکنارو کښت د داسې حاصلاتو ځای نيولی و چې په نغدو پيسو پلورل کېدل لکه پنبه، خربوزې او هندوانې خو د غنمو ځای يې نه و نيولی. په پخوانيو دښتي سيمو کې هم د کوکنارو کښت مخ په زياتېدو و. دغه زياتوالی د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ کچې ته نه و رسېدلی کله چې حاصلات يو فصله وو، خو د ۲۰۱۴ کال له اندازې سره برابر و. په دغه وخت کې د بغرا په شمال په پخوانيو دښتي سيمو کې د غنمو ډېر لېږ کښت شوې و (وگورئ ۲۱ شکل). په دې برسېره، له ۲۰۱۱ څخه راهيسې بزگرانو د هلمند په پخوانيو دښتي سيمو کې د ښو حاصلاتو خبر ورکړې و. دترياکو له يو جريب څخه له دوو تر درېيو منو تازه ترياک ( په يوه هکتار کې له ۴۵ څخه تر۲،۲۷ کلو معادل ) نه و اورېدل شوي او د يو من ترياکو بيبه تر ۲۰ زرو څخه تر ۸۰ زرو پاکستاني روپيو ته وختله. په دې ډول، د بغرا د کانال په شمال او جنوب کې په ۱۸/۲۰۱۷ موسمي فصلونو کې د ترياکو د کښت د زياتوالي امکان پيدا شو.




۲۰ شکل: د بولان او لښکرګاه په اولسواليو کې د کښت په ډولونو کې بدلونونه، هلمند، ۲۰۰۸-۲۰۱۷.

۲۱ شکل: په شنه جامه، ناد علي اولسوالي کې د کښت په ډولونو کې بدلونونه، هلمند ، ۲۰۰۸-۲۰۱۷.



په لنډ ډول کله چې په هلمند، ننګرهار او بلخ ولايتونو کې د کوکنارو د کښت طريقې او د هغو بيا را پيدا کېدل مطرح وو – چېرې چې کوکنار تر يوې لسيزې څخه تر زياتې مودې لپاره نه و لېدل شوي- ډېر کم داسې شواهد شته چې د امريکايي پوځي ځواکونو له خوا د حکومت د کنټرول او نفوذ د اندازې تخمينونه تقويه کړي. د دې پر ځای، څه شی چې لېدل کيږي هغه دا دی چې حکومت ډېر کمزوری دی او په کليوالي خلکو باندې د واکمنې په ساتلو کې له زياتو ستونزو سره مخامخ دی. د حکومت واکمني - کنټرول – په دغو او نورو ولايتونو کې د ډېرو ولسواليو د مرکزونو له سرحداتو څخه ها خوا نه لېدل کيږي. د ډېرو کلونو په پرتله د حکومت نفوذ اوس ډېر کم دی، په خاص ډول که د ملي پوليس او ملي اردو امنيتي تاسيساتو په شاه خوا کې د کوکنارو د کښت اندازې ته نظر واچوو. د دې معنا دا نه ده چې ياغي قوتونه برلاسه دي – په راتلونکې برخه کې به څرګنده شي چې د کوکنارو د کښت او طالبانو په منځ کې رابطه دومره څرګنده نه ده لکه رسمي راپورونه چې وايي- خو څرګندوي چې د افغانستان په کليوالي سيمو کې ډېرې داسې ځمکې يا برخې شته چې ډېرې متنازع برخې دي تر هغه چې اوسنيو احصايو راپور ورکړی.

# ۳. مالیات: مالیات د یاغیانو د نفوذ په اړه موږ ته څه وایي؟

له خلکو څخه د مالیاتو د را ټولونې له لارې په عایداتو کې د زیاتوالی توان موږ ته د دولت او غیر دولتي برخه والو د یاغي گروپونو په گډون د کنټرول او نفوذ په اړه ډېر څه وایي. د یاغیانو له خوا د مالیاتو په اړه ډېرې مباحثې په جبري وسایلو راټولې دي او داسې یو تصور وړاندې کوي چې کلیوال د ټوپک والو په ذریعه تر جبر لاندې دي. که څه هم ډېر پوهان شاید په دې باور وي چې ټول مالیات تر یوه حده پورې په جبري ډول راټولیږي چې "په ټولو مالیاتو کې د دولتي قوې حقیقي کارونه یا تهدید شامل وي: انفرادي مالیه ورکونکې مجبور دي چې تآدیات وکړي او په داسې حالاتو کې چې فکر کیږي دوی لیږ او یا هیڅ بل انتخاب نلري د متقابلې معاملې هیڅ ضمانت نه وي موجود." [۷۹] ځینې پوهان لکه مور ( ۲۰۰۸ د جبري مالیاتو چې تر یو حده د تادیاتو د اندازې په تخمین کې د خود سري یوه کچه لري او د مالیاتو د ټولونکو له خوا چې د متقابلې معاملې او د خدماتو تضمین نه کوي. د عوایدو په سر د چنې وهلو په حالت کې "کم و زیات د مالیاتو د عوایدو او خدماتو په منځ کې یوه تبادله" موجوده وي.[۸۰] په افغانستان کې د مالیاتو لومړی ډول جاري دی. حکومت یا غیر دولتي برخه وال، د یاغیانو په شمول د مالیاتو په دې ډول تولونه کې شامل دي. په افغانستان کې د مالیاتو او یاغیانو په اړه مباحثه د تریاکو په اقتصاد راټوله ده او په خاص ډول د عوایدو په هغې لویې اندازې چې د UNODC په قول د طالبانو په ذریعه د تریاکو له تولید څخه راټولیږي.[۸۱] د مثال په ډول، UNODC تخمین کړې چې غیر دولتي وسله والو ډلو په ۲۰۱۲ کې په افغانستان کې د تریاکو له غیر قانوني تجارت څخه د مالیاتو په شکل د کوکنارو د کښت او قاچاق څخه نږدې ۱۵۰ ملیونه ډالره عایدات راټول کړي دي. د مخدره توکو اړونده عایدات ښایي له دې څخه هم زیات وي. د امنیت د شورا کمېټې چې د ۱۹۸۸ ( ۲۰۱۱ ) قطعه نامې څخه وروسته تاسیس شوه د طالبانو کلني عمومي عایدات نږدې ۴۰۰ ملیونه ډالر ښیي چې نیماي یې د ناقانونه مخدره توکو له اقتصاد څخه لاس ته راغلي. " د مالیاتو نور شکلونه په معمول ډول په مباحثو او مصاحبو کې مخې ته نه راځي. دغه برخه په افغانستان کې په یو شمېر ولایتونو او ولسوالیو کې د اوږدې مودې څېړنې رانغاړي څو ځینو " احتمالي ناسمې ارزونې "[۸۲] څرګندې کړي چې د طالبانو له خوا د تریاکو د تولید څخه د مالیاتو په اړه د مباحثو مرکزي ټکی جوړوي او دغه راز ښیي چې د مالیاتو نور شکلونه موږ ته په کلیوالي او ښاري سیمو کې د یاغیانو او نفوذ په اړه څه وایي؟

## ۳.۱ یاغیان، مخدره توکې او مالیات

یاغیان په خاص ډول طالبان له ناقانونه مخدره توکو څخه څومره مالیات تر لاسه کوي داسې مباحثه ده چې اوږد تاریخ لري او لا هم جریان لري. احصایې چې یاغیانو ته د مخدره توکو له تجارت څخه منسوبیږي د باور وړ نه دي. دغه تخمینونه د ۷۰ او ۵۰۰ میلیونه ډالر تر منځ ویل کیږي.[۸۳] او څومره چې د سیاسي گټو او مؤسساتي دستورونو تر نفوذ لاندې وي هغومره میتودولوژي هم په دې کې نقش لري. د مثال په ډول، تونی بلییر د لومړي ځل لپاره مخدره توکي له طالبانو او القاعده سره د اکتوبر په ۲۰۰۱ کې د برطانیا پارلمان ته په خپله وینا کې ونښلول. دغه ارتباط په افغانستان کې د برطانیا د حکومت د پوځې هڅو لپآره یوه توجیه وه. د دې تړاو اساس هغه اطلاعات وو چې په هغه وخت کې د برطانیاد حکومت یوه لوړ پوړي چارواکي ویلی: " نه د بین المللي مخدره توکو او قانوني چارو دفتر او نه د برطانیا د نشه

۷۹ مور میک. "د جبر او قرارداد تر منځ : د مالیاتو او حکومتولي په اړه مخالفې خبرې." وگورئ: په پرمختیایي هیوادونو کې مالیات او دولت جوړونه: ظرفیت او اجابت، ایډیټ کوونکی بروتیگم ، فجیله استاد او موږ نیویارک: د کامبریج پوهنتون چاپ، ۲۰۰۸.

۸۰ مور، میک. "د جبر او قرار تر منځ." ۳۷

۸۱ UNODC "د مخدره توکو نړیوال راپور ۲۰۱۷: د مخدره توکو ستونزه او تنظیم شوي جرمونه، ناقانونه مالي مرستې، فساد او تروریزم."

(۲۰۱۷ August ۲۰ accessed) ۲۰۱۷ NEXUS.pdf. May_۵_field/Booklet/https://www.unodc.org/wdr۲۰۱۷.

۸۲ د یاغیانو او د دوی د عوایدو د ټولونې په ظرفیت د ځینو احصاییو، انگېرنو او مباحثو د انتقادي کتنې لپاره وگورئ: هازین، جینتر، څه شی چې یاغیان غواړي: د جنگ په دوران کې د منابعو او تدارکاتو شبکې. ایتاکا. د کارینل پوهنتون چاپ ۲۰۱۲.

۸۳ د امریکا د متحده ایالاتو په کانگرس کې د بهرنیو چارو کمېټه. "د افغانستان د مخدره توکو جگړه: د مخدره توکو د قاچاق برانو او یاغیانو په منځ کې د اړیکو پربکول." مخ ۵۲ ۲۰ اگست ۲۰۰۹ ( ۲۰ اگست ۲۰۱۷ کنلی ) حکومت ۱۰؛ UNODC "د افغانستان د تریاکو سروې ۲۰۰۹: اعتیاد، جرم او یاغیتوب: د افغانستان د تریاکو بین المللي تهدید."

;GovernmentGovernment۱۰ ,(۲۰۱۷ August ۲۰ accessed) ۲۰۰۹ August ۲۰ .rpt/afghan.pdf_۲۰۰۹/https://fas.org/irp/congress Addiction, Crime, and Insurgency: The transnational threat of Afghan :۲۰۰۹ UNODC. "Afghanistan Opium Survey ۲۰۰۹ .web.pdf_۲۰۰۹_opium." https://www.unodc.org/documents/data-and-analysis/Afghanistan/Afghan_Opium_Trade (۲۰۱۷ August ۲۰ accessed).

ای توکو او بین المللي جرمونو اداري هغه ته اهمیت ورکړی. " [۸۴] په حقیقت کې د افغانستان د ماموریت په لومړنیو کلونو کې د امریکا د متحده ایالاتو په حکومت کې د طالبانو او د دوی د تمویل په باب په مباحثو کې توافق نه و . داسې ویل کېدل چې د دفاع وزارت او د امریکا د متحده ایالاتو مرکزي قومانده دې ته تیار نه وو چې د طالبانو او نشه ای توکو په منځ کې اړیکې ومني ځکه دوی په دې وېره کې وو چې د دې خبرې په منلو سره به د دفاع وزارت تر فشار لاندې راشي چې خپل نقش ته پراختیا ورکړي.

د طالبانو او د نشه ای توکو په ذریعه د دوی تمویل په ۲۰۰۲ او ۲۰۰۷ کلونو کې د عامه پآلیسي په مباحثو کې په هغه وخت کې ښکاره شو چې ټام شویش، د بین المللي مخدره توکی او قانوني چارو د موسسې (INL) او د امریکا د باندنیو چارو له وزارت څخه او انتونیا ماریا کوستا د UNODC د اجرایي رییس [۸۵] له خوا د طالبانو او نشه ای توکو په منځ کې مستقیمې اړیکې په ډاګه شوې. دوی د نویو یاغیانو اړیکې د مخدره توکو له زیاتېدونکو حاصلاتو سره او له دې حاصلاتو څخه د طالبانو له خوا د مالیاتو راټولول افشا کړل. [۸۶]

د هغه څه په خلاف چې UNODC په دې وخت کې لیکلي وه او د نړیوال بانک [۸۷] او همدارنګه د وتلي پوه ډاکټر بانټ روبن[۸۸] په خلاف، د UNODC اجرایوي مشر حتی دا هم وویل چې تریاک د ۱۹۹۲ او ۲۰۰۰ تر منځ "ریژمونو د بهرنیو پیسو د بدل یوازني منبع وه". [۸۹] دغه ادعاګانې چې طالبانو خپلې پانګې له تریاکو څخه لاس ته راوړې د ۲۰۰۴ څخه تر ۲۰۰۸ کلونو پورې په افغانستان کې د مخدره توکو د ضد پالیسي یوه مهمه برخه وه او له هوا څخه د داروګانو د شندلو لپاره تبرییه وه. [۹۰]

دغې پالیسي د اوباما له اداري سره بدلون وموند او په ۲۰۱۰ کې په افغانستان کې د امریکا د حکومت په پالیسي کې بې لومړیتوب نه درلود. چارواکو په هغه وخت کې ویل چې د طالبانو پانګې له نورو منابعو څخه راځي. د مثال په ډول، سفیر هول بروک، د افغانستان او پاکستان لپاره ځانګړي استازي په یو وخت کې د CIA یوې مطالعې ته اشاره وکوله چې ویلی دي چې طالبانو د خپلې پانګې زیاته اندازه له ناقانونه مالیاتو او د پاکستان او د فارس د خلیج له ملکونو څخه لاس ته راوړې نه د ناقانونه مخدره توکو څخه.[۹۱] کرک مایر، د افغانستان د تهدید مالي مرکز ( ATFC) پخواني مشر هم له دې فکر سره مخالف و چې مخدره توکې د طالبانو د تمویل لومړنۍ منبع ده. ده ویلي چې "زه شخصآ په دې باور نه وم چې [مخدره توکې] د یاغیانو لپآره د تمویل لویه منبع وه لکه څنګه چې ډېرو خلکو فکر کاوه. زه رد وم نه، مخدره توکې د تمویل یوه منبع وه مګر موږ همېشه دغه عدد ونه اورېدل- بیلیون ډآلر او داسې نور". [۹۲]

د ۲۰۱۷ کال په مارچ کې دغه ادعا چې طالبان د خپلې پانګې زیاته برخه د تریاکو له تجارت څخه لاس ته راوړي یو ځل بیا را ژوندی شوه. دا ځلې جنرال نیکلسن، امریکایي قومندان چې د غوڅ ملاتړ د ماموریت قومندان دی ادعا وکړه چې د طالبانو د پانګې ۶۰٪ د مخدره توکو څخه لاس ته راځي. دې ادعا د طالبانو او د تریاکو د تولید په منځ کې د تړاو افسانه یو ځل بیا راپورته کړه او ادعا وشوه چې د یاغیانو

۸۴ د برطانیا له چارواکی سره مرکه، جولای ۲۰۱۵.

۸۵ په هغه وخت کې چې UNODC د ملګرو ملتونو د مخدره توکو د کنټرول پروګرام په نوم معروف و (UNDCP).

۸۶ UNODC "د افغانستان د تریاکو سروې ۲۰۰۷."

https://www.unodc.org/documents/crop-monitoring/Afghanistan-Opium-Survey-۲۰۰۷.October.pdf ۲۰۰۷ (accessed ۲۰ August ۲۰۱۷), v-iii.

۸۷ نقوي، زي.ایف، د افغانستان – پاکستان تجارتي اړیکې: اسلام اباد: د نړیوال بانک چاپ، ۱۹۹۹.

۸۸ روبین، بارنیت. د افغانستان ټوټه کېدل. په بین المللي سیستم کې د دولت ناکامي. بند هاون: دیېل پوهنتون چاپ، ۲۰۰۲، XXXiiI-XXU

۸۹ UNODC "د افغانستان د تریاکو سروې ۲۰۰۷". IV

۹۰ د ۲۰۰۸ په جنوري کې د ایساف عمومي قوماندان دان مک نیل په ښکاره وویل " کله چې زه د کوکنارو کښت وینم زه وینم زما پام پیسو، ځای پر ځای شویو ناچاودوتوکو (IED) ټوپکانو، او ار پی جی ته راګرزي. د روترز خبرونه د ایساف مشر په ۲۰۰۸ کې په افغانستان کې د مخدره توکو د سوداګري پراختیاویني.

http://www.reuters.com/article/us-afghan-mcneill-idUSSP۴۳۲۴۹۲۰۰۸۰۱۰۲. ۲ January ۲۰۰۸ (accessed on ۲۰ August ۲۰۱۷).

۹۱ چندرا سینان، راجیو (نفل) کوچنۍ امریکا: د افغانستان لپاره په جګړه کې جګړه نیویارک: الفری ای. کنوپف ۲۰۱۲، ۲۳.

۹۲ ګلوبل ایکو. "مرکه: کیرک مایر د افغانستان د تهدید مالي سرچینه، پخوانی ریس."

https://globalecco.org/en_GB/kirk-meyer-former-director-of-the-afghan-threat-finance-cell. ۲ April ۲۰۱۴ (accessed on ۲۰ August ۲۰۱۷).

علاقه مندي د کوکنارو له کښت سره په بنیادي ډول مالي ماهیت لري.[۹۳] UNODC هم دغه ادعا تکرار کړې او ویلي دي چې طالبان د تریاکو له کښت څخه ۴۷ میلیونه ډالر مالیه اخلي او ۱۲۴ میلیونه ډالر نور په مجموعي توګه د مخدره توکو له تجارت څخه د مالیې په ډول اخلي.[۹۴] د ناقانونه اقتصاد ناڅرګند ماهیت، د طالبانو د عوایدو د سنجش لپاره د روښونو ناڅرګند ماهیت او د اطلاعاتو کارولو ته په کتو سره، څرګنده نه ده چې ایا د طالبانو د تمویل منابع بدلې شوې، ایا د دغو عوایدو د سنجش روښونه بدل شوي دي او که دا په سیاست کې یو بدلون دی چې غواړي افغانستان او دلته یاغي قوتونو ته د امریکا په بهرنۍ پالیسي کې یو مرکزي موقف ورکړي. دغې پالیسي د تریاکو په اقتصاد باندې د طالبانو د مالي اتکا د سنجش لپاره روش او ژبې ته بدلون ورکړی دی.

## ۳.۲ بې نظمي او ګډوډي:

تر کومه ځایه چې د طالبانو د مالي منابعو د تخمین په اړه شفافیت مطرح دی، په دې اړه د روښونو په لحاظ څرګندې کمزورتیاوې شته، په خاص ډول د هغو پیسو د مقدار په اړه چې د تریاکو له کښت څخه لاس ته راځي. د مثال په ډول، اکثره وخت دا سې ادعا کیږي چې طالبان د مجموعي حاصلاتو یوه فیصدي راټولوي، چې په معمول ډول د "عشر" په شکل ۱۰ فیصده جوړوي. دغه روش په کرنیزو محصولاتو یوه دودیزه اسلامي مالیه ده، دغه ارزونه په هغو معلوماتو اتکا لري چې د UNODC له خوا راغونډ شوي دي. که څه هم د هغې طریقې په اړه چې UNODC د دغو ارقامو په راغونډولو کې کارولې ده یو شمېر میتودولوژیکې کمزورتیاوې شته. یوه مهمه ستونزه په ترجمه پورې او په هغه برداشت پورې تعلق لري چې د مرکه ورکوونکو ځوابونه تعبیروي. د مثال په ډول، تر ۲۰۱۲ پورې UNODC پوښتنه کوله چې ایا بزګران طالبانو ته مالیه ورکوي او په دې لړ کې یې د ټکس لپاره دغه عامه کلمه د عشر په کاروله. UNODC فکر کاوه که یو بزګر دې پوښتنې ته مثبت ځواب ورکړي معنا یې دا ده چې دوی د ټولو محصولاتو۱۰ سلنه ورکوي- په اسلامي قانون کې د عشر له معنا سره سم. له ۲۰۱۲ څخه وروسته UNODC هڅې وکړې چې د بزګرانو له خوا د تادیه شویو محصولاتو سلنه تشخیص کړي او په مختلفو منطقو کې یې د تادیاتو مختلفې اندازې ښوولې چې په ټول ملک کې د یوه معیاري نرخ سره سمون نلري.

که څه هم تر یوې اندازې بهتري پکې راغلې، هڅې چې ارقام سره جدا کړي – د منطقې او د تادیاتو د نرخ له مخې – هم له ستونزو سره مخ وې. د مثال په ډول، ارقام لا اوس هم په پوره ډول بېل شوي نه دي. سیمې یا منطقې په افغانستان کې یو شمېر مختلف ولایتونه رانغاړي چې هر یو یې ډېرې ولسوالۍ لري او هره ولسوالي یې په خپل وار ډېر شمېر کلي لري او هر یو یې د افغانستان له دولت، یاغیانو او تریاکو سره په ښکېلتیا کې مختلفې سابقې لري. ممکنه نه ده چې په ساده ډول دغه تجربې او دودونه او د تادیاتو سیستمونه – یا مالیات - سره جدا کړو چې په ټوله سیمه کې کلیوالي نهادونه هغه کاروي. په ولسوالیو کې د ننه په هر کلي کې طالبانو ته د تادیاتو طریقه فرق کوي. دغه طریقه په هر کال کې د هغې ټولنې د اقتصادي پرمختګ، د یاغیانو د واکمنې د قایمولو په اندازې پورې او همدارنګه د مالیاتو د ورکولو له سیستمونو سره توپیر کوي.[۹۵] په دې ډول، د UNODC ادعاګانې چې بزګران په جنوبي سیمه کې د تریاکو د حاصلاتو د خرڅلاو په اوسط ډول ۱۱٪ طالبانو ته ورکوي نه یوازې دقیقه نه ده بلکې د تحلیل له مخې کفایت نه کوي. کله چې موږ په ولسوالیو، ولایتونو او سیمو کې د تادیاتو توپیرونو ته وګورو او کله چې د تادیاتو بدلېدونکی ماهیت او د هغو بنسټ ته نظر واچوو دغه ادعاګانې ناکافي معلومیږي.

په هر حال، یوه ستونزه دا هم شته چې د UNODC د ارقامو د راټولولو منبع د کلي په سطحه اوس هم کلیوالي نخبه ګان دي – چې UNODC هغه د "کلي مشران" بولي. دغه نوم شاید ملک ته اشاره وي - یو رسمي عنوان دی چې د حکومت له خوا یوه انفرادي شخص ته ورکول کیږي څوک چې د افغانستان د دولت او ټولنې تر منځ د استازیتوب مسوؤلیت لري. په دې برخه کې یوه ننګونه دا ده چې د طالبانو تر سلطې لاندې سیمو کې دغه موقف نه وي موجود ځکه چې حکومت هلته کمزوری وي یا هیڅ حکومت نه وي چې کار ورسره وکړي. له بلې خوا د دې ډول رسمي لقب درلودل انفرادي اشخاص کولای شي د یاغیانو له خوا د جزا وړ وګرځوي. د کلیوالي نخبه ګانو ډېری کسان

---

۹۳ د امریکا د متحده ایالاتو د دفاع وزارت. "د خبرونو نسخه: د دفاع وزارت چاپ، جنرال نیکلسن، پنتاګون د خبرونو څانګه."

department-of-defense-press-briefing-/۱۰۱۹۰۲۹/https://www.defense.gov/News/Transcripts/Transcript-View/Article
.(۲۰۱۷ August ۲۰ accessed) ۲۰۱۲ December ۲ .by-general-nicholson-in-the-pentagon-brief

۹۴ UNODC "د افغانستان د تریاکو سروې ۲۰۱۲."

۹۵ منزفلید، ډیویډ. "له بد څخه یې بدتر کړ.د ننګرهار او هلمند ولایتونو کې د جګړو په ساحه کې د کوکنارو د کښت تمرکز."

.(۲۰۱۷ August ۲۰ accessed) ۲۰۱۴ pdf. May.۲-۲-ver-E-NRM-CS۲/۰۲/۲۰۱۲/https://areu.org.af/wp-content/uploads

چې له حکومت سره په ناامنه ولایتونو لکه هلمند کې رسمي اړیکې لري یوازې په هغه وخت کې کلیو ته راګرځي چې یاغیان له کلیو څخه ایستل شوي وي او بیا یې په تکراري ډول خپل کلي پرې ایښي دي او لشکرګاه ته راځي کله چې یاغیان په ساحه کې ببره برلاسه شي. کله چې د کلي دغه مشران نه وي، UNODC له چا سره مرکې کوي او دغه خلک د دغو سیمو او د مالیاتو د سیستم په اړه څومره پوهه لري؟

د کلیوالي ټولنو له شتمنو کسانو سره په مرکو کې د طرفداري تنګوني شته. په دې ګروپ باندې د فوکس له لارې ارقام متاثره شوي دي. دغه نفوذ نه یوازې د دوی نسبي شتمنۍ ته منسوبیږي، بلکې د واقعیت بیني له پلوه هم نیمګړتیا لري – پوښتنو ته داسې ځوابونه ویل کیږي چې ځواب ویونکی فکر کوي د مرکه کوونکی لپاره په زړه پورې دي. په افغانستان کې د کلیوالی ټولنو شتمن غړي د خپلو او د خپلو ټولنو د موقفونو په ساتلو کې ډېر مهارت لري په داسې ډول چې د پرمختیایی مرستو په شکل کې او / یا د سیاسي نیکنامي په ډول ګټه ورڅخه پورته کوي. دغه شتمن کسان سیاسي فعالین دي. طالبانو ته د ادا شویو پیسو په باب په څېړنو کې، د طرفداري عنصر نور هم په دې ډول تقویه کیږي چې پوښتنې مطرح کیږي: د یاغیانو د پانګې په پوښتنو کې نه مطرح کیږي چې تآدیات پر کوم بنسټ تر سره کیږي – د مثال په ډول، د ځمکې ، اوبو او / یا حاصلاتو پر سر، خو یوازې په تریاکو پورې نه وي تړلی - بلکې داسې پوښتنې کیږي چې تآدیات په خاص ډول د تریاکو په خرڅلاو پورې تړي، [۹۲] سره د دې، چې په کلیوالي سیمو کې د مالیاتو نور شکلونه هم جاري دي. په دې برسېره، یوه بله ستونزه دا ده چې UNODC او د دوی سروې کوونکې په جنوبي ناامنو سیمو کې خلکو ته پوره لاس رسی نلري. په تېرو وختونو کې په یقین سره داسې قضیې پېښې شوي چې د دوی سروې کوونکی – او په یقیني ډول د مخدره توکو سره د مبارزې وزارت (MCN ) سروې کوونکی له کومو سره چې دوی یو ځای کار کړی دی – په دې ونه توانیدل چې د بغرا د کانال شمال ته پخوانیو دښتي سیمو ته حتی تر ۲۰۱۰ کې لاس رسی ولري. ایا دا امکان لري چې دوی اوس دې ساحې ته ښه لاس رسی لري چېرې چې یاغیان ډېر نفوذ لري کله چې په تېرو دوو کلونو کې د هلمند، فراه ، اوروزګان او کندهار ډېرې برخې زیاتې نا امنه شوې دي؟ ښایي د لاس رسي مساله د UNODC په راپور کې توضیح شوې وي چې "د کلیو د مشرانو" ۵۸ سلنې د راپورونو له مخې غیر دولتي فعالین د تریاکو مالیات راغونډوي، کله چې طالبان د مرکزي هلمند کلیوالي ساحو ته ننوځي، حتی په بولان کې چې له لښکرګاه څخه ډېره فاصله نلري.

## ۳.۳ له تریاکو څخه پرته نور مالیات:

د UNODC په میتودونو کې د تخمین ستونزو ته په کتو سره ، ښایي د حیرانتیا خبره نه وي چې د دوی موندنې د هغو ژورو څېړنو سره اړخ ونه لګوي چې د AREU له خوا په تېره لسیزه کې تر سره شوې. AREU موندلې ده چې د تریاکو په کښت باندې مالیات د ولایتونو او ولسوالیو تر منځ توپیر کوي. دغه توپیر نه یوازې د مقدار له پلوه بلکې له دې وجې هم دی چې مالیات پر کوم بنسټ او په څه ډول ورکول کیږي. دغه راز، په موقتي ډول د تادیاتو مقدار هم په یوه اندازه کې نه پاتې کیږي. دغه توپیر په ساحه باندې د یاغیانو په نفوذ او د کلیوالي سیمو په اقتصادي وضعې پورې اړه لري. البته، د وطنداري او تنګدستي پر بنسټ د دې امکان شته چې په دې اړه مذاکرات وشي.

د مثال په ډول، د مرکزي هلمند د کانال په ساحه کې په ۲۰۱۷ کې د طالبانو له خوا د ځمکې پر سر مالیات وضع شوي دي. دغه حقیقت څرګندوي چې دوی په دې ساحه باندې بیا خپله ولکه ټینګه کړې ده. دا هغه سیستم دی چې په مرکزي هلمند تر هغو پورې حاکم و تر څو ملي او بین المللي پوځي ځواکونه هلته په ډېر شمېر کې راغلل – ناڅاپي زیاتوالی- په مرکزي هلمند کې په ۲۰۰۹ کې پیل شو. دغه سیستم د ځمکې د هغه مقدار پر بنسټ اتکا درلوده چې حکومت بزګرانو ته د ۱۹۲۰ ، ۷۰ او ۸۰ لسیزو کې په ساحه کې د مېشتېدنې پر مهال ورکړې وې. د ځمکو دقیقه اندازه چې بزګرانو ته وقف شوې وه د مېشتېدنې د دوران په اوږدو کې او د تخصیص شوې ځمکې له کیفیت سره سم توپیر درلود. [۹۷]

---

۹۲ په ۲۰۱۲ کې د کلی له مشرانو څخه پوښتنه وشوه چې ایا بزګران د تریاکو د خرڅلاو پر سر مالیات ورکوي، چاته یې ورکوي اود حاصلاتو کومه فیصدي د مالیاتو په شکل ټولیږي؟ UNODC (۲۰۰۷). د تریاکو د تولید په محیط کې دوامداره زیاتوالی: UNODC "د افغانستان د تریاکو سروې ۲۰۱۲" ۷۸.

۹۷ په نادعلي کې ډېرو مهاجرینو ته په لومړي سر کې یوه ټوټه ځمکه یا د ۳۰ جریبه فورمه ورکړل شوې وه( غلام فاروق. "د هلمند په وادي ، افغانستان کې په ځمکو د مېشتېدنې اجتماعي – اقتصادي اړخونه،" د بیروت امریکایي پوهنتون ته تسلیم شوی تیزس، جون ۱۹۷۵؛ ۷۱).

په نتيجه کې، ځينو بزګرانو د ظاهر شاه په دوران کې چې د لومړي ځل لپاره مېشتېدنه هلته پيل شوه، شپږ يا اووه هکتاره ځمکه تر لاسه کړې د افغانستان د خلکو د ديموکراتيک ګوند [۹۸] په وخت کې دوه هکتاره يا تر هغه ليږ ځمکه تر لاسه کړې او بيا د مجاهدينو په وخت کې [۹۹]. دغه لومړني تخصيصات د " فورمې" په نوم مشهور شول، که څه هم رسمي شکل يې درلود چې بزګرانو د ځمکې له تسلمېدو وروسته په هغو فورمو لاسليک کاوه. [۱۰۰]

د وخت په تېرېدو سره ، د ځمکې دغه لومړنۍ ټوټې د وروستيو نسلونو له خوا ووېشل شوې. سره د دې چې ځمکې ټوټه شوې، بزګران او د اوبو د مديريت مسوؤلين – مير اب – په هغو فورمو خبرو چې د دوی انفرادي ځمکې ور پورې تړلې دي. په داسې حال کې چې تاديه کېدونکی مقدار د مالياتو د دې سيستم له مخې د ترياکو پر بنسټ نه اجراکيږي، دغه مقدار په هر حال کې د اقتصادي وضعې سره سم اجراکيږي. په نتيجه کې ، په ۲۰۰۸ کال کې کله چې د کوکنارو کښت زور واخيست ، د ځمکو ماليات چې د طالبانو له خوا وضع شول، د هرې فورمې په سر ۱۲۰۰۰ پاکستاني روپۍ وې. دغه مقدار د مقايسې لپاره په ۲۰۰۹ کې ۸۰۰۰ پاکستاني روپۍ، په ۲۰۱۰ کې ۲۰۰۰ او په ۲۰۱۱ کې ۲۰۰۰ پاکستاني روپۍ وې.[۱۰۱] په ۲۰۱۲ کې د ځمکو په سر ماليه د هرې فورمې لپاره ۲۰۰۰ افغانۍ وې. د يادونې وړ ده چې د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۵ کلونو تر منځ د طالبانو په غيابت کې په دې ساحه کې د حکومت له خوا د ځمکو ماليات نه دي راټول شوي. سره د دې، د ځمکو ماليات يوازيني عايدات نه دي چې طالبان يې له مرکزي هلمند څخه راټولوي؛ دوی دغه راز د ترياکو او غنمو په سر پيسې اخلي. د حاصلاتو په سر د تادياتو په اړه په هلمند کې يو عمومي سيستم دا دی چې د هر جريب ترياکو په سر ۲ خورده ( له ۱،۱۲۵ کيلو سره برابر ) اخلي.[۱۰۲] دغه اندازه هم د کانال په ځمکو او هم په پخوانيو دښتي ځمکو جاري ده. د غنمو په اړه، د هر جريب په سر ۳۰۰ افغانۍ د کانال په ځمکو او ۲۰۰ افغانۍ په پخوانيو دښتي ځمکو وضع شوې. په دې ډول په حاصلاتو کې توپير او په پخوانيو دښتي ځمکو د اوبو لګولو لګښت په نظر کې نيول شوی. د يادونې وړ ده چې په ۲۰۱۷ کې دغه تاديات په افغانستان کې ادا کېدل، په داسې حال کې چې پخوا د غنمو ماليات په پاکستاني روپيو ادا کېدل. البته، سره د دې چې هلته يو عمومي سيستم ځای نيولی دی، بيا د شخصي جوړښت لپآره لار شته. د مثال په ډول، له يوه بزګر څخه چې د بغرا د کانال په شمال کې يې په شپږ هکتاره ځمکه باندې د کوکنارو کښت کړی و، د ځايي طالب قوماندان له خوا يوښتنه وشوه چې څومره کوکنار يې کرلي دي. طالب قوماندان لست جوړاوه چې هر بزګر بايد څومره ماليات ورکړي. بزګر وويل چې ۳،۲ هکتاره کوکنار يې کرلي دي. طالب قوماندان وويل چې دی به ۱،۲ هکتاره وليکي. په دې ډول ، بزګر د ۲،۷۵ کيلو ترياکو په ځای ۱،۸ کيلو ورکړل. په هکتار کې ۴۵ کيلو ترياکو سره ټول حاصلات ۲۷۰ کيلو ته ورسېدل او دې بزګر د دې مجموعي حاصلاتو يوازې ۰،۷ سلنه تاديه کړې دي. دغه اندازه تر لس سلنې " عشر " څخه ډېره کمه ده چې په عام ډول يې راپور ورکول کيږي.

دويم جدول هغه عوايد ښيي چې طالبان يې ښايي له ناد علي او مارجه اولسواليو څخه راټول کړي. دغه رقم د UNODC له راپورونو سره يوه مقايسه وړاندې کوي چې له مخې يې د مرکه ورکوونکو څخه ۵۸ ٪ کسانو د ترياکو ۱۱ سلنه ماليات ورکړي دي. د AREU محاسبې له دغو دوو اولسواليو څخه په ۲۰۱۲ کې ۳،۷ ميليون ډالر ماليه ښيي چې د هغې له جملې څخه ۲،۵ ميليون يې د ترياکو ماليه وه چې د ټولو پرداخت وړ مالياتو دوه پر درېيمه برخه جوړوي. د دې په مقايسه، UNODC راپور ورکړی چې يوازې د ترياکو ماليات ۳ ميليون ډالر ته رسېدلي او هغه هم د ۵۸ ٪ خلکو له خوا تاديه شوي. په نادعلي او مارجه ولسواليو کې د ټولو له خوا تاديه شوي ماليات ۵،۳ ميليون ډالر جوړول– که د کوکنار د کښت حجم او په دې دوو ولسوايو کې د طالبانو حضور ته وګورو، يوه ډېره په ځای محاسبه ده. په دې ډول، د ترياکو د پرداخت وړ مالياتو اندازه چې د UNODC له خوا تخمين شوې دوه برابره د هغې اندازې ده چې د AREU يې تخمين کړې دی. UNODC د طالبانو له خوا د ترياکو له کښت څخه د راټول شويو مالياتو په تخمين کې مبالغه کړې ده.

۹۸ وګورئ د افغانستان لپآره د سويډن کمېټه. "د افغانستان کرنيزه سروې: د نادعلي د ولسوالي د فارمونو سيستم، هلمند ولايت." http://fes/docs/archives.org/helmandvalley/scotts-۹۲-۰۲.August.pdf ۱۹۹۲ (accessed on ۲۰ August ۲۰۱۷), ۱۱.

۹۹ مجاهدينو هم په ۱۹۸۰ کلونو کې حکومتي ځمکې ووېشلې. په دې وخت کې يوه فورمه جريبه ځمکه وه، چې له ۱،۲ هکتار سره برابره ده.

۱۰۰ د فورمې کلمه، ويل کيږي چې له هغې فورم څخه را اخيستل شوي چې د ځمکې قباله پکې ليکل شوې وي. وګورئ د افغانستان لپاره د سويډن کمېټه. "د افغانستان کرنيزه څېړنه: د نادعلي والسوالی د فارمونو سيستم، هلمند ولايت."۱۱

۱۰۱ منزفليد ، ډيويډ. "د ډبرې او سخت ځای تر منځ د مخدره توکو پر ضد فعاليتونه او په ننګرهار او هلمند ولايتونو کې د کښت په موسمونو کې د هغو اغېزې ۲۰۱۰-۲۰۱۱. "

https://areu.org.af/wp-content/uploads/۲۰۱۲/۰۲/۱۱۲۸E-Between-a-Rock-and-a-Hard-Place-CS-February.۲۰۱۱.pdf ۲۰۱۲ (accessed on ۲۰ August ۲۰۱۷).

۱۰۲ په هلمند کې يو من ۴۰ خورده دی. په هلمند کې يو من د ۴،۵ کيلو سره برابر دی. په دې حساب يو خورد له ۱۱۲،۵ ګرامه سره برابر دی.

**۱ جدول: په مارجه او نادعلي ولسوالیو کې د طالبانو له خوا راټول شوي عواید ، هلمند۱۰۳**

| د مالي ډول | نرخ | د فورمې ډول (جریب)[1] | د ټولې ځمکې فیصدي | د فورمې نمبر (ډول) | مالیات (افغانی) | | ټول مالیات (USD) | د ټولو مالیاتو فیصدي |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ځمکه | ۲۰۰ افغانی/ فورمه | ۳۰ جریبه | ۲۰ | ۴۱۵۰ | ۸۳۰۰۰۰۰ | | ۱۲۲۰۵۹ | |
| | | ۱۵ جریبه | ۳۰ | ۴۱۵۰ | ۸۳۰۰۰۰۰ | | ۱۲۲۰۵۹ | |
| | | ۱۰ جریبه | ۱۰ | ۲۰۷۵ | ۴۱۵۰۰۰۰ | | ۶۱۰۲۹ | |
| | | | | | | مجموعه | ۳۰۵۱۴۷ | ۸.۲ |
| تریاک | نرخ | کوکنار (جریب)[2] | تادیات په (کلوګرام ) | د تریاکو بیه ( /کلو USD) | | | | |
| | ۲ خورده/ جریب | ۲۲۱۴۵ | ۱۳۹۸۲ | ۱۷۲ | | | ۲۴۶۰۹۴۲ | |
| | | | | | | ټوله مجموعه | ۲۴۶۰۹۴۲ | ۶۶.۵ |
| | نرخ | د غنمو اندازه (٪) | تر غنمو لاندې ټوله ساحه | | | | | |
| غنم (دښته ) | ۲۰۰ افغانی/ جریب | ۵۵ | ۱۷۷۹۲۵ | | ۳۵۵۸۵۰۰۰ | | ۵۲۳۳۰۹ | |
| غنم (کانال) | ۳۰۰ افغانی/ جریب | ۴۵ | ۹۳۳۷۵ | | ۲۸۰۱۲۵۰۰ | | ۴۱۱۹۴۹ | |
| | | | | | | | | |
| | | | | | | ټوله مجموعه | ۹۳۵۲۵۷ | ۲۵.۳ |
| | | | | | | | | |
| | | | | | | مجموعه | ۳۷۰۱۳۴۶ | ۱۰۰ |
| | | | | | | | | |
| UNODC | نرخ | هکتار [3] | حاصلات (کلوګرام/ هکتار ) | ټول تولید | د قابل پرداخت تادیات (کلوګرام) | بیه (/ کلوګرام USD) | ټول مالیات (USD) | |
| | د تریاکو د تولید ۱۱ سلنه | ۱۲۴۲۹ | ۲۲ | ۲۷۳۴۳۸ | ۳۰۰۷۸ | ۱۷۲ | ۵۲۹۳۷۶۰ | |
| | | | | | | که د ۵۸٪ | ۳۰۷۰۳۸۱ | |

۱ ۱۰۴ په هره فورمه کې د ځمکط د اندازې تخمین د منزفلید ، ډیویډ له مخې شوی دی د ډېرې او سخت ځای تر منځ: د مخدره توکو ضد فعالیتونه او په ننګرهار او هلمند ولایتونو کې د ۲۰۱۰-۲۰۱۱ کلونو د موسم په دوران کې دهغوی اغېزې، ولسوالی ۱۱.

۲ د USG تحلیل ښیي چې په بکواه کې ۳۳۵۰۰۰ جریبه ده. کرنیزه ځمکه په ۲۰۱۲ کې موجوده وه چې د ۲۷۰۰۰ هکتاره سره برابره ده.

۳ که څه هم چې د تادیاتو مقدار په معمول ډول د کرنیزو محصولاتو لس سلنه پېژندل شوي، د افغانستان په نورو برخو کې ژورو څېړنو ښودلې چې تادیات د محصولاتو د وروستۍ اندازې له درې سلنې څخه نه ډېرېږي. وګورئ د منزفلید ، ډیویډ. " د معلوماتو پاڼه ۷: په جنوبي افغانستان کې مالیات."

۱۰۳ د GIS تحلیل څرګندوي چې په ۲۰۱۲ کې په دغو ولسوالیو کې د کانال تر اوبو لاندې ۴،۵ کیلو متر مربع ځمکه کرنیزه ځمکه ده او ۲۴ کیلومتر مربع ځمکه په پخوانۍ د ښته کې کرنیزه ځمکه ده ( په دې کې د بغرا کانال شمالي برخې او دغه راز د لشکرګاه او ترک ناوې په جنوب کې پخوانۍ دښتې شاملې دی. )

## ۳.۴ د توسعې په حال کې د مالیې پر بنسټ د پیسو تادیه کول

په داسې حال کې چې د مالیاتو د تحمیلولو ورتیا په یوه ساحه کې د یاغیانو نفوذ څرګندوي، د مالیاتو ډول، د تادیاتو بنسټ ښیي چې یاغیانو تر کومه بریده خپل نفوذ غځولی دی. د مثال په ډول، په فراه ولایت کې د بکواه په ولسوالۍ کې چې د هلمند د پخوانۍ شمال غربي دښتو څخه **۱۵۰** کیلو متره لیرې ده. په ځایي ډول دښته ده. تادیات نه یوازې له هلمند څخه تو پییر لري، بلکې په تېرو دریو کلونو کې یې بدلون موندلی. په پخوانۍ دې دښتې سیمه کې له بزګرانو څخه نور د یوه جریب تریاکو په سر دوه خورده نه اخیستل کیږي لکه څنګه چې دوی پخوا ورکول، او اوس هم په هلمند کې جاري ده. د دې په ځای، په بکواه کې مالیات د ژورو څاګانو پر بنسټ اخیستل کېدل چې بزګرانو د ځمکو د خړوبه کولو لپاره کېندلي وو.

کله چې په **۲۰۱۲** کې د مالیاتو په سیستم کې دغه بدلون را څرګند شو، بزګرانو په لومړي سر کې باید د هرې څا په سر چې د ډېزلي جینیراتور په ذریعه یې اوبه ایستلې ۲۰۰۰ افغانۍ او د لمر د انرژۍ د څا په سر **۳۰۰۰** افغانۍ ورکړې وای. د **۲۰۱۷** په پسرلي کې دغه اندازه د ډیزلي جینیراتورونو لپاره **۳۰۰۰** افغانیو او د لمر د انرژۍ د څاګانو لپاره **۵۰۰۰** ته وخته. یوه ژوره څاه – په خاص ډول د لمر د انرژۍ څاه-ا ته ۸ هکتاره پورې ځمکه خړوبه کولای شي، خو ښایي یوازې **۳** هکتاره ځمکه و کرونده کړي.

**۲ جدول: د بکواه په ولسوالی،[104] فراه کې د طالبانو له خوا راټول شوي عواید ، ۲۰۱۲**

| د مالیاتو ډول | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | د ژورو څاګانو شمېر | | | | | | |
| ۳ هکتاره | ۲۲۳۳۳ | | | | | | |
| ۸ هکتاره | ۸۳۷۵ | | | | | | |
| ۳ هکتاره | د ژورو څاګانو شمېر | نرخ (افغانۍ) | مالیات (افغانۍ) | مالیات USD | | | |
| لمریز | ۵۵۸۳ | ۲۰۰۰ | ۱۱۱۶۶۶۶ | ۱۶۴۲۱۶ | | | |
| ژوره څاه | ۲۷۹۲ | ۳۰۰۰ | ۸۳۷۵۰۰۰ | ۱۲۳۱۶۲ | | | |
| | | | ۱۹۵۴۱۶۶۷ | ۲۸۷۳۷۸ | | | |
| UNODC | نرخ | هکتار | حاصلات (کلوګرام/هکتار) | ټول تولیدات | قابل تادیه مقدار (کلوګرام) | بیه (USD/ کلوګرام | ټول مالیات USD)) |
| | د تریاکو د تولید ۱۱ سلنه | ۱۵۰۳ | ۲۲ | ۳۳۰۶۶ | ۳۶۳۷ | ۱۷۶ | ۶۲۴۰۱۵۸ |
| | | | | | | د ټول ۵٪ | ۳۷۱۲۹۲ |
| | | | | | | | |
| | | ۶۰۰۰ | ۲۲ | ۱۳۲۰۰۰ | ۱۴۵۰۰ | ۱۷۶ | ۲۵۵۵۵۲۰ |
| | | | | | | د ټولو ۵۸٪ | ۱۴۸۲۲۰۲ |

۱۰۴ یو سېر (۱،۲ کیلو) ۴۸ قانوس جوړوي.

په داسې حال کې چې په ۲۰۱۲ کې طالبانو ته په بکواه کې د ورکړل شویو مالیاتو اندازه د هرې محاسبې له مخې یو شانته وي، خو کله چې د کوکنارو د کښت په کچه کې توپیر راشي، دغه محاسبه بیا درسته نه ده ( وګورئ ۳ جدول). د مثال په ډول، که په بکواه کې د کښت اندازه په هغه کچه کې وشمېرو چې په تېرو څو کلونو کې وه (د مثال په ډول ۲۰۰۰ هکتاره) طالبانو ته به د UNODC د محاسبې له مخې ۲،۲ میلیون ډالر باد راوړې پیسې لاس ته ورځي. د دې په مقایسه ، د مالیې سیستم، چې د بزګرانو د ژورو ځاګانو د شمېر او ډول پر بنسټ اجرا کیږي، ښایي همدومره حاصلات ورکړي، بې له دې چې د کښت په کچه کې بدلون ته پام وکړو کوم چې ۲۸۷۰۰۰ او ۷۲۲۰۰۰ ډالر تر منځ تخمین کیږي. که څه هم ښایي د ځمکې پر سر د مالیاتو سیستم " په برکتي کال کې " د تنظیم له لحاظه اسانه وي خو په مالي لحاظ به ګټور نه وي، د هغه سیستم په پرتله چې د حاصلاتو د مقدار پر بنسټ سنجول کیږی او په دې برسېره په ساحه کې د طالبانو د سلطې د ټنګولو ښکارندویي کوي.

نه یوازې په جنوبي او جنوبي غربي سیمو کې د مالیاتو د سیستم او د نرخو په اړه چې د افغانستان په نورو برخو کې عملي کیږي د UNODCله راپورونو سره ډېر توپیرونه شته. د مثال په ډول په ننګرهار کې په یوه ولسوالي کې له یوه کلي څخه بل کلي ته د تادیاتو په منځ کې فرق موجودو ، کله چې طالبانو په یوه ساحه کې نفوذ پراخ کړ او بیایې خپل موقف تقویه کړ.

په حقیقت کې په ۲۰۱۳ کې د معلوماتو راټولونې د اچین او خوګیاڼیو په ولسوالیو کې د مختلفو مالیاتي سیستمونو او نرخونو یو ترکیب ښوولی دی چېرې چې په ځینو کلیو کې د حکومت ضد عناصرو ته د ځایي مسجدونو له لارې نغدې پیسې ورکړل شوې دي – د دغو پیسو مقدار د هر موسم په پای کې د خلکو په وس پورې تړلې و ( خدای او وس). نورو کورنیو په لیږ لیرې پراته کلي کې باید یو معین مقدار د تریاکو ورکړي وای چې اندازه یې د ټولې کښت شوې ځمکې له مخې معلوم و. ډېری خلکو د تریاکو یو پاو ( ۴۳۰ ګرام) تریاک ورکړې دي. په نورو کلیو کې ځواب ورکوونکو عشر یاد کړی دی او بې له دې چې "غریب" او د " طالبانو " لپآره یې اندازه معلومه کړي او څرګنده نه وه چې دغه مالیات د دې دوو په منځ کې څه ډول وېشل شوي وو. لکه په ډېرو ځایونو کې، هغو بزګرانو چې مستقیمې اړیکې درلودې او یا یې کم حاصلات درلودل کولای شوای چې د مالیاتو په سر مذاکرې وکړي. ځینو بزګرانو یو یا دوه قتوسه تریاک ورکړي دي ( له ۲۵ تر ۵۰ ګرامه ).

په ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ کلونو کې د څېړنې په همدغه ساحه کې سروې وښودله چې د مالیاتو اساس پراختیا مومي ځکه چې ځایي یاغي ګروپونو چې زیاتو ساحو ته ننوتي وو په دې برخه کې لوی نقش درلود. دوی د کابل دریاب او لوی لارې ته نژدې ټیټو برخو ته راښکته شول. له ۲۰۱۵ څخه د مخه په کرنیزو حاصلاتو د " عشر " اندازه په اچین، خوګیاڼیو او پورته شینوارو ولسوالیو کې په هره کورنۍ باندې په معمول ډول له ۱۰۰۰ څخه تر ۳۰۰۰ پآکستاني روپویو پورې ټاکل شوې وه بې له دې چې حاصلاتو ته پام وشي. که څه هم، په موسم کې د تریاکو بیبه په احتمالي ډول لوړیږي خو دوی د جنس په ځای نغدې پیسې د مالیاتو په شکل راټولې کړې دي.

په ځینو ساحو کې لکه شینواري، بزګرانو راپور ورکړی چې دوی کتبي اطلاع تر لاسه کړې او په هغه کې د دوی نوم د ځمکې اندازه او د مالیاتو مقدار لیکل شوي وو. په نورو ولسوالیو لکه خوګیاڼي او اچین کې د ځایي مسجدونو په ذریعه ابلاغ شوې چېرې چې په لیکلي ډول د مالیاتو اندازه ښکاره شوې وه. تادیات په معمول ډول د جنس په شکل نه بلکې په نغدي ډول راټول شوي او هغو بزګرانو چې تریاک او چرس یې کرلي وو د هغو بزګرانو په نسبت لیږ څه زیات مالیات ورکړي وو چې غنم ، ترکاري او مېوې یې په خپلو ځمکو کرلې وې. تادیات له لس فیصد څخه (عشر) ډیر کم و لکه څنګه چې UNODC راپور ورکړی و او بیه یې د کرنیزو حاصلاتو یوه سلنه جوړوله.

په ۲۰۱۵ کې دا هم څرګنده شوه چې طالبانو نور مالیات هم راټولول چې د کرنییزو محصولاتو راټولولو څخه مخکې اجرا کېدل. د مثال په ډول، طالبانو په پورته او ښکته شینوارو کې له لوی اختر[105] نه وروسته د څارویو د پوستکو څخه د خرڅلاو پیسې راغونډې کړې وې مخکې له دې چې دوی په دې ساحو کې له بزګرانو څخه د کرنییزو محصولاتو عشر راټول کړي.[106] که څه هم د دې سیستم په ذریعه په نسبي ډول کمې پیسې راټولې شوې چې د هر مسجد په سر له ۵۰۰۰ څخه تر ۸۰۰۰ پاکستاني روپۍ پورې رسېدلې او په هر مسجد باندې نژدې ۱۰۰ کوره شریکان وو ، خو دې سیستم په ساحه کې د طالبانو حضور تمثیل کړ. شوکه یا شکونه د مالیاتو یو بل ډول و. د دې ډول مالیاتو لپاره ضروري نه وه چې یاغیان په ساحه کې دایمي حضور ولري او یا د دولت واکمني کمزورې وي. بیا هم، د دې سیستم په ذریعه

۱۰۵ دا د قرباني دود دی چې د الله په نوم یو حیوان قرباني کیږي.

۱۰۶ دغه مالیه د طالبانو د حرکت لومړنی وخت ۱۹۹۴ تر اشاره کوي. وګورئ د عایشه احمد ، "د مسجد او مارکیټ تر منځ: په اوسنۍ اسلامي نړۍ کې د دولت د ناکامي او جوړونې اقتصادي توضیح،" مونټریال، د مک ګیل پوهنتون د دوکتورا سند ، جولای ۲۰۱۲.

له شتمنو سوداګرو یا هغو کسانو څخه چې له حکومت سره یې اړیکې درلودې یا یې د کورنۍ غړي په ANDSF کې شامل وو، تر سلو زرو پاکستاني روپیو پورې راټولې کړې دي. په ننګرهار کې د نورو مالیاتو راټولول هم د یاغیانو نفوذ ښیي که څه هم د دوی دایمي حضور لا تر اوسه هم نه و قایم شوی. د مثال په ډول، په پورتني سرخرود کې د ځایي طالبانو قومندان د ۲۰۱۵ کال په اګست کې کرک ته نژدې په بارینه کې د کانال دروازه بنده کړه او تر کښت لاندې د هر جرب ځمکې په سر یې ۱۰۰۰ پاکستانۍ کلداري وغوښتلې. څنګه چې دا د اوړي د حاصلاتو وروستی وخت و او د دې خطر و چې حاصلات ته زیات تاوان ورسیږي، په باغوانۍ ، خیب اباد او د پورته سلطان پور په ځینو برخو کې کلیوالي ټولنې مجبورې شوې چې قومندان ته هغه پیسې ورکړې کومې چې ده غوښتې.

د ۲۰۱۷ کال په پسرلي کې ځېړنو د تورخم جلال اباد لویې لارې ته نژدې لکه د شینوارو او بټي کوټ د کانال تر اوبو لاندې سیمو کې د یاغیانو تسلط وښود. دلته لکه په نورو ساحو کې چېرې چې طالبانو یو دایمي شتون ټینګ کړی وو د اندازې او کرل شویو حاصلاتو په اړه په تفصیل سره معلومات راټول شوي و او د مالیاتو په محاسبه کې کارول شوي و. لکه څنګه چې یوه بزګر وویل: " طالبان په هر کال کې قوت پیدا کوي، دا د دوی حکومت دی".

د مالیاتو له دغو مختلفو شکلونو او کچو څخه چې په دې برخه کې مستند شوي او له هغو تجربي معلوماتو څخه چې د وخت په تېرېدو سره دغو سیستمونو څنګه پراختیا وموندله کومې پایلې ته رسیږو؟ لومړی، دا څرګنده ده چې یاغیان حتی په هغو ساحو کې هم نفوذ لري چېرې چې حکومت ښایي له مسلط موقف څخه برخمن وي. په ځینو حالاتو کې دغه نفوذ ډېر څرګند نه وي او په افغانستان کې د امریکا د پوځي ځواکونو له خوا د کارول شویو معیارونو په ذریعه نه شي معلومېدای. یوې ساحې ته د یاغیانو لومړنی ورتګ چې د کلیوالي خلکو مرسته را جذب کړي ښایي دومره ظالمانه نه وي لکه څنګه چې معلومیږي. د مثال په ډول، په دغه لومړنی مرحله کې یاغیان د پیسو راټولولو لپاره داسې ژبه استعمالوي لکه کومک او خیرات او په ښکاره ډول له هغه توضیحاتو څخه توپیر لري چې حکومتي چارواکي یې د تآدیاتو د راټولولو لپاره کاروي دغې طریقې ته په معمول ډول رشوت خوري یا زهر ویل کیږي.[۱۰۷] په دې لومړی مرحله کې یاغیان ځایي غوښتنو ته ډېر ځواب ګویه وي. د مثال په ډول، د ننګرهار په ځینو برخو کې طالبانو د هلکانو له تعلیم سره مرسته وکړه او ښوونکې او شاګردان یې په حکومتي ښوونځیو کې مجبور کړل چې ښوونځیو ته لاړ شي او حتی هغه ښوونکې یې تشخیص کړل چې په کومه ورځو دوی کار ته نه وو تللي.[۱۰۸]

د مالیاتو نرخونه هم د کرنیزو محصولاتو عمومي اقتصادي حالت او دغه راز د انفرادي اشخاصو د موافقې پر بنسټ تعینیږي.[۱۰۹] کله چې یاغیان په یوه ساحه کې خپل موقف ټینګ کړي، له هغه وروسته مالیات منظم شکل اختیاروي چې د حاصلاتو پر بنسټ نه بلکې د ځمکې د اندازې پر سر تعینیږي او حتی د پخوانیو حکومتونو د مالیاتو د ټولولو سیستمونه اختیاروي ، لکه په هلمند کې د کانال تر اوبو لاندې ځمکو باندې چې جاري دی.

دویم ، د طالبانو او د تریاکو د تولید په منځ کې ادعا شوې اړیکه دومره مستقیمه او ساده نه ده لکه څنګه چې UNODC او نوریې راپور ورکوي. د مالیاتو اندازه چې تر لس سلنه نه بلکې تر یوه سلنه کم، د ځمکو پر بنسټ د مالیاتو راټولونه او تادیات د جنس په شکل نه بلکې په نغدې ډول د مالیاتو د ټولونې داسې یوه ستراتیژي نه ده چې د عوایدو د زیاتولو په منظور طرح شوې وي یا بزګران په دې مجبور کړي چې کوکنار وکري. په دې شرایطو کې، دغه ادعا چې طالبان خلک د کوکنارو کښت ته مجبوروي مبالغه ده. د تریاکو د تولید د هڅولو دلیل ښایي له هغې ستراتیژۍ سره تړاو ولري چې حکومت د کښت تخریبولو ته ترغیب کړي او په دې ډول کلیوال خلک د حکومت د ښمن وګرځوي، د دې پر ځای چې له کرنیزو محصولاتو څخه مالي ګټې یعنی لسمه برخه تر لاسه کړي. د دغو خبرو څخه یوه هم د دې معنی نلري چې طالبان د مخدره توکو له تجارت څخه ګټې لاس ته نه راوړي، بلکه معنی یې دا ده چې د تریاکو له کښت څخه په لاس ته راغلې مقدار کې مبالغه لیدل کیږي، ځکه چې د UNODC له خوا کارول شوې میتدولوژي کمزورې ده.

درییم، په کلیوالی خلکو د مالیاتو تحمیول که څه هم جبري شکل لري، خو په حتمي ډول کومه جزایي جنبه نلري. د یاغیانو او په افغانستان کې د خشونت د کچې درک کول ښایي حیرانوونکي وي. مور ( ۲۰۰۸ ) دریو اقتصادي او سیاسي عواملو ته اشاره کوي چې د مالیاتو له جبري ټولونې سره مرسته کوي. لومړی عامل یې " مسلط نخبه ګان دي چې د خپلو اتباعو او نه د کومې بلې بدیلې قوې له خوا له محدودیت

۱۰۷ منز فليد ، ډيويډ. ( خبرپاڼه: په جنوبي افغانستان کې ماليات )

۱۰۸ منزفلید ، ډیویډ. "په تفصیلاتو کې غلطي" ۱۲.

۱۰۹ منزفلید ، ډیویډ. "خبرپاڼه ۷: په جنوبي افغانستان کې مالیات."

سره مخ وي او داسې قانع کوونکی دلایل و نلري چې د پراخ ملاتړ په لټه کې شي. " مور دویم عامل " یو کمزوری، کرنیز د حداقل معشیت اقتصاد " بولي او دربیم " د عوایدو منبع چې د احتمالي مالیه ورکوونکو له خوا کنټرولیږي ځوک چې د دولت له خوا د عرضه شویو خدماتو په وړاندې لوړ مالیات ورکوي او نه شي کولای بل ځای ته کډه وکړي ځو له مالیاتو څخه خلاص شي یا د خپلو اقتصادي فعالیتونو کچه راټیټه کړي. " دغه عوامل د افغانستان په کلیوالی سیمو کې مسلط دي. د دې په مقایسه د طالبانو له خوا د تریاکو په کښت تحمیل شوي مالیات په نسبي ډول ټیټ دي. د دې معنی دا ده چې د یاغیانو علاقمندي له دې سره ده چې د مالیاتو اندازه په هغه حد کې وساتي چې کلیوال خلک له ځان څخه بېزاره نه کړي. دا هغه اشتباه وه چې په افغانستان کې پخوانیو حکومتونو کړې وه لکه د امان الله خان حکومت. دغه حقیقت د دې ښکارندویی هم کوي چې طالبان د عایداتو نور شکلونه هم لري. په دغو کې ښایي د نشه ای توکو له تجارت څخه مالیات او له نورو دولتونو او انفرادي اشخاصو څخه مرستې شاملې وي.


# ۴. په افغانستان کې د نفوذ د تخمینولو بڼې طریقې:

په تېرو دوو برخو کې له ساحې څخه د ژورو څېړنو څخه راغونډ شوي معلومات کارولي شوي چې څنګه د کوکنارو په کښت او مالیاتو کې بدلونونه د دې لپاره یاد شوي څو د افغانستان د دولت نفوذ وپېژندلای شو. د دې لپاره چې له دغو شاخصونو څخه څنګه استفاده وکړو څو د افغانستان د دولت دستور او سلطه ترسیم کړو په ننګرهار کې یوه امتحاني سروې پیل شوه. د دې مطالعې لپاره د AREU له خوا په راټول شویو معلوماتو او د Alic له خوا د GIS د جغرافیا د معلوماتو د سیستم له تحلیلونو څخه ګټه پورته شوې چې د لاندې ښودل شوي (۲۲، ۲۳ او ۲۴ شکلونه). دغې میتودولوژي د "کنټرول" مفهوم چې په افغانستان کې د امریکایي پوځونو له خوا کارول شوې، پرې ایښې او د هغه پر ځای یې د حکومت د نفوذ مختلفې کچې له پاسه تر کوزه پورې په کټګوریو وېشلې دي.


د ننګرهار په قضیه کې- یو ولایت چې د کوکنارو د کښت یوه سابقه لري- میتودولوژي د کوکنارو له احتمالي ارقامو څخه چې د امریکا د حکومت له خوا په ۲۰۱۲ کې راغونډ شوي وو، د داسې وسیلې په ډول کار واخیست چې د حکومت تر کمزوري یا ډېر کمزوري نفوذ لاندې ساحې په نښه کړي. د دې تشخیص لپآره په دویمه برخه کې له تحلیل څخه استفاده شوې ده. د داعش لپاره د یوې بلې "کمزورې" کټګورۍ له شاملولو څخه معلومېږي چې، د سټلایټ د ارقامو پر بنسټ ، چې د دې ډلې د سلطې په وخت کې د کوکنارو په کښت بندیز لګېدلی و ( وګورئ ۲۳ شکل). څرنګه چې د کوکنارو احتمالي ارقام د ولسوالیو په سرحداتو پورې محدود نه دي، دغه روش د ولسوالي په کچه د حکومت د نفوذ په اړه ډېر معلومات ورکوي. په درېیمه برخه کې د شنڼې پر بنسټ، د مالیاتي سیستم د ډولونو په اړه معلومات هم په میتودولوژي کې ځای شوي. په دې ډول د هغو ساحو چې " ناڅاپي مالیات" یې ورکړي چېرې د یاغیانو نفوذ ډېر کم رنګه و او د هغو تر منځ توپیر شوی چېرې چې مالیات د کرنیزو حاصلاتو د لسمې برخې او د ځمکې د اندازې پر بنسټ ټول شوي. په دې وروستیو ساحو کې یاغیانو دایمي شتون درلود. د نورو تفصیلاتو او د فرعي ناحیې په کچه د ارقامو د راټولولو لپاره د ولسوالیو تر مرکزونو ، امنیتي اډو په شاو خوا ( د تصویرونو په ذریعه پېژندل شوی ) او د لویو لارو په اوږدو کې موانع ایجاد شوي وو. دغو موانعو له ۱۰۰ تر ۲۰۰ مترو پورې اوږدوالی درلود ، چې په ځایي شرایطو پورې تړلي وو. په داسې حال کې چې د ولسوالیو او امنیتي اډو په منځ او شاوخوا کې د حکومت نفوذ ډېر ښه تخمین شوی و ، په لویو لارو د حکومت نفوذ له هرې لارې او له دې سره توپیر درلود چې حکومت په شاوخوا ساحو باندې تر کومه بریده نفوذ ساتلی دی. د مثال په ډول، د جلال اباد او تورخم تر منځ په لویه لار او په بفر زون باندې حکومت ښه نفوذ درلود ، مګر په ډېرو حالاتو کې په لویو لارو د حکومت کنټرول ښایي د لارې په اوږدو کې په یوه حالت کې پاتې نه شي. پوځي قطار د پورته سرخرود په اوږدو کې ښایي په نسبي ډول په اساتی تګ راتګ وکړي. چېرې چې په ۲۰۱۷ کې د حکومت نفوذ کم شوی دی که د فتح اباد ساحې ته راشو هلته ښایي حکومت له شدید مقاومت سره مخ شي ( دغه حالت له لمر لویده څخه وروسته د موټرونو د تلاشی له پوستو او د تریاکو د ګڼ کښت څخه معلومېږي). دغه راز، دغه مقاومت په خوګیاڼیو او ورها خوا هم شته چېرې چې د حکومت نفوذ کم شوی ( نفوذ ۲ ) او ډېر راټیټ شوی ( نفوذ ۵ ) ( وګورې ۲۴ شکل).


کله چې یو ځلې د نفوذ ساحې معلومي شوې، له هغه وروسته ممکن و چې د GIS له تحلیل څخه کار واخلو څو د نفوسو او هغې خاورې تخمین وکړو چې په هره ولسوای کې او په هر ولایت کې په مجموعي ډول د نفوذ تر هرې کټګوري لاندې راځي ( وګورئ ۲۲ شکل). دغه محاسبې په افغانستان کې د امریکا یي پوځي ځواکونو د میتودولوژي په خلاف د ولسوالیو له سرحداتو څخه اوړي. د نفوسو تخمین د کورنیو د شمېر پر بنسټ شوی لکه د Alics له خوا د کورنۍ د ارقامو مجموعه او د لانډسکن د نفوسو دیتا چې یې څرګندوي. ځمکه د ژوندی کښت په ذریعه اندازه شوه، ځکه دغه روش په افغانستان کې د اوسېدنې ساحې او تولیدي منابع چې دولتي یا غیر دولتي برخه وال یې په کار اچوي، په ښه توګه څرګندوي. دغې میتودولوژي چې د کوکنارو د کښت او مالیاتو له ارقامو څخه یې استفاده کړې، د ۲۰۱۷ په آپریل کې تخمین کړی چې ۲۳ کورنۍ یا د ننګرهار ۱۵٪ اوسېدونکي په هغو ساحو کې اوسېدل، چېرې چې حکومت ډېر نفوذ یا نفوذ درلود. دغه ساحې د کرنیزو تولیدي ځمکو یوازې ۲۸ ٪ وې. میتودولوژي وښووله چې د افغانستان د حکومت نفوذ حتی د جلال اباد مرکز ته ډېر نژدې څومره محدود دی. په خوابنۍ سره، امکان نه شته چې دغه تخمین په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو له هغه تخمین سره پرتله شي چې د ننګرهار په باب یې کړی و. ځکه دغه راپور اوس په عام ډول د لاس رسي وړ نه دی.

۲۲ شکل: ساحه و نفوس تحت سطوح مختلف نفوذ حکومت در ننگرهار در ماه اپریل



۳۴ شکل: ساحه تحت سطح نفوذ حکومت در ولسوالی اچین، ننگرهار، اپریل ۲۰۱۷






۲۴ شکل: ساحه تحت سطوح نفوذ حکومت در ولسوالی سرخرود، ننگرهار، اپریل ۲۰۱۷

# ۵. پایله:

دغه راپور د افغانستان په خلکو او خاوره د دولت او نا دولتي عاملینو د کنټرول او نفوذ ارزونه ننګولې ده. راپور په افغانستان کې د امریکایي پوځي ځواکونو د روش محدودیتونه په هغه چوکاټ کې د ننه توضیح کړي دي چې د میتودولوژۍ په نوم پېژندل شوی دی. راپور ښوولې چې په خلکو یا ساحې د دولت یا یاغیانو د "کنټرول" مفهوم نه یوازې په افغانستان کې د دولت له تاریخي درک سره په ټکر کې دی، بلکې د هیواد په ډېرو برخو کې له اوسنیو پېښو سره هم اړخ نه لګوي. په دې ډول، دې راپور دغه راز ښوولې ده چې په افغانستان کې د امریکایي پوځي ځواکونو له خوا کارول شوې کټګورۍ – د "دولت نفوذ" "د یاغیانو نفوذ" او متنازعې ساحې – یو بل نه نفي کوي او په دې ډول ارزول کېدای نه شي. په پای کې، راپور استدلال کوي چې د ولسوالیو په کچه ارزونه کافي او مفصل معلومات نه وړاندې کوي چې څنګه یاغیان په یوه ساحه کې نفوذ کوي، خپل موقف په کلیوالي برخو ټینګوي مخکې له دې چې په ولسوالۍ یا د ولایت په مرکز کې خپل موقف ټینګ او هغه محاصره کړي. د راپور ورکونې یو سیستم چې نه شي کولای د دغه ډول کیفیت معلومات وړاندې کړي یو بې اغېزې سیستم دی او د هغو هدفونو په رڼا کې چې د افغانستان حکومت او د ناتو سازمان د ۲۰۱۹ لپاره په نظر کې نیولي دي هغه بدلیدونکی تهدیدونه په ښه ډول نه شي توضیح کولای کوم چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت حکومت ته متوجه دي.

د دې راپور دویمې او درېیمې برخو د کوکنارو د کښت او د یاغیانو له خوا د مالیاتو د ټولونې بدلېدونکو طریقو په اړه مفصل معلومات وړاندې کړي دي. لکه څنګه چې په دویمه برخه کې ښودل شوې،په پراخه پیمانه د کوکنارو کښت د حکومت د نفوذ د معلوموملو لپاره یوه ښه وسیله ده او د افغانستان د دولت د کمزوري نفوذ یو ښکاره ثبوت وړاندې کوي. د هلمند د خوړو د زون په تولیداتو کې له کمښت څخه وروسته د کوکنارو کښت د هلمند تر کانال لاندې ځمکو ته بېرته راوګرزید ؛ د ننګرهار په ټیټو برخو کې له یوې لسیزې وروسته بیا دغه کښت په ځینو ساحو کې پیل شو او د بلخ ولایت په ځینو برخو کې د کوکنارو د کښت په ډراماټیک ډول زیاتېدل په هغو ساحو کې د افغانستان د دولت د نفوذ کموالی ښیي چېرې چې دولت یو وخت ځواکمن و. لویو تاسیساتو ته نژدې، لکه د افغانستان د ملي او امنیتي ځواکونو اډو ته نژدې د کوکنارو کښت د ځایي خلکو په نظر د دولت کمزوري څرګندوي. البته داسې ساحې هم شته چې د کوکنارو کښت پکې نه لیدل کیږي، مګر هلته د افغانستان د حکومت نفوذ کم شوی دی. د مثال په ډول کندز، او په شرق کې ځینې ولایتونه لکه پکتیکا، پکتیا او غزني هیڅکله د کوکنارو د کښت سابقه نلري او له دې امله نه شو کولای د کوکنارو د کښت نشتوالی په حتمي ډول د دولتي ځواکمني د سبول په ډول تعبیر کړو. په دغو ولایتونو کې نورو شاخصونو ته اړتیا لرو. [110]

د راپور درېیمې برخې د دولت او نا دولتي نفوذ یو بل باالقوه شاخص د مالیاتي سیستم په شکل کې وړاندې کړی. دې برخې په لومړي سر کې په دې ټکي ټینګار کړی چې د طالبانو او د تریاکو په کښت باندې د طالبانو له خوا د مالیاتو د راټولونې په اړه " انګېرنې چې په عام ډول منل شوي، ناسمې دي. "[112] راپور د فراه، هلمند او ننګرهار ولایتونو د ځینو ولسوالیو څخه تجربي او مفصل معلومات تهیه کړي چې ښیي د طالبانو له خوا دتریاکو په سر د مالیاتو څخه راټول شوي عواید څومره په ناسم ډول تخمین شوي او په ناسمه میتودولوژۍ تکیه کوي. دې برخې بیا د مالیاتو مختلف ډولونه مستند کړي چې په دریو ولایتونو کې جاري وو او څنګه دغه سیستمونه منځ ته راغلل. په مالیاتي سیستم کې دغه بدلون چې له " ناڅاپي مالیاتو " څخه چې د یاغي ډلو دوامداره حضور نه غواړي د کرنیزو حاصلاتو د لسمې برخې او بیا د ځمکې د اندازې پر بنسټ مالیاتي سیستم ته لوړتیا ښیي ، په دې بدلون کې د یاغي ډلو زیاتیدونکی نفوذ او په یوه ساحه کې له خلکو سره د هغوی د ښکېلتیا څرګندوي.

په څلورمه برخه کې د کوکنارو د کښت او د یاغي ډلو له خوا د مالیاتو د راټولونې په اړه ارقام ذکر شوي دي او د هغو یوه توضیح وړاندې کوي څو په افغانستان کې د امریکایي پوځونو د ارزونې په وړاندې یو بدیل وړاندې کړي. راپور د کنټرول مفهوم نه دی کارولی او د نفوذ د تشخیصولو په غرض یې له ساحې څخه د کوکنارو دکښت د احتمال په اړه له ارقامو او د مالیاتو د صفحه بندي له فن څخه استتفاده کړې ده. دغه میتودولوژۍ په هغو ساحو کې چې حکومت نفوذ یا ډېر نفوذ لري د ځمکې او نفوس په اړه تفصیلی معلومات نه ورکوي.

په پایله کې د یوې تجربوي څېړنې په څېر چې لا تر اوسه هم په نسبي ډول سمون ته اړتیا لري، دغه میتودولوژۍ یو لړ ښېګڼې لري.

110 په دې کې د افغانستان د ملي دفاع او امنیتي ځواکونو لاس رسی شاملیږي چې څنګه دوی په یوه ساحه کې کزمې کوي، یا دا چې کورونو ته بېرته راتلی شي او که نه. د ننګرهار پ جنوبي برخو کې له دې درکه یو عام شکایت کوجود و. دغه راز، په دې کې د حکومتي ښوونځیو موقف ، د نجونو یا د هلکانو ښوونځي چې د شاګردانو پر مخ خلاص وي او د طالبانو له خوا د شاګردانو او ښوونکو څارنه هم شامل وو.

میتودولوژي له ساحې څخه د څېړنې معلومات د GIS له تحلیل سره ګډوي چې د حکومت نفوذ وارزوي. لومړی، د دولت او غیر دولتي عاملینو نفوذ په شاخصونو تکیه کوي چې په ځایي کچه تعریف شوي، تر دې چې د لویدیځې نړۍ د چارواکو په ، ادراکاتو، قضاوتونو او ګټو تکیه وکړي څوک چې ښایي له دې امله یو جانبه واوسي څو له پخوا تعیین شوي هدفونه تر لاسه کړي. دویم، ځینې شاخصونه، لکه د کوکنارو کښت، په ښکاره د تشخیص وړ دي. د سټلایټ تصویرونه د دې کښت د موجودیت عیني ثبوت دی. دریم، د نورو ډېرو شاخصونو په اړه ارقام او معلومات، لکه د راغونډ شویو مالیاتو ډولونه، په نسبي ډول په پراخه جغرافیایي ساحه کې په اسانه سره راټولېدای شي. په پای کې، د GIS تحلیل او نخښې ببلا ببلې ساحې څرګندوي او شننې او نتایج د ولسوالیو په منځ کې په خودسره سرحداتو پورې منحصري نه ګڼې. دغه ډول انحصار په خلکو او ساحه باندې د حکومت د نفوذ په اړه زموږ درک ته یو بل شکل ورکوي.

# اخځلیکونه:


انگر هورن، هاریت. "په افغانستان کې د کوکنارو کښت ډېر شو کله چې د مخدره توکو د تولید ضد مبارزه ناکامه شوه، د ملگرو ملتونو ځرگندونې. "

http://www.independent.co.uk/news/world/middle-East/opium-production-soaring-afghanistan-un-reveals-heroin-drug-narcotic-poppy-fields-a۷۳۷۲۲۲۲.html. ۲۳ October ۲۰۱۲ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷).

"accessed) .https://www.alcis.org/ "Homepage. ۱۹ August ۲۰۱۷)

احمد، عیشار سیمي. "د مسجد او مارکیټ تر منځ: په اوسنی اسلامي نړۍ کې د دولت د ناکامي او جوړونې یوه اقتصادي توضیح. مونتریبال: میک گیل پوهنتون، ۲۰۱۲. "

ایشیا فونډیشن. "افغانستان په ۲۰۱۲ کې: د افغانستان د خلکو سروې. "

http://asiafoundation.org/publication/afghanistan-۲۰۱۲-survey-afghan-people. ۷ December ۲۰۱۲ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷).

بارفیلډ، ټوم. "افغانستان: سیاسي او کلتوري تاریخ. پرنس توم: د پرنس توم پوهنتون چاپ، ۲۰۱۰. "

د بي بي سي خبرونه. "د ایشیا فونډیشن له خوا د افغانانو سروې زیاته بدبیني ځرگدوي. "

http://www.bbc.com/news/world-asia-۱۵۷۳۳۳۲۰. ۱۵ November ۲۰۱۱ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷).

بیرنابې، مونیکا. "د افغاني تحلیل گرانو شبکه: د بادغیس لپاره نوي عسکر ډېر ناوخته؟"

https://www.afghanistan-analysts.org/new-troops-too-late-for-badghis/. ۷ March ۲۰۱۰ (accessed ۲۰ August ۲۰۱۷).

بي جي لیکا، جیلینا. "د افغاني تحلیل گرانو شبکه: غفلت او لېرې والې څنگه یاغیتوب او د کوکنارو کښت ته وده ورکړه: د بادغیس کیسه"

https://www.afghanistan-analysts.org/how-neglect-and-remoteness-bred-insurgency-and-a-poppy-boom-the-story-of-badghis/. ۲۲ February ۲۰۱۷ (accessed ۲۰ August ۲۰۱۷).

بي جي لیکت، جیلینا. "د افغاني تحلیل گرانو شبکه: د یوه کال حاصلات میلان نه جوړوي: په ۲۰۱۵ کې د کوکنارو کښت کم شوی"

https://www.afghanistan-analysts.org/one-years-result-is-not-a-trend-the-۲۰۱۵--opium-cultivation-decrease/. ۱۸ November ۲۰۱۵ (accessed ۲۰ August ۲۰۱۷).. Byrd, William and Payenda, Khalid. "USIP Peace Brief: Afghanistan's Revenue Turnaround in ۲۰۱۵."

بایرډ، ویلیم او پاینده، خالد. "د سولې په اړه د USIP خبر: په ۲۰۱۵ کې د افغانستان د عایداتو زیاتوالی." https://www.usip.org/sites/default/files/۲۰۱۷-۰۲/PB۲۱۹--Revenue-Growth-in-Afghanistan-Continues-Strong-but-Future-Uncertain.pdf. February ۲۰۱۷ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷).

بایرډ، ویلیم او پاینده ، خالد. "د سولې په اړه د USIP خبر: په افغانستان کې د عوایدو زیاتوالی دوام لري خو راتلونکي نا ځرگنده ده." مخ ۸۲

چندرا سيخان، راجو. "اکوچنی امریکا : د افغنستان لپاره په جګړه کې جګړه. نيويارک: الفريډ ای کنوپف، ۲۰۱۲ "

ډي ويجير، فراوکې. "د هاروارډ سي ای ډي د کار اجازه: په افغنستان کې يو توانمند دولت. ابادول

بې له بنسته؟"

https://bsc.cid.harvard.edu/files/bsc/files/۵۹_May.weijer.pdf ۲۰۱۳ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷

احسان، گل احمد. " په افغنستان کې د کوکنارو نوي هڅې د ترياکو حاصلات زياتوالی شي. "

https://iwpr.net/global-voices/could-new-poppy-strain-be-boosting. ۱۲ March ۲۰۱۷ (accessed ۲۰ August ۲۰۱۷).

فاروق ،غلام. "د هلمند په وادي کې د ځمکې د وېش اجتماعي- اقتصادي اړخونه." لیبنان: د بیروت امریکایي پوهنتون، ۱۹۷۵.

فيشتاين، پاول. "په بلخ ولايت کې د سروې په اړه معلومات، مي ۲۰۱۵: د کوکنارو کښت او د کليوالیو معشيت. "

http://www.baag.org.uk/sites/www.baag.org.uk/files/resources/attachments/AREU%۲۰Briefing%۲۰note%۲۰in%۲۰Balkh%۲۰Province%۲۰-%۲۰Opium%۲۰and%۲۰the%۲۰rural%۲۰October ۲۰livelihoods.pdf. ۲۰۱۵ (on accessed ۲۰ August ۲۰۱۷).

فيشتاين، پاول. "ډېرېدونکې ځمکه: په بلخ او بدخشان ولايتونو کې په ۲۰۱۳ کې د کوکنارو کښت"

https://areu.org.af/wp-content/uploads/۲۰۱۲/۰۲/-Poppy-Cultivation-in-Balkh-Badakhshan-Case Study.pdf. February ۲۰۱۴ (accessed ۲۰ August ۲۰۱۷).

فيلباب براون، ويندا فيل باب. "ډېر چټک زياتوالی: د شورشيانو ضد مقاومت او د مخدره توکو سره جګړه واشنټن ډي سي: د بروکينز انستيتوت چاپ، ۲۰۱۰. فيلباب بروان، واندا"

د ترياکو د عادت ترک کول ؟: له ۱۹۸۰ لسيزې څخه راهيسې د افغانستان سياست او د مخدره توکو اقتصاد.

جګړه، امنيت او پرمختګ ۲۰۰۲۱۲۷-۱۴۹، ۲۰۰۲. د افغانستان د اسلامي جمهوريت حکومت. "ملي زيانمنتوب او د خطرونو ارزونه ۲۰۱۱-۲۰۱۲. "

https://www.nytimes.com/۲۰۱۷/۰۲/۰۹/us/politics/us-afghanistan-troops.html. ۹ February ۲۰۱۷ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷).

گليبل ايکو. "مساحبه: کرک ماير، د افغانستان د تحديدونو د مالي سرچينې پخوانی مشر."

https://globalecco.org/en_GB/kirk-meyer-former-director-of-the-afghan-threat-finance-cell. ۲ April ۲۰۱۴ (on accessed ۲۰ August ۲۰۱۷).

گوردون ، ميشايل. "د امريکا متحده ايالاتو جنرال د افغانستان لپاره د څو زرو نورو سرتېرو په لټه کې"

گريفين، ايم. چې څه کرې هغه به رېبې: په افغانستان کې د طالبانو جنبش. لندن: د پلوتو مطبعه، ۲۰۰۱. هوف فينشتاين، جيول. د افغانستان په سرحد کې د ترياکو د يو کال موسم: گيلدفورد: د ليون چاپ خونه، ۲۰۰۷.

هزن، جينيفر. څه شی چې ياغيان غواړي: د جنګ په وخت کې منابع او د تدارکاتو شبکې. ايتاکا: د کرنل پوهنتون چاپ، ۲۰۱۳.

د جنګ د مطالعې انستيتوت. "د افغانستان د تهديدونو ارزونه، نوومبر ۲۲، ۲۰۱۲." /http://www.understandingwar.org

۲۲ sites/default/files/ISW%20Partial%20Threat%20Assessment_1_0.pdf.November%20Afghanistan%20November 2012 (accessed 19 August 2017).

د جنګ او سولې راپورونو انستیتوت. "ایا د کوکنارونو هڅې کولای شي په افغانستان کې د ترياکو حاصلات زيات کړي؟ " ۱۲ مارچ، ۲۰۱۷ ( ۲۰ د اګست، ۲۰۱۷ کتل شوی).

جانسن، روبرټ. "د هلمند د ولايت مديريت: له بوست څخه تر ارګ پورې". د ساحې د مطالعې بين المللي کتنه ۲۰۱۲ ، ۲۷۹، ۱۵.

خامه پرس "۳۳۵ جريبه ځمکه په ننګرهار کې د افغاني ځواکونو له خوا د کوکنارو له کښت څخه پاکه شوه."

https://www.khaama.com/335--acres-of-land-cleared-of-opium-poppy-by-afghan-forces-in-nangarhar-02592. 18 April 2017 (accessed 19 August 2017).

د اوږدې جګړې ژورنال. "افغاني طالبان، ( د مجاهدينو تر کنټرول لاندې د هيواد فيصدي)."

http://www.longwarjournal.org/archives/2017/03/afghan-taliban-lists-percent-of-country-under-the-control-of-mujahideen.php. 28 March 2017 (accessed 19 August 2017).

منزفليد ، ډيويډ. "ستونزه په تحليل کې ده: ياغيانو ته د ننګرهار پرله پسې تسليمېدل"

https://areu.org.af/wp-content/uploads/2016/02/1602E-The-Devil-is-in-the-Details-Nangarhar-continued-decline-into-insurgency.pdf. February 2016 (accessed 19 August 2017).

منزفليد ، ډيويډ. "د ډبرې او سخت ځای تر منځ: د مختدره توکو ضد هڅې او په ننګرهار او هلمند کې د ۲۰۱۰- ۲۰۱۱ کلونو د کوکنارو په موسم د دغو هڅو اغېزې." مخ ۸۹

https://areu.org.af/wp-content/uploads/2016/02/CS-Between-a-Rock-and-a-Hard-Place-1128E-2011.2011 pdf. February 2012 (accessed on 20 August 2017).

منزفليد ، ډيويډ. په شګو ولاړ يو دولت: ترياکو څنګه افغانستان کمزوری کړ. اکسفورډ: اکسفورډ پوهنتون چاپ، ۲۰۱۲.

منزفليد ، ډيويډ. "له بد څخه يې بد تر کړ: د ننګرهار او هلمند د ولايتونو د جګړې په ساحو کې د کوکنارو د کښت تمرکز. " https://areu.org.af/wp-content/uploads/2016/02/CS2-NRM-E-ver-2-2.May pdf. 2014 (accessed 20 August 2017).

منزفليد ، ډيويډ. "په شمال کې رمور دوست: د بدخشان او بلخ په ولايتونو کې د ځواک او کوکنارو د تصويرونو مقايسه ."

http://www.davidmansfield.org/home/docs/field/58.pdf. 8 April 2014 (accessed 20 August 2017).

منزفليد ، ډيويډ. "خبر پاڼه ۷: په جنوبي افغانستان کې ماليات."

http://www.davidmansfield.org/home/docs/field/52.March pdf. 2013 (accessed on 20 August 2017)

منزفليد ، ډيويډ. "د ننګرهار او غور کې د کوکنارو کښت".

https://areu.org.af/archives/publication/232. December 2007, (accessed 20 August 2017).

منزفلید ، ډیویډ. "منفور یا غربت؟ په ۲۰۰۴ -۲۰۰۵ کلونو په موسم کې په ننگرهار ولایت کې د کوکنارو په کښت بندښت او په کلیوالي سیموکې د معشیت په ستراتیژیو د هغه اغېزې."

August ۲۰ accessed) ۲۰۰۵ http://www.akha.org/upload/documents/gtzreportopiumban.pdf. June .(۲۰۱۷

منزفلید ، ډیویډ. "په افغانستان کې د کوکنارو په کښت د طالبانو له خوا د بندښت اغېزې."

.(۲۰۱۷ August ۱۹ accessed) ۲۰۰۱ May ۲۵ .pdf.۵/http://www.davidmansfield.org/home/docs/field

منزفلید ، ډیویډ او فیشتاین، پول. "۲۰۱۲ کال له وخت سره یو ځای تګ: د کوکنارو کښت څنګه د چاپېریال سره بدلون وموند."

.(۲۰۱۷ August ۲۰ accessed) ۲۰۱۲ .pdf.۷۲/http://www.davidmansfield.org/home/docs/field

مارتین، مایک. مارتین، ایم. یوه پټه جګړه: د هلمند د جګړې شفاهي تاریخ لندن هرست او کمپنۍ لمیټډ ، ۲۰۱۴. "

مشعل، مجیب. "له طالبانو سره په نوساني جګړه کې په نیول شویو ولسوالیو کې تلفات. "

۲۰۱۷ August ۷ .world/asia/afghanistan-taliban-taiwara.html/۰۷/۰۸/۲۰۱۷/https://www.nytimes.com Mccoy, Alfred. The Politics of Heroin: CIA Complicity in the Global Drug .(۲۰۱۷ August ۱۹ accessed) .۱۹۹۱ ,Trade (Revised edition). Chicago: Lawrence Hill Books

مکوی، الفرید. د هیروینو سیاست: د مخدره توکو په جهاني تجارت کې د سي آی ای ښکېلتیا ( بیا کتل شوی چاپ). شیکاګو: لارینس هل بوکس، ۱۹۹۱.

مور، میک. "د جبر او قرارداد تر منځ: د حکومتولي او مالیاتو په اړه متضاد بیانونه." وګورئ: په پرمختیایي هیوادونو کې مالیات او دولت جوړونه: ظرفیت او قناعت، ایډیټ کوونکي: بروتیګم، فیجل سټاډ او مور. نیویارک: د کمبریج پوهنتون چاپ، ۲۰۰۸.

موخو پآدیای، دیپالي. جنګ سالاران، زورواکي والیان او دولت په افغانستان کې. نیویارک: د کیمبرج پوهنتون چاپ، ۲۰۱۴.

نقوي، زې. ایف. د افغانستان او پاکستان تجارتي اړیکې، اسلام اباد: د نړیوال بانک چاپ، ۱۹۹۹.

پین، ادم. "په کندز او بلخ کې د کوکنارو کښت. " پیټرز، ګریچن. د ترهګرې تخم: هیروین څنګه طالبانو او القاعده ته مالي مرستې برابروي. نیویارک: توماسدن بوکس، ۲۰۰۹.

۲۱۸E-Opium-Cultivation-in-Kunduz-in-Balkh-/۱۲/۲۰۱۵/https://areu.org.af/wp-content/uploads Peters, Gretchen. Seeds of Terror: How Heroin Is .(۲۰۱۷ August ۲۰ accessed) ۲۰۰۷ CS-print.pdf. June ۲۰۰۹ ,Bankrolling the Taliban and Al Qaeda. New York: Thomas Dunn Books

د رویترز خبري ارژانس. "د ایساف مشر په افغانستان کې په ۲۰۰۸ کال کې د مخدره توکو د تجارت پرمختیا ویني."

accessed) ۲۰۰۸ January ۲ .http://www.reuters.com/article/us-afghan-mcneill-idUSSP۴۳۲۴۹۲۰۰۸۰۱۰۲ .(۲۰۱۷ August ۲۰ on

روبن، بارنیت. د افغانستان ټوټه کېدل: په بین المللي سیستم د د دولت رنګېدل. نیو هاون: د ایل د پوهنتون چاپ، ۲۰۰۲.

روبن، نیم. په افغانستان کې د سولې په لټه کې: له بفر دولت څخه تر ناکام دولت پورې. نیو هاون: د ایل پوهنتون چاپ، ۱۹۹۵.

سیګار. "د افغانستان د بیا ودانونې لپاره عمومي اختصاصي مفتش: د امریکې د متحده ایالاتو کانګرس ته درې میاشتنۍ راپور. "

https://www.sigar.mil/pdf/quarterlyreports/۲۰۱۲-۱۰-۳۰qr.pdf. ۳۰ October ۲۰۱۲ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷).

سیګار. "د افغانستان د بیا ودانونې لپاره عمومي اختصاصي مفتش: د امریکې د متحده ایالاتو کانګرس ته درې میاشتنۍ راپور. "

https://www.sigar.mil/pdf/quarterlyreports/۲۰۱۷-۰۷-۳۰qr.pdf. ۳۰ July ۲۰۱۷ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷).

سیګار. "د افغانستان د بیا ودانونې لپاره عمومي اختصاصي مفتش: د امریکې د متحده ایالاتو کانګرس ته درې میاشتنۍ راپور. "

https://www.sigar.mil/pdf/quarterlyreports/۲۰۱۷-۰۴-۳۰qr.pdf. ۳۰ April ۲۰۱۷ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷).

د ثبات د فعالیتونو د اطلاعاتو مرکز. "مرغاب ولسوالی، بادغس ولسوالي، شفاعي ارزونه"

https://info.publicintelligence.net/SOICMurghabAssessment.pdf. ۵ May ۲۰۱۰ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷).

د تولو خبرونه. "په بلخ کې د کوکنارو د کښت په پخېدلو سره اندېښنې زیاتیږي."

http://www.tolonews.com/afghanistan/mass-arrival-%E۲%۸۰%۹۸poppy-harvesters%E۲%۸۰%۹۹-balkh-sparks-concern. ۲ May ۲۰۱۷ (accessed ۲۰ August ۲۰۱۷).

یو این او ډي سي. "افغانستان: د کوکنارو لاندې کښت ټوله ساحه پراختیا مومي." په هیواد کې دوامداره پرمختګ تهدیدوي.

http://www.unodc.org/unodc/en/frontpage/۲۰۱۷/May/afghanistan_-total-area-under-opium-poppy-cultivation-expanding--threatening-sustainable-development-in-the-country.html ۱۹ May ۲۰۱۷ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷).

یو این او ډي سي. "د نړۍ د مخدره توکو راپور ۲۰۱۷: د مخدره توکو ستونزه او سازمان یافته جرمونه، ناقانونه مالي مرستې، فساد او ترهګري."

https://www.unodc.org/wdr۲۰۱۷/field/Booklet_۵_NEXUS.pdf. May ۲۰۱۷ (accessed ۲۰ August ۲۰۱۷).

یو این او ډي سي. "په افغانستان کې د تریاکو سروې ۲۰۱۲. کښت او تولید. "

https://www.unodc.org/documents/crop-monitoring/Afghanistan/Afghanistan_opium_survey_۲۰۱۲_cultivation_production.pdf. December ۲۰۱۲ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷).

یو این او ډي سي. "له شپږو کلو ډېروالي څخه وروسته ، د تریاکو کښت په افغانستان کې ټیټیږي: د UNODC نوې سروې."

http://www.unodc.org/unodc/en/frontpage/۲۰۱۵/October/after-six-years-on-the-rise--afghan-opium-crop-cultivation-declines_-new-unodc-survey.html?ref=fs۱. ۱۴ October ۲۰۱۵ (accessed ۲۰ August ۲۰۱۷).

یو این او ډي سي. "د افغانستان د تریاکو سروې، ۲۰۰۹: اعتیاد، جرم او یاغیتوب: د افغان د تریاکو بین المللي تهدید."

https://www.unodc.org/documents/data-and-analysis/Afghanistan/Afghan_Opium_Trade_۲۰۰۹_web.pdf. ۲۰۰۹ (accessed ۲۰ August ۲۰۱۷).

یو این او ډي سي. "په افغانستان کې د تریاکو سروې ۲۰۰۷"

pdf. October.۲۰۰۷-https://www.unodc.org/documents/crop-monitoring/Afghanistan-Opium-Survey ۲۰۰۷ (۲۰۱۷ August ۱۹ accessed).

یو این او ډي سي. "د کوکنارو د کښت کلنۍ سروې ۱۹۹۹."

یو این او ډي سي. "UNDCP ستراتیژیکي څېړنه :#۵ په افغانستان کې نویو ولسوالیو ته د کوکنار د کښت د پراختیا د پروسې یوه شننه."

یو این او ډي سي. " UNDCP : ستراتیژیکه څېړنه شماره ۴: کار ته لاس رسی: په هلمند ولایت کې د موسمي کارګرانو د معشیت په ستراتیژۍ کې د تریاکو نقش." جون ۱۹۹۹ (کتلې اګست ۲۰۱۷).

د امریکا د متحده ایالاتو د دفاع وزارت. "په افغانستان کې د امنیت او ثبات تقویه کول." https://www.defense.gov/Portals/۱/Documents/pubs/June_۲۰۱۷_۱۲۲۵_Report_to_Congress.pdf. ۱ June ۲۰۱۷ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷).

د امریکا د متحده ایالاتو د دفاع وزارت. "د خبرونو پاڼه: د پینټاګن په خبري ستودیو کې د جنرال نیکلسن له خوا د دفاع وزارت معلومات".

https://www.defense.gov/News/Transcripts/Transcript-View/Article/۱۰۱۹۰۲۹/-department-of-defense-press-briefing-by-general-nicholson-in-the-pentagon-brief. ۲ December ۲۰۱۲ (accessed ۲۰ August ۲۰۱۷).

د امریکا د متحده ایالاتو په صنا مجلس کې د بهرنیو اړیکو کمېټه. "په افغانستان کې د مخدره توکو په ضد جګړه: د مخدره توکو د قاچاکونکو او یاغیانو تر منځ د اړیکو پرېکول.

د اشنا رادیو خبرونه. "ملګري ملتونه: په افغانستان کې د تریاکو تولید ۴۸ ٪ کم شوی دی. "

https://www.voanews.com/a/un-afghan-opium-production-down/۳۰۰۵۲۴۳.html. ۱۴ October ۲۰۱۵ (accessed ۲۰ August ۲۰۱۷).

ویک لیکس " د قلعه نو پي ار تي: د بادغیس والي پلان لري چې د تریاکو له کښت څخه ښه ګټه تر لاسه کړي. "

https://wikileaks.org/plusd/cables/۰۷KABUL۱۵۷۱_a.html. ۹ May ۲۰۰۷ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷).

ویک لیکس "د قلعه نو پي ار تي: د بادغیس ولایت امنیتي وضعې ته یوه کتنه "

https://wikileaks.org/plusd/cables/۰۲KABUL۲۰۹۳_a.html. ۱۰ May ۲۰۰۲ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷).

زیریحې ، یوسف. "طالبان د بتي کوټ په ولسوالی کې د حکومتي ځمکو اجاره ټولوي." ۹۴-

https://www.pajhwok.com/en/۲۰۱۲/۱۰/۲۰/batikot-District-taliban-collect-govt-land-rents?utm_source=twitterfeed&utm_medium=twitter. ۲۰ October ۲۰۱۲ (accessed ۱۹ August ۲۰۱۷).

# د غبرګون او نظرونو غوښتنه

د AREU اداره ډېره لېواله ده چې د دغې څېړنې د کاروونکو نظرونه واوري. که تاسو زموږ د خپرونو یو دوامداره لوستونکي یاست، د AREU لیکچر یا ورکشاپ کې مو ګډون کړی، کتابتون یې کاروئ، یا یوازې په دې وروستیو کې له دغه ادارې سره بلد شوي یاست، ستاسو نظرونه او غبرګون زموږ لپاره ارزښت لري. دغه نظرونه موږ سره مرسته کولی شي چې خپلې موخې په لا ښه ډول لاسته راوړو او د څېړنې په اړه خپلې تګلارې او د پایلو د شریکولو طریقې و ارزوو. د نظرونو شریکولو تر ټولو اسانه لار موږ ته ایمیل کول دي: areu@areu.org.af

یا کولی شئ موږ ته زنګ ووهئ: ۰۰۹۳۷۹۹۲۰۸۵۴۸. تاسو چې هر څه غواړئ موږ ته یې ویلی شئ، خو په ممکنه ډول یو څه ګټور مالومات دا دي:

- تاسو له AREU سره څنګه اړیکه نیسئ (یعنې د خپرونو، غونډو یا نورو لارو)؟
- تاسو د AREU له څېړنو څخه د څه لپاره کار اخلئ؟
- تاسو د AREU خپرونې څنګه لاسته راوړئ؟
- تاسو د څېړنو بریښنایي که چاپ شوی بڼه کاروئ؟
- خپرونې څنګه کولی شي تاسو ته مالومات په لا ښه ډول وړاندې کړي؟
- زموږ د څېړنې د بهیرونو یا پایلو په اړه ستاسو نظرونه؟
- هغه برخې یا موضوع ګانې چې تاسو یې په اړه د څېړنو ترسره کېدو سپارښتنه کوئ؟
- د AREU هغه خپرونې یا فعالیتونه/غونډې چې ستاسو ډېرې خوښېږي؟
- ستاسو په اند موږ په کومو برخو کې خپل کار ښه کولی شو؟
- ستاسو د خوښې یا لېوالتیا ډګر، دنده یا څېړنه، او دغه راز موقعیت؟

# د AREU وروستۍ خپرونې

ټولې خپرونې له www.areu.org.af وېبپاڼې ډاونلوډولی شئ، او ډېر یې په چاپ شوی یا هارډکاپي بڼه په کابل کې د AREU له دفتره هم لاسته راوړلی شئ.

| نیته | د خپرونې نوم | لیکونکي | په دري ژبه لاس ته راتلونکي | په پښتو ژبه لاس ته راتلونکي | د څېړنې موضوع | د خپرونې ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د۲۹۳۱ کال د لړم میاشت | په افغانستان کې د کوچی - بزګر ترمینځ د شخړو څېړنه | داکتر انتونیو ګیستوزي | | | ټولنیز ملاتړ او معیشت | لنډیز |
| د۲۹۳۱ کال د زمری میاشت | په افغانستان کې قضایي بیا کتنه | غزال حارس | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسۍ نوټ |
| د۲۹۳۱ کال د زمری میاشت | په افغانستان کې د اجرائیه قوې تکامل: تیر ته کتنه او راتلونکي لپاره وړاندیزونه | کاوون کاکړ، توماس کریمر، همایون رئوفی | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسۍ نوټ |
| د۲۹۳۱ کال دغبرګولیمیاشت | په افغانستان کېښاري حکومتولۍ: د ښارونو د پراختیایی پروګرام ارزونه | دتلیف کامیر، ذبیح الله عیسی | √ | √ | حکومتولۍ او سیاسي اقتصاد | د پالیسۍ نوټ |
| د۲۹۳۱ کال دغبرګولی میاشت | د کانونو حکومتولۍ: داستخراجی صنعتونو د مالیو اغیزناک مدیریت | جاوید نورانی، نجیب الله زیار | √ | √ | حکومتولۍ او سیاسي اقتصاد | د پالیسۍ نوټ |
| د۲۹۳۱ کال دغبرګولی میاشت | دکډوالۍ حکومتولۍ: په افغانستان کی د مفاهیمو او نهادونو کاری چوکات وده | ولی محمد کنډیوال، هلن سی سی | √ | √ | حکومتولۍ او سیاسي اقتصاد | د پالیسۍ نوټ |
| د ۲۰۱۲ کال د جولای میاشت | په افغانستان کې د ښې حکومتولۍ په اړه د مدني ټولنې ونډه | اورځلا اشرف نعمت او کارن ورنر | √ | √ | مدني ټولنه او حکومتولي | څېړنپاڼه |
| د ۲۰۱۲ کال د جولای میاشت | په افغانستان کې سیمه ییزه حکومتولي | آریا نجات؛ کریستوف ګوستانۍ بصیرفدا او جان کویهلر | | | سیمه ایزه حکومتولي | څېړنپاڼه |
| د ۲۰۱۲ کال د جولای میاشت | خلکوته د حکومت نږدې کول: په افغانستان کې د پلان او بودجې جوړولو غیر متمرکز کول | نعمت الله بیژن؛ فرحت امیل او هارون نایب خیل | | | ولایتی پلان او بودجه جوړول او حکومتولي | څېړنپاڼه |
| د ۲۰۱۲ کال د مې میاشت | د استخراجي سکتور لپاره د حکومتولۍ انډولیز اقدام | جاوید نوراني او لیین دی بروکییر | | | د کانونو کیندنه او حکومتولي | څېړنپاڼه |
| د ۲۰۱۲ کال د مي میاشت | له سرحد څخه پورې خوا د اوبو د سرچینو انکشاف: د افغانستان، ایران او پاکستان ترمنځ د همکارۍ لیدونه کوم دي؟ | وینسنت توماس، مجیب احمد عزیزي او خالد بهزاد | | | د طبیعی منابعو مدیریت | څېړنپاڼه |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۲۰۱۲ کال د مې میاشت | نارینه او «نارینتوب» ته نږدې کتنه: د جنسیت په برابروالي کې د هغوی فعاله ونډه اخیستنه | لیبه ویلفریدا آر ای پیلا نګو، چونه آر ایچاوز، پرویز (طفیل)؟ سید مهدي موسوي | √ | √ | جنسیت | د پالیسۍ یاددښت |
| د ۲۰۱۲ کال د اپریل میاشت | د شګو پربنسټ جوړ شوی دولت: تریاکو افغانستان څنګه کمزوری کړ | دیوید مانسفیلد | | | د طبیعي منابعو مدیریت | کتاب |
| د ۲۰۱۲ کال د اپریل میاشت | د کندهار په ولایت کې د ساحوي کار لنډ یادښت، د ۲۰۱۵ کال له ډسمبر څخه د ۲۰۱۲ کال تر جنوري پورې: تریاک او په کلیو کې معیشیت | پاول فیشتین | √ | √ | د طبیعي منابعو مدیریت | لنډیز |
| د ۲۰۱۲ کال د مارچ میاشت | له آیساف څخه وروسته د افغانستان ملي اردو | انتونیو جیوستوزي او علی محمد علی | | | حکومتولي | معلوماتي سند |
| د ۲۰۱۲ کال د فبروري میاشت | شیطان په جزئیاتو کې ده: په ننګرهار کې یاغیتوب، تاوتریخوالی او په پراخه کچه د مخدره توکو د تولید پرله پسې کمښت | دیوید مانسفیلد | √ | √ | د طبیعي منابعو مدیریت | لنډیز |
| د ۲۰۱۲ کال د فبروري میاشت | په افغانستان کې د زده کړې او روغتیائي خدمتونو د وړاندې کولو سیاسي اقتصاد | AREU | | | حکومتولي او سیاسي اقتصاد | څیړنپاڼه |
| د ۲۰۱۲ کال د جنوري میاشت | په کورنیو کې د اوبو نه خوندیتوب: په افغانستان کې د ښې کرنې لپاره د ځنبلو اوبو ته د پایښت لرونکي لا سرسي بدلون | توماس وینسنت | √ | √ | پایښت لرونکی معیشیت | د بحث لپاره لیکنه |
| د ۲۰۱۲ کال د جنوري میاشت | د جنسیتي نا برابرۍ بل اړخ: په افغانستان کې نارینه او نارینتوب | چونا آر. ایچاویز؛ سید مهدي موسوي، او لیبه ویلفریدا آر ای پیلانګو | √ | √ | جنسیت | څیړنپاڼه |

څيړنې د ښه
افغانستان
لپاره

AREU

ټولې خپرونې په دغه پاڼه کې د راښکته کولو لپاره www.areu.org.af لاس ته راوړی شی.

په کابل کې ددغه ادارې په دفتر کې چاپ شوی کاپیانې هم موجودی دی.


**د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره**

لسمه ناحیه، لومړی سړک، نوی ښار،
کابل، افغانستان

تیلفون: ۹۳(۰)۷۹۹ ۲۰۸ ۵۴۸+

برېښنالیک: publications@areu.org.af

ویب پاڼه: www.areu.org.af



ISBN 978-9936-628-90-8

9 789936 628908